خوږه ژبه

پښتو معاني، بيان، بديع او د شعر ډولونه

عبدالرحيم مسلم دوست

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	: خوږه ژبه
ليکوال	: عبدالرحيم مسلم دوست
شمير	: ۱۰۰۰ ټوکه
د خپرېدو نېټه	: ذوالحجة/ ۱٤۲۱ هـ سپوږمیز، کب/ ۱۳۷۹ هجري لمريز
کمپوزر	: رفيع الله
کمپيوټر	: نصير ليزر کمپيوټر، ۱۲٤ اتاق، دوهم منزل، گل حاجی پلازه، يونيورستی روډ، پېښور، فون: 43861 او 294861 -0320.
چاپځی	: سبا کتابتون، ډهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار، پېښور.
	فون: 2565520 U. P.O.Box# 795
	Emil: nlcc@pes.comsats.net.pk

د کتاب ټول حقوق د ليکوال سره خوندي دي.

پته: G.P.O.Box# 532 پېښور.

ټيلفون: ۸٤٤٤٥٥ -۰۹۱ / 091- 844455.

بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF ACKU

خوږه ژبه

Download From: Aghalibrary.com

دالی

هغو پښتنو ته چې اسلامي احساس لري،
پښتو وايي، پښتو لولي او پښتو ليکي.

لـــړليـــک

ګڼه	سرليک	مخ
۱	**سریزه**	۱
۲	فصاحت	۹
۳	د فصاحت لغوي معنا	۹
٤	د فصاحت اصطلاحي معنا	۱۰
۵	په کلمې کې فصاحت	۱۰
٦	تنافر	۱۰
۷	غرابت	۱۱
۸	د قياس مخالفت	۱۱
۹	په کلام کې فصاحت	۱۲
۱۰	د ترکيب ضعف	۱۲
۱۱	د کلمو تنافر	۱۲
۱۲	تعقيد	۱۳
۱۳	تکرار او د اضافتونو زياتوالی	۱۳
۱٤	په متکلم کې فصاحت	۱۳
۱۵	بلاغت	۱٦
۱٦	د بلاغت لغوی معنا	۱٦
۱۷	د بلاغت اصطلاحي معنا	۱٦
۱۸	په کلام کې بلاغت	۱٦
۱۹	په متکلم کې بلاغت	۱۷
۲۰	**معاني**	۱۹
۲۱	د معاني لغوي معنا	۱۹
۲۲	د معاني اصطلاحي معنا	۱۹
۲۳	د کلام ډولونه	۲۰
۲٤	خبر	۲۰
۲۵	مخاطب سره د خبر وکولو ځرنګوالی	۲۲
۲٦	تأکيد (ټينګار)	۲٤
۲۷	إنشاء	۲۵
۲۸	أمر	۲۷
۲۹	نهی	۲۹
۳۰	إستفهام	۳۱
۳۱	تمني	۳٦
۳۲	نداء	۳۷

ګڼه	سرلیک	مخ
٣٣	مبتدا او خبر	٣٩
٣٤	ذکر او حذف	٤٠
٣٥	د کلام جوړښت	٤٣
٣٦	نوم	٤٤
٣٧	فعل (کړ)	٤٥
٣٨	ضمیر (ګوته‌لک)	٤٦
٣٩	برخیز (ادات)	٤٦
٤٠	د تأکید برخیزونه	٤٧
٤١	د پښتو ځینې نور برخیزونه...	٤٩
٤٢	د تصغیر برخیزونه	٧٠
٤٣	نیمګړي فعلونه	٧٣
٤٤	په حال او نږدې ماضي کې...	٧٣
٤٥	په لیرې ماضي کې...	٧٦
٤٦	د امر او نهی نیمخیزونه	٧٩
٤٧	د راتلونکې...	٧٩
٤٨	فعل او فاعل	٨١
٤٩	مصدر	٨٢
٥٠	مفعول	٨٣
٥١	صفت او موصوف	٨٤
٥٢	ژبدود ته پاملرنه	٨٥
٥٣	مضاف الیه او مضاف	٨٩
٥٤	مطلق او مقید	٩٠
٥٥	وصل او فصل	٩٣
٥٦	ایجاز	٩٥
٥٧	د قصر ایجاز	٩٥
٥٨	د حذف ایجاز	٩٦
٥٩	إطناب	٩٨
٦٠	د إطناب ډولونه	٩٩
٦١	تطویل	١٠١
٦٢	حشو	١٠٢
٦٣	مساوات	١٠٣
٦٤	إلتفات	١٠٣
٦٥	تجاهل العارف	١٠٤
٦٦	قلب (چپه کول)	١٠٥
٦٧	د مضارع په ځای ماضي	١٠٦
٦٨	تغلیب	١٠٦
٦٩	بیان	١٠٧
٧٠	د بیان لغوي معنا	١٠٧
٧١	د بیان اصطلاحي معنا	١٠٧
٧٢	تشبیه	١٠٨
٧٣	د تشبیه بنسټونه	١٠٩
٧٤	د تشبیه برخیزونه	١١٠
٧٥	د تشبیه ډولونه	١١٢
٧٦	لومړی ویش	١١٢
٧٧	حسي تشبیه	١١٢

ګڼه	سرليک	مخ
٧٨	خيالي تشبيه	١١٤
٧٩	وهمي تشبيه	١١٤
٨٠	دوهم ويش	١١٥
٨١	دريم ويش	١١٦
٨٢	ملفوف	١١٦
٨٣	مفروق	١١٦
٨٤	تسويه	١١٧
٨٥	جمعه	١١٧
٨٦	د تشبيه څلورم ويش	١١٨
٨٧	تمثيل تشبيه	١١٨
٨٨	نابېلګيزه تشبيه	١١٩
٨٩	شيندلې تشبيه	١١٩
٩٠	رېښلې تشبيه	١٢٠
٩١	نږدې سپکه تشبيه	١٢٠
٩٢	لرې تشبيه	١٢١
٩٣	د تشبيه پنځم ويش	١٢٢
٩٤	مرسل تشبيه	١٢٢
٩٥	مؤكده تشبيه	١٢٢
٩٦	بليغه تشبيه	١٢٢
٩٧	د تشبيه شپږم ويش	١٢٣
٩٨	ترخنې تشبيه	١٢٣
٩٩	سرچپه تشبيه	١٢٣
١٠٠	د تشبيه ګټې	١٢٤
١٠١	د تشبيه ځينې بېلګې	١٢٤
١٠٢	عېبجنه تشبيه	١٢٥
١٠٣	مجاز	١٢٨
١٠٤	لغوي مفرد مرسل مجاز	١٣٠
١٠٥	د سبب نه مسبب اخيستل	١٣١
١٠٦	د مسبب نه سبب اخيستل	١٣١
١٠٧	د لازم نه ملزوم اخيستل	١٣٢
١٠٨	د ملزوم نه لازم اخيستل	١٣٢
١٠٩	د كل نه جزء اخيستل	١٣٢
١١٠	د جزء نه كل اخيستل	١٣٣
١١١	د آلې نه د هغې اغېزه اخيستل	١٣٣
١١٢	د عام نه خاص اخيستل	١٣٤
١١٣	د خاص نه عام اخيستل	١٣٤
١١٤	د تېرې زمانې له مخې	١٣٤
١١٥	د راتلونكې زمانې له مخې	١٣٥
١١٦	د ظرف نه مظروف اخيستل	١٣٥
١١٧	د مظروف نه ظرف اخيستل	١٣٦
١١٨	د بدل اړيكې	١٣٦
١١٩	د عوض اړيكې	١٣٦
١٢٠	د ګاونډيتوب اړيكې	١٣٦
١٢١	اشتقاقي اړيكې	١٣٧
١٢٢	استعاره	١٣٨

ګڼه	سرليک	مخ
۱۲۳	د استعاري بنسټونه	۱۳۹
۱۲٤	د استعاري لومړی وېش	۱٤۰
۱۲۵	تصريحي استعاره	۱٤۱
۱۲٦	کنايي او خيالي استعاره	۱٤۲
۱۲۷	د استعاري دوهم وېش	۱٤۳
۱۲۸	تحقيقي حسي استعاره	۱٤۳
۱۲۹	تحقيقي عقلي استعاره	۱٤۳
۱۳۰	د استعاري دريم وېش	۱٤٤
۱۳۱	أصليه	۱٤٤
۱۳۲	تصريحي تبعيه	۱٤۵
۱۳۳	کنايي تبعيه	۱٤۵
۱۳٤	د استعاري څلورم وېش	۱٤٦
۱۳۵	عناديه	۱٤٦
۱۳٦	وفاقيه	۱٤٦
۱۳۷	د استعاري پنځم وېش	۱٤۷
۱۳۸	تمليحيه	۱٤۷
۱۳۹	تهکّميه	۱٤۷
۱٤۰	د استعاري شپږم وېش	۱٤۸
۱٤۱	عاميه مبتذله	۱٤۸
۱٤۲	خاصيه غريبه	۱٤۹
۱٤۳	د استعاري اووم وېش	۱٤۹
۱٤٤	مطلقه استعاره	۱۵۰
۱٤۵	مرشحه استعاره	۱۵۰
۱٤٦	مجرده استعاره	۱۵۱
۱٤۷	تمثيلي استعاره	۱۵۱
۱٤۸	مرکب مرسل مجاز	۱۵۳
۱٤۹	کنايه	۱۵٤
۱۵۰	د کنايي لومړی وېش	۱۵۵
۱۵۱	د صفت نه کنايه	۱۵۵
۱۵۲	د موصوف نه کنايه	۱۵٦
۱۵۳	د نسبت نه کنايه	۱۵٦
۱۵٤	د کنايي دوهم وېش	۱۵٦
۱۵۵	نږدې کنايه	۱۵۷
۱۵٦	ليرې کنايه	۱۵۷
۱۵۷	د کنايي دريم وېش	۱۵۸
۱۵۸	تعريض	۱۵۸
۱۵۹	تلويح	۱۵۹
۱٦۰	رمز	۱۵۹
۱٦۱	إيماء	۱٦۰
۱٦۲	محاکات	۱٦۱
۱٦۳	بديع	۱٦۲
۱٦٤	د بديع لغوي معنا	۱٦۲
۱٦۵	د بديع اصطلاحي معنا	۱٦۳
۱٦٦	د بديع ډولونه	۱٦٤
۱٦۷	لفظي صنايع	۱٦٤
۱٦۸	جناس	۱٦٤

گڼه	سرلیک	مخ
۱٦۹	د لفظي جناس ډولونه	۱٦٥
۱۷۰	تام جناس	۱٦٥
۱۷۱	مماثل جناس	۱٦٥
۱۷۲	مستوفي جناس	۱٦٦
۱۷۳	نیمګړی جناس	۱٦٦
۱۷٤	مردوف جناس	۱٦۷
۱۷٥	مکتنف جناس	۱٦۷
۱۷٦	یوستوی مطرف جناس	۱٦۸
۱۷۷	مذیل جناس	۱٦۸
۱۷۸	غبرګ مطرف جناس	۱٦۹
۱۷۹	مضارع جناس	۱٦۹
۱۸۰	لاحق جناس	۱۷۰
۱۸۱	محرف جناس	۱۷۰
۱۸۲	مصحف جناس	۱۷۱
۱۸۳	مرکب جناس	۱۷۱
۱۸٤	مرفو جناس	۱۷۲
۱۸٥	مقرون جناس	۱۷۲
۱۸٦	مفروق جناس	۱۷۳
۱۸۷	مقلوب جناس	۱۷۳
۱۸۸	چپه جناس	۱۷٤
۱۸۹	رد او بدل جناس	۱۷٤
۱۹۰	مستوي جناس	۱۷٥
۱۹۱	تصحیف	۱۷٥
۱۹۲	سجعه	۱۷٦
۱۹۳	مطرف سجعه	۱۷٦
۱۹٤	مرصع سجعه	۱۷۷
۱۹٥	متوازي سجعه	۱۷۷
۱۹٦	ازدواج	۱۷۸
۱۹۷	تشریع	۱۷۸
۱۹۸	ترافق	۱۸۱
۱۹۹	موازنه	۱۸۲
۲۰۰	ترصیع	۱۸۲
۲۰۱	لزوم مالا یلزم	۱۸۲
۲۰۲	دوه اړخیز	۱۸۳
۲۰۳	واز	۱۸٤
۲۰٤	لغز (غیر منقوطه)	۱۸٥
۲۰٥	قبیح او ملیح	۱۸٦
۲۰٦	پوخلي (منقوطه)	۱۸٦
۲۰۷	پاسني (فوقانیه)	۱۸۷
۲۰۸	لاندیني (تحتانیه)	۱۸۸
۲۰۹	تضمین	۱۸۹
۲۱۰	ذوالقافیتین (دوه قافیز)	۱۸۹
۲۱۱	ذو القوافي (باراني)	۱۹۰
۲۱۲	تکرار (غبرګون)	۱۹۲
۲۱۳	سوال او ځواب	۱۹۲
۲۱٤	مربع (څلکوری)	۱۹٥

گڼه	سرلیک	مخ
۲۱۵	تلمیع	۱۹۶
۲۱۶	توشیح	۱۹۷
۲۱۷	د شعر د یوه بیت وبش	۱۹۹
۲۱۸	رد العجز	۲۰۰
۲۱۹	رد العجز علی الصدر	۲۰۱
۲۲۰	رد العجز علی العروض	۲۰۳
۲۲۱	رد العجز علی الإبتداء	۲۰۴
۲۲۲	رد العجز علی الحشو	۲۰۶
۲۲۳	مالا یستحیل بالإنعکاس	۲۰۹
۲۲۴	موازنه	۲۰۹
۲۲۵	اطراد	۲۱۰
۲۲۶	تسمیط	۲۱۱
۲۲۷	انسجام او سهولت	۲۱۱
۲۲۸	إکتفاء	۲۱۲
۲۲۹	معنوي صنایع	۲۱۲
۲۳۰	توریه	۲۱۲
۲۳۱	د توریې دولونه	۲۱۳
۲۳۲	مجرده توریه	۲۱۳
۲۳۳	مرشحه توریه	۲۱۴
۲۳۴	مبینه توریه	۲۱۴
۲۳۵	مهیأه توریه	۲۱۵
۲۳۶	استخدام	۲۱۵
۲۳۷	افتنان	۲۱۶
۲۳۸	استطراد	۲۱۶
۲۳۹	مقابله	۲۱۷
۲۴۰	طباق	۲۱۷
۲۴۱	إرصاد	۲۱۸
۲۴۲	مراعاة النظیر	۲۱۹
۲۴۳	عقلي استدلال	۲۱۹
۲۴۴	ادماج	۲۲۰
۲۴۵	حسن التعلیل	۲۲۱
۲۴۶	مشاکله	۲۲۱
۲۴۷	تجرید	۲۲۲
۲۴۸	لف او نشر	۲۲۲
۲۴۹	مرتب لف او نشر	۲۲۳
۲۵۰	غیر مرتب لف او نشر	۲۲۴
۲۵۱	معکوس لف او نشر	۲۲۴
۲۵۲	مزاوجه	۲۲۵
۲۵۳	جمع	۲۲۶
۲۵۴	تفریق	۲۲۶
۲۵۵	تقسیم	۲۲۷
۲۵۶	تفریق سره جمع	۲۲۷
۲۵۷	جمعي سره تقسیم	۲۲۸
۲۵۸	مغایره	۲۲۸
۲۵۹	مبالغه	۲۲۹
۲۶۰	تبلیغ	۲۲۹

ګڼه	سرليک	مخ
٢٦١	إغراق	٢٢٩
٢٦٢	غلو	٢٣٠
٢٦٣	د غندنې په رنګ کې ستاينه	٢٣٠
٢٦٤	د ستاينې په رنګ کې غندنه	٢٣١
٢٦٥	القول بالموجب	٢٣٢
٢٦٦	توجيه يا محتمل الضدين	٢٣٢
٢٦٧	استتباع	٢٣٣
٢٦٨	سلب او ايجاب	٢٣٣
٢٦٩	د حکمت چار	٢٣٤
٢٧٠	إبداع	٢٣٥
٢٧١	عکس او بدلون	٢٣٧
٢٧٢	رجوع	٢٣٧
٢٧٣	سنجيده توکه	٢٣٨
٢٧٤	تفريع	٢٣٨
٢٧٥	تجاهل العارف	٢٣٩
٢٧٦	معما يا لغز (اړ)	٢٤٠
٢٧٧	د ابجدو حساب	٢٤٢
٢٧٨	د ابجدو اړونه	٢٤٣
٢٧٩	تلميح	٢٤٧
٢٨٠	تخلص	٢٤٧
٢٨١	براعة الإستهلال	٢٤٨
٢٨٢	براعة الطلب	٢٤٩
٢٨٣	براعة المقطع	٢٥٠
٢٨٤	حاضر جوابي	٢٥١
٢٨٥	طنز	٢٥٢
٢٨٦	مزاحيه	٢٥٤
٢٨٧	شعري غلاوې	٢٥٥
٢٨٨	نسخه	٢٥٦
٢٨٩	کټ مټ	٢٥٦
٢٩٠	ورته	٢٥٧
٢٩١	سرچپه	٢٥٧
٢٩٢	مسخه	٢٥٨
٢٩٣	ممدوح	٢٥٨
٢٩٤	مساوي	٢٥٩
٢٩٥	مذموم	٢٦٠
٢٩٦	سلخه	٢٦٠
٢٩٧	ممدوح	٢٦١
٢٩٨	مساوي	٢٦١
٢٩٩	مذموم	٢٦٢
٣٠٠	توارد	٢٦٣
٣٠١	اقتباس	٢٦٤
٣٠٢	عقد	٢٦٤
٣٠٣	حل	٢٦٥
٣٠٤	تضمين	٢٦٥
٣٠٥	**د پښتو شعر دولونه**	**٢٦٦**
٣٠٦	لومړی: غروضي شعرونه	٢٦٧

ګڼه	سرلیک	مخ
۳۰۷	حمد	۲۶۸
۳۰۸	مناجات	۲۷۰
۳۰۹	نعت	۲۷۳
۳۱۰	مرثیه (ویرنه)	۲۷۵
۳۱۱	مدحه (ستاینه)	۲۷۷
۳۱۲	هجو (غندنه)	۲۷۹
۳۱۳	ویاړنه	۲۸۰
۳۱۴	حماسي شعر	۲۸۲
۳۱۵	د جوړښت له مخې	۲۸۳
۳۱۶	غزل نسیب او تشبیب	۲۸۳
۳۱۷	د بند ترجیع	۲۸۶
۳۱۸	د بند ترکیب	۲۸۷
۳۱۹	مثنوي (دوه ییز)	۲۸۹
۳۲۰	مثلث (دریيز)	۲۹۰
۳۲۱	مربع (څلوریز)	۲۹۱
۳۲۲	مخمس (پنځیز)	۲۹۳
۳۲۳	مسدس (شپږیز)	۲۹۴
۳۲۴	مسبع (اوه ییز)	۲۹۵
۳۲۵	مثمن (اته ییز)	۲۹۶
۳۲۶	متسع (نهه ییز)	۲۹۷
۳۲۷	معشر (لسیز)	۲۹۸
۳۲۸	رباعي (څلوریزه)	۲۹۹
۳۲۹	قطعه (پارکی)	۳۰۰
۳۳۰	بولله (قصیده)	۳۰۳
۳۳۱	مستزاد	۳۰۶
۳۳۲	آزاد نظم	۳۰۷
۳۳۳	معرئ (لغړ) نظم	۳۱۱
۳۳۴	دوهم: ملي شعرونه	۳۱۲
۳۳۵	لنډۍ	۳۱۳
۳۳۶	بدله یا چاربیته	۳۱۹
۳۳۷	لوبه او بګتۍ	۳۲٤
۳۳۸	غاړې یا نارې	۳۲۶
۳۳۹	نیمکۍ، سروکی او ټپکی	۳۲۸
۳٤۰	کیسه، حکایت او داستان	۳۲۹
۳٤۱	نامه	۳۳۱
۳٤۲	دیوان	۳۳۵
۳٤۳	کلیات	۳۳۶
۳٤٤	هایکو	۳۳۷
۳٤۵	**د شاعر دولونه**	**۳۳۸**
۳٤۶	**پای**	**۳۳۹**

PROPERTY OF ACKU 12119

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

الحمد للّٰه الذی خلق الانسان علمه البیان و الصلاة و السلام علی من أرسل بجوامع الکلم فبلغ الرسالة و أدی الأمانة محمد و علی آله و اصحابه الذین ساروا علی نهجه القویم. أما بعد:

انسان له نورو حیواناتو څخه په عقل او علم جلا کېږي، عقل د علم لپاره وسیله ده، د عقل مظاهر حواس دي، علم په زده کړه کېږي، زده کړه په افهام او تفهیم سره کېږي، د افهام او تفهیم لپاره ښه آله او وسیله خبرې دي خبرې د خولې په مخارجو (وتوځایو) سره کېږي؛ په مخارجو کې مهم او اساسي رول د ژبې دی چې انسان پرې مختلف غږونه ادا کوي، د دې غږونو له ترکیب او تألیف څخه کلمې او لفظونه جوړېږي، د کلمو له یو ځای کولو څخه کلام او جمله جوړېږي، دې جملې او کلام ته خبرې ویل کېږي او دا خبرې په ژبې او لغت سره یادېږي. څرنګه چې کائنات او موجودات ګڼ او مختلف دي نو د دې لپاره چې هریو وپېژنو او یو له بله یې توپیر وکړو، نومونه یې هم جلا جلا دي، چې جمادات، مائعات، غازونه، هواګانې... پکې شامل دي، ځینې ذي روح (ژوندي) دي او ځینې بې روحه دي، ځینې ذوی العقول (د عقل والا) دي او

ځینې غیر ذوي العقول دي...

د کائناتو په دې ګڼې ګوڼې کې د انسانانو د افهام او تفهیم لپاره ژبې پیدا شوې دي د وخت په تېرېدو سره هرې ژبې پرمختګ کړی دی. د ژبو د سم لوستلو لپاره بنسټونه، ژېدودونه او قوانین جوړ شوي دي، کله چې یوه ژبه روغه وي او د ډول ډول لاملونو له کبله تاواني شوې او یا ړنګه شوې نه وي بلکه په لومړني فطري حالت پاتې وي. د هغې خپلو ویونکو لپاره د دې قوانینو اړتیا کمه لیدل کېږي په هره ټولنه کې چې څوک زېږي او لویږي هغه ژبه په اورېدلو او ویلو زده کوي، د بېلګې په توګه: یو ماشوم چې کله په خبرو راشي او افهام او تفهیم وکولای شي هغه وایي: بابا راغی، ابی راغله. هغه مذکر او مؤنث نه پېژني خو په خبرو کې یې خپله توپیر کوي. ژبدود او ژبنیو قوانینو ته په درې صورتونو کې زیاته اړتیا لیدل کېږي:

۱ - هغه وخت چې ژبه ګډه وډه شوې وي او د ړنګېدو او تغیر ویره یې وي.

۲ - د یوې ژبې ادیبانو او د ادبي ارزښتونو رابرسېره کوونکو ته د دې زیاته اړتیا ده چې د هغې ژبې په ټولو ژبنیو بنسټونو پوه وي.

۳ - کله چې پردی ژبه زده کوي نو د هغې ژبې ژبدودونه او بنسټونه به اورمرو زده کوي.

د دې لپاره چې انسانان سره وپېژني، د نړۍ په ابادۍ او د علومو په استنباط او ترویج کې زیات ابتکارات، انکشافات او اختراعات منځ ته راشي، الله تعالی انسانان په مختلفو پرګنیو، قبیلو، پښو، خېلونو او

قومونو ویشلي دي او جلا جلا ژبې او لغتونه یې ورکړي دي چې د هر چا لپاره د جلا شخصیت او تشخص لامل گرځېدلی دی.

هره ژبه دوه ډوله ژبدودونه او ممیزات لري:

۱- هغه چې د نورو ژبو سره مشترک وي.

۲- هغه چې د یوې ژبې ځانگړي وي او په نورو ژبو کې نه وي.

دا یوه فطري غریزه ده چې د هرې ژبې ویونکي په خپله ژبه ویاړي، اند پکښې کوي، خوبونه پکښې گوري، پرې ښه پوهېږي هغه تعبیر او د زړه او ذهن ترجماني چې په خپله ژبه یې کولای شي په پردۍ ژبه یې نه شي کولای، نو له همدې امله هر څوک غواړي چې د هغه ژبې ته خدمت وشي، او دا د تحسین، تقدیر او ستاینې کار دی، یوې ژبې ته کارکول هغه وخت د غندنې وړ وي چې نورې ژبې یا د هغې ویونکي یواځې د ژبې له امله سپک وگڼل شي، وغندل شي، تېری پرې وشي او حقوق یې تلف شي؛ که دا نه وي نو د هرې ژبې ویونکي دا حق لري چې خپلې ژبې ته خدمت وکړي او له حقوقو څخه یې دفاع وکړي.

نو زه هم د فطرت له دې پنځونې څخه جلا او مستثنا نه یم چې وغواړم خپلې ژبې (پښتو) ته خدمت وکړم.

اگر چې له ما څخه مخکې ډېرو نومیالیو پښتو ژبې ته د یادونې او قدر وړ خدمتونه کړي دي او کوي یې خو خدمت کې هڅه او هاند هیڅکله پای نه لري؛ زه هم غواړم هڅه وکړم چې په دې خدمت کې د وس مناسب ونډه واخلم.

په دې وروستیو کې ځینو ښاغلیو په شعوري او غیر شعوري توګه هڅه وکړه چې پښتو ته د خدمت په نامه د هر څه په پښتو کولو کې افراط وکړي او خپله ټوله توجه یې همدې خواته ورکړې ده چې هر څه په کولو را ایستلو او تکلف وژباړي او پېچلي، نامأنوس او نامألوف نوموونه پرې کښېږدي او ځینو خو لا دومره افراط کړی دی چې په دیني شعائرو او ارزښتونو پورې یې ملنډې وهلې دي.

ځینې نور بیا دومره تفریط کې واقع شوي دي چې پښتو یې بېخي شاته غورځولې ده او د پښتو مألوف، اسان او روان لغتونه پرېږدي او پردي لغتونه استعمالوي، پرې وياړي او حتی په ساده پښتو شرمېږي او ځینې خو لا د اعتدال د پولو نه دومره تېر شوي دي چې په خپلو لیکنو کې د پردیو لغتونو د زیات استعمال له أمله که یو کال وروسته خپله لیکنه وګوري نو پرې نه پوهېږي او دې ته اړتیا پېښېږي چې کومه ډکشنري او قاموس ورپسې وګوري.

زما په اند که څوک غواړي چې یوې ژبې ته خدمت وشي او ژبه پرمختګ وکړي، لاندې مواردو ته په پاملرنه کیدای شي:

١ - د ژبې لرغوني ادبي ارزښتونه دې رابرسېره شي.

٢ - د ژبې او ژبویونکو ناوړه دودونه دې اصلاح شي.

٣ - لغتونه، متلونه، شعر او نثر دې را ټول شي او جلا جلا قاموسونه، موسوعات او معاجم دې پکښې ولیکل شي.

٤- زیات او معیاري لیکل دې پکښې وشي.

٥- له نورو ژبو نه دې ارزښتناک آثار ورته را وژباړل شي.

٦- دا ژبه او د دې ادبي ارزښتونه دې نورو ژبو ته وژباړل شي.

٧- د خپرونې ټولې وسیلې لکه، ورځپاڼې، مجلې، راډیو، ټیلویژن، کمپیوټر، انټرنټ... دې د دې ژبې په خپرولو کې په کار راوستل شي.

٨- نوي اسان، روان، مألوف او مأنوس لغتونه دې پکښې را زرغون او مروج شي.

٩- پردي عام فهمه، مألوف او مأنوس لغتونه دې پکښې پرېښودل شي ځکه چې هغه د دې ژبې یوه برخه ګڼل کېږي او د ډېر استعمال له کبله مشترک ګرځېدلي دي.

١٠- دیني ارزښتونو ته دې پوره پاملرنه وشي، له ژبې څخه دې جلا و نه ګڼل شي او را ودې ژباړل شي.

١١- د لرغوني او معیاري استعمال په بنسټ دې ژبدودونه، قوانین او ضوابط ورته کېښودل شي.

١٢- له نورو ژبو سره دې پرتله شي او له مشترکو ارزښتونو څخه دې یې ګټه پورته شي.

١٣- د ژبویونکیو اقتصادي ودې (تجارت، صنعت، زراعت له مځکنیو زېرمو څخه ګټه اخیستلو، صادراتو...) ته دې پاملرنه وشي.

١٤- رکود او جمود دې پکښې نه وي او تل دې د رغنده اصلاح، نوښت

او ابتکار جوګه وي.

۱۵- د ژبپوهنکیو رسمي او تعلیمي ژبه دې شي او تعلیم (ښوونې) ته دې پکښې زیاته وده ورکول شي.

۱٦- حکومتي سرپرستي دې ولري او سیاسي حقونه دې یې ترلاسه شي.

۱۷- د ژبپوهانو یو شامل کتونکی پلاوی دې ولري چې تل د ژبې او ژبپوهنکیو سره کلک اړیکي ولري او پورتنیو مادو ته د عمل جامه ور واغوندي.

هره ژبه د معنا او تأدیې له مخې توپیر لري، ځینې خبره خوږه، څرګنده او اغېزناکه او ځینې ترخه، مبهمه او پېچلې وي.

د دې لپاره چې د ژبې له معنا او تأدیې نه عیوب لیرې شي، خوږه، اغیزناکه او څرګنده شي، ژبپوهانو ځینې قوانین او بنسټونه ایښې دي چې زده کړې پورې اړه لري او د معاني او بیان علم بلل کیږي چې شعر او نثر دواړو ته شامل دي.

د پښتو د صرفي او نحوي بنسټونو په هکله ډیرو پوهانو ډېر څه لیکلي دي او لیکي یې؛ که موږ ته فرصت میسر شو په راتلونکي کښې به موږ هم إنشاء الله د جهد المقل په حیث پکښې برخه واخلو او یو ژبښود به ولیکو.

په دې بحث کې موږ د پښتو معاني، بیان، بدیع او د شعر ځینې اړخونه څېړو او دا په دوه ډوله دي:

۱- هغه چې د پښتو، عربي او نورو ژبو ترمنځ د ژبو د فطري جوړښت له

املېيو شان او مشترک دي.

۲ - هغه چې د پښتو ځانګړتیاوې ګڼل کېږي.

په دې کتاب کې چې د ببلګو په توګه کوم شعرونه راوړل شوي دي که د نورو شاعرانو دي نومونه يې په خپل خپل ځای کې یاد شوي دي او له کومو سره چې نوم نشته هغه د راقم الحروف دي. (پرته له لنډیو ځکه چې د لنډیو شاعر معلوم نه وي) اګر چې ما ته دا ښه برېښېده چې ګرد مثالونه او ببلګې د نورو پخوانیو او اوسنیو شاعرانو وای خو دا کار څه ناڅه ستغ او پېچلی ؤ ځکه چې زیاتې پلټنې ته پکښې اړتیا وه په تېره بیا د بدایعو صنایعو په بحث او انتخاب کې د پلټنې ډېرې ستړیا او سرګردانی ته اړتیاوه نو د اسانی لپاره مو په اکثرو مواردو کې خپل مات ګوډ شعرونه د ببلګې په توګه وړاندې کړي دي.

او هڅه مو کړې ده چې هر مفهوم او صنعت لږ ترلږه یوه ببلګه ولري، په ځینو ځایو کې مو ځینو مفاهیمو ته د پښتو نوي نومونه ایښي دي او ځینې نور مو له دې وېرې پرې ایښي دي چې پېچلي او بې خونده نه شي.

اګر چې له ما څخه مخکې ځینو ښاغلیو د پښتو بیان او بدیع په هکله لیکنې کړي دي او په خپل وخت او خپل ځای کښې د قدر وړ دي خو هیڅ لیکنه له نیمګړتیاوو خالي نه وي، زه هم خپله لیکنه له نیمګړتیاوو خالي نه بولم خو د ومره ارومرو ویلای شم چې د دې او له دې نه مخکنیو لیکنو ترمنځ توپیر شته چې د کمیت او کیفیت کچ يې زه د هغو لوستونکیو پرېکړې ته پرېږدم چې د دې او نورو لیکنو پر تلیزه مطالعه وکړي.

په دې وروستیو کې ځینې خلک د معلوماتو د نیمګړتیا له امله د معانیو، بیان او بدیع علم ته پاملرنه نه کوي او ښه ورته نه بریښي خو دا خبره صحیح نه ده او په دې علومو پوهه ډېره زیاته ګټوره ده.

که مونږ د مخکنیو نومیالیو لکه: عبدالرحمن بابا، خوشحال ختک، عبدالحمید بابا او نورو د کتابونو ژورد مطالعه وکړو دا به راته جوته شي چې هغوی له دې علومو څه څومره ګټه پورته کړې ده!؟

په وروستنیو کې هم د مشهورو شاعرانو کلام له دې څخه خالي نه دی، نو په کار دا ده چې لیکوالان او شاعران له دې علومو سره اشنا وي ترڅو ترې ګټه پورته کړي.

د معاني، بیان او بدیع بنسټونه په هرې ژبې کې شته څه نسبي توپیر اورمرو لري خو اساسي بنسټونه د ډیرو ژبو تر ډیره حده یو شان دي د ژبې څرګندوالی، خوږوالی، د معنا تحسین او ښکلا په دوه ډوله ده:

۱- هغه چې د لفظ سره اړیکي لري.

۲- هغه چې د معنا سره اړیکي لري.

د لفظ سره چې اړیکي لري «فصاحت» بلل کیږي.

او د معنا سره چې اړیکي لري «بلاغت» بلل کیږي.

د دې لپاره چې ښکلې، څرګندې او د وخت او موقع سره برابرې خبرې وپیژنو باید چې «فصاحت» او «بلاغت» وپیژنو.

فصاحت

د فصاحت لغوي معنا:

فصاحت د عربي ژبې کلمه ده او مصدر دی ماضي یې فَصُحَ او مضارع یې يَفصُحُ راځي په لغت کې څرګندوالي، وضاحت او ښکاره کېدو ته ویل کېږي.

فصاحت لرونکي سړي ته فصیح ویل کېږي مذکر جَمع یې فُصحاء، فِصاح او فُصُح ده او مؤنث یې فصیحة دی، مؤنث جمع یې فِصاح او فصائح ده، فصاحت د شخص، ژبې او خبرې درې واړو صفت کېدای شي.

لکه: فصیح سړی، فصیحه ښځه، فصیحه ژبه او فصیح کلام یا فصیحه خبره او وینا. په کومه ورځ چې اسمان شین وي او څه وریځ او ګرد نه وي نو هغې ته یوم فصیح او یوم فِصح ویل کېږي.

د لنګې ورګه چې کله ختم شي او خالص شېدې شي نو عرب وایي:

«أفصح اللبن» شېدې خالص او څرګندې شوې همدا رنګه کله چې له شېدو څخه زګ لیرې شي نو وایي: فَصُحَ اللبن او مُفصِح او فصیح هم ورته ویل کېږي. مېږه، اوزه یا اوښه چې کله لنګه شي، ورګه یې ختم شي او خالص شېدې پیل شي نو وایي: افصحت الشاة یا فصحت الناقة، عرب وایي: افصح

الصبح سبا ځرگند شو، هر شی چې ځرگند، واضح او خالص وي هغه ته فصیح ویل کېږي.

د فصاحت اصطلاحي معنا:

فصاحت په کلمه، کلام او متکلم درې واړو کې راځي چې د هریو د په پېژندلو سره یې اصطلاحي معنا ځرگندېږي.

١- په کلمه (مفرد) کې فصاحت:

په مفرد یا کلمه کې فصاحت دا دی چې غږونه یا توري یې له درې عیبونو څخه خالي وي:

(الف) تنافر.

(ب) غرابت.

(ج) د قیاس مخالفت.

١- تنافر: داسې غږونو ته ویل کېږي چې په ژبه سخت او درانده وي او په غوږونو هم درانده لگي لکه:

گروه مې هغه لرغوني دی
اوس هم کروړ په لرغونه یم

تــورانـــی دښـــــــمن چـــې وايـــي
زه لـــه گـــــــروهـــه پـــه آړد يــم(۱)

۲- غرابت: داسې نا اشنا، وحشي، نامأنوسو او نامألوفو کلمو او الفاظو ته ويل کېږي چې يا ډېرې معناوې ولري او يوې خواته هم څه قرينه او نخښه نه وي او يا لغوي پلټنې ته اړتيا پېښېږي.

لکه:

چې له برمه يې زمري رپي ځنگلو کې
له اوکو به يې ډاري تيرو جبار(۲)

۳- د قياس مخالفت: دې ته ويل کېږي چې د ژبې د قانون او ژبدود نه خلاف وي.

لکه:

لاړ د ځوانې لاړ د ځوانی په هوسونو کې
حال د زړه به وايمه ساړه ساړه آهونو کې(۳)

دلته «ساړه ساړه» که د آهونو صفت وي نو سړو سړو به کارېږ او د بل شي صفت هم سم نه راځي.

۱- پټه خزانه: ۷۲- ۷۴
۲- پټه خزانه: ٤.
۳- سپينې خبرې: ۷٤.

۲- په کلام کې فصاحت:

په کلام یا جملې کې فصاحت دا دی چې له څلورو عیبونو څخه خالي وي:

(الف) د ترکیب ضعف.

(ب) د کلمو تنافر.

(ج) تعقید.

(د) د تکرار او اضافتونو زیاتوالی.

۱- د ترکیب ضعف: دا دی چې د ژبې د صرفي او نحوي بنسټونو نه مخالف وي.

لکه:

دا قطعه به مطو له وه حنانه
د اشنای له غمه نه یم زه او زګاره[۱]

دلته میرزا حنان مذکر دی او «اوزګاره» د مؤنث لپاره راغي نو ترکیب ناسم دی.

۲- د کلمو تنافر: د هغو کلمو استعمال دی چې په ژبه سختې او درندې وي او په غوږونو هم درندې لګي.

لکه:

۱- د میرزا حنان بارکزي دیوان: ۲۳٤.

دایـې تـور داسـې در وهـوي
زه مـؤمـن سـتـاسـې په تله یم (۱)

۳- تعقید: په خبرو کې داسې پېچلتیا او غوټه وي چې معنا یې څرګنده نه وي او زیاتې پلټنې ته یې اړتیا پېښېږي.

لکه:

په ویرژلو لورنه کـړې په زړه کـړه یه
پـرنـتـلـیـو اوروې د غـم نـا تـار

***

هغـه غـور په ویرنا تار د واکـمن کښیـوست
هغـه غـورشـو د جـاندم غـوندې سـوراړ (۲)

٤- تکرار او د اضافتونو زیاتوالی:

لکه: ستاسو د باغ د ختیځ لور ته د دیوال د کوز سر د پښتې د خوا سره د زلمي د ماما د ځوی د کتابونو د بکسې تسمه پرته ود.

۳- په متکلم (وینا کوونکي) کې فصاحت:

په متکلم کې فصاحت دا دی چې: داسې ځواک او ملکه ولري چې د خپل مقصود نه پرې څرګند تعبیر وکړای شي او د دې مثال په لیکلو کې نه راځي

۱- پټه خزانه: ۷٤.
۲- پټه خزانه: ٤۲.

بلکه د اورېدلو پورې اړه لري لکه چې متکلم تنتنی نه وي. بند بند نه کېږي او ځرګنده روانه او بې تکلفه وینا وکړای شي.

او دا د اورېدلو پورې اړه لري په لیکلو کې نه راځي. فصاحت د ژبې د تلفظ سره تعلق لري چې په کلمه، کلام او متکلم دری واړو کې مخکې ځرګند شو.

د بیان او معانیو کتابونو کې د فصاحت په تعریف کې د نورو شروطو په ترڅ کې د تنافر الحروف او تنافر الکلمات د نشتوالي شرط هم لګېدلی دی چې بیا یې معنا داسې کوي: په ژبه سخت او دراندہ توري او الفاظ یکې نه وي لکه مخکې مو چې وویل. ځینو صاحبانو د تنافر نه د نظافت او اخلاقو کرکه اخیستې او مثال کې یې د خوشحال ختک دا بیت راوړی چې:

لږ خوراک تنکی کولمې بویه د ښځې
نر هغه چې ډیر خوراک کا ډېرې خړې

یا د عبدالرحمن بابا دا بیت یې راوړی:

چې هنر ګــــنې یاري د زوره ورو
زد رحـــمان کــومــه بول په دا هنر

لکن دا صحیح نه ده په دې دواړو بیتونو کې هیڅ تنافر نشته ځکه چې تنافر نه مقصد لغوي تنافر او کرکه ده نظافتي او اخلاقي تنافر مطلب نه دی (خړې) او (بول) اګر چې د نظافت په لحاظ د کرکې وړ الفاظ دي خو لغوي تنافر نه لري او د فصاحت خلاف نه دي ځکه چې روان، په ژبه اسان او مفهوم

يې څرگند دئ کله کله يو شی ناولی او د کرکې وړ وي او ډير لاندې او بې کاره وي خو لغوي تنافر نه لري او يو بل شی به ډېر معزز ، اوچت او شريف وي خو نسبي لغوي تنافر به لري لکه: (خر) او (پړانگ) د خر کلمه نسبت پړانگ ته افصحه ده ځکه چې په ژبه ډېره اسانه او روانه ده او نسبت خر ته د پړانگ کلمه په ژبه سخته ده اگر چې د نظافت او شرافت په لحاظ خر پړانگ سره نه پرتله کيږي او پړانگ پرې ښه دی.

بلاغت

د بلاغت لغوي معنا :

بلاغت د عربي ژبې يوه كلمه ده او مصدر دى ماضي يې بَلُغَ او مضارع يې يَبلُغُ ده لغوي معنا يې ښه والي او كره والي ته رسيدل ده چې د ژبې په عبارت د زړه تل ته ورسيږي. بلاغت لرونكى سړى « بليغ » بلل كيږي جمع يې « بُلَغَاء » ده مؤنث يې « بَليغة » دى جمع يې « بِلاغ » او « بلائغ » دد ، وينا ته بليغه وينا ويل كيږي او كلام ته « بليغ » ويل كيږي.

د بلاغت اصطلاحي معنا :

په اصطلاح كې بلاغت هغو فصيحو خبرو ته ويل كيږي چې د حال ، مقام او موقع د مقتضا او غوښتنو سره موافق او مناسبې وي او بلاغت په كلام او متكلم كې وي.

۱ – په كلام كې بلاغت:

په كلام كې بلاغت دې ته ويل كيږي چې:

(الف) د ژبې د قوانينو مخالفت پكې نه وي.

(ب) په معنا کې سختې او درندې خبرې پکې نه وي.

(ج) داسې خبرې پکې نه وي چې معنا یې څرګنده نه وي او یا د مقام او حال سره مناسبې نه وي.

(د) پېچلې خبرې پکې نه وي

۲- په متکلم کې بلاغت:

په متکلم کې بلاغت داد ی چې: داسې ځواک او ملکه ولري چې بلیغې خبرې را ټولې کړي او زړه پورې تألیف او ترکیب ورکړي او د حال او مقام سره مناسب یې استعمال کړي.

د مخکنیو تعریفونو څخه څرګنده شوه چې فصاحت د لفظ پورې اړه لري او بلاغت د لفظ او معنٰی دواړو پورې اړه لري او د دې دواړو منځ کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی نو هر بلیغ فصیح دی او هر فصیح بلیغ نه دی بلکه ځینې فصیح، فصیح او بلیغ دواړه وي او ځینې یې فصیح وي خو بلیغ نه وي.

نو د معانیو او بیان په اعتبار کلام ته فصیح او بلیغ ویل کیدای شي.

پښتنو لیکوالانو او أدیبانو کې ځینو صاحبانو بدیع د بلاغت یوه نوعه ګڼلې ده خو دا خبره صحیح نه ده بلکه بدیع یو خارجي شی دی چې د کلام د ښکلا او خایست پورې اړه لري چې تفصیل به یې وروسته راشي.

او د دی لپاره چې کلام بلیغ او ښکلی شي د ځانګړیو بنسټونو

پیژندلو ته اړتیا ده.

مونږ په دې بحث کې د پښتو ژبې معاني، بیان او بدیع څرګند

د څرګندې معنا او د تحسین د أدا علم په درې ډوله دی:

۱- د معاني علم.

۲- د بیان علم.

۳- د بدیع علم.

معاني

د معاني لغوي معنا:

معاني جمع دە او مفرد يې معنا دی معنا په لغت کې څرګندولو، اسانولو، د يو شي انجام او اخر، او مقصد ته ويل کيږي.

د معاني اصطلاحی معنا:

په اصطلاح کې معاني هغه علم دی چې د هغه په واسطه متکلم خپله خبره په داسې انداز کې وکړي چې کومه معنايې مطلوبه وي هغه څرګنده شي او اوريدونکی د معنا په استنباط کې خطا نه شي بلکه د خبرې نه هماغه معنا واخلي کومه چې د متکلم مراد وي. د بېلګې په توګه:

ذکي او بيدار مخاطب سره لنډې او د مطلب خبرې په کار وي او زيات تفصيل او اوږدولو ته اړتيا نه پېښيږي، خو غبي او ناپوه لپاره تفصيلي او اوږدو خبرو ته اړتيا ليدل کيږي نو که همداسې وشول دا د حال او مقام د مقتضا مطابق خبرې دي او بليغې دي که د دې خلاف وشول نو د حال او مقام د مقتضا خلاف دي او بليغې خبرې نه دي.

د کلام ډولونه

د حکم په اعتبار کلام په دوه ډوله دی:

۱- خبر.

۲- انشاء.

۱- خبر

خبر هغه کلام یا خبروته ویل کېږي چې د اثبات یا نفې حکم پرې شوی وي او په یوه وخت کې د رېښتیا او دروغو احتمال لري. لکه: احمد راغی، گل نواز ناروغ دی، شین گل نه ځي.

خبر د ډېرو غرضونو او گټو لپاره ویل کېږي چې په سالم عقل او ذوق سره پېژندل کېږي او ځینې یې په لاندې توگه یا دوو:

۱- د ناخبر خبرول: لکه یو نا خبره شخص ته ووایې: کابل د افغانستان پلازمېنه ده.

۲- د تساهل، غفلت او سستی مخنیوی: کله حبر د دی لپاره وي چې متکلم مخاطب ته دا ښایي چې زه هم خبریم. لکه یو زوی خپل پلار ته د خپل بریالیتوب حال نه وي ویلای او پلار یې له بلې لیارې خبر شوی

وي او خپل زوی ته وايي: ته بریالی شوی يې.

۳- د مهرباني غوښتنه: لکه چې يو څوک وايي: ای ربه زه ستا مهرباني ته محتاج يم.

٤- هڅونه: لکه: عالم او جاهل برابر نه دي.

٥- د عاجزۍ څرگندونه: لکه: ای ربه زه بوډا او کمزوری يم.

٦- د افسوس څرگندونه: لکه: د يوه سړي د تاوان نه خلک خبروي خو هغه وايي: ما تاوان کړی دی.

۷- د خوښۍ څرگندونه: لکه: گرمي ولاړه، هوا ښه شوه.

۸- توبيخ اور ټنه: لکه: خلک سپوږمۍ ته وختل، ته لا ويده يې!

۹- د توپير څرگندونه: لکه: تور او سپين برابر نه دي.

۱۰- ويرول: لکه: د دروا غو عواقب ډېر بد دي.

۱۱- فخر: لکه: زه پښتون يم.

۱۲- ستاينه: لکه: ستا خو اخلاقو په ما ډېره ښه اغيزه کړې ده.

۱۳- غندنه: لکه: روسان په افغانستان باندې د يرغل له امله د لوي جرم مرتکب شوي دي. او داسې نور.

مخاطب سره د خبرو کولو څرنګوالی

څرنګه چې د خبرو نه مقصد د مخاطب پوهول وي نو خبرې کوونکی باید د مخاطب په حالاتو داسې ځان پوه کړي لکه ډاکټر چې د ناروغ تشخيص کوي، بيا مناسب دارو ورکوي.

خبرې باید د حاجت او ضرورت په اندازه وي نه دومره زياتې اوږدې وي چې هسې بې ګټې وخت ضائع کړي او نه دومره لنډې وي چې غرض افاده نه شي کړای او مخاطب پرې و نه پوهيږي.

مخاطب په درې ډوله دی:

۱- تش ذهنی.

۲- متردد.

۳- منکر.

او خبر هم په درې ډوله دی:

۱- ابتدائي.

۲- طلبي.

۳- انکاري.

۱- تش ذهنی يا خالي الذهن: هغه چا ته ويل کيږي چې د خبر په هکله

هیڅ معلومات نه لري او نا خبره وي په دې صورت کې تأکید ته هیڅ حاجت نشته نو په خبرو کې باید د تأکید توري استعمال نه شي لکه یو ناخبر شخص ته وایې:

الف: أحمد د محمود ورور دی.

ب: جلال آباد د ننګرهار مرکز دی.

دې ډول خبر ته (ابتدائي) ویل کېږي، او دا ځکه چې مخاطب سر د په دې هکله مخکې هیڅ سوچ نه وي.

۲- متردد: هغه چا ته ویل کېږي چې د یوه خبر په هکله شکمن وي او غواړي چې باور یې راشي، نو په دې وخت کې باید په کلام کې د تاکید توري استعمال شي. لکه:

الف: زه ارومرو تاسره مرسته کوم.

ب: زه هیڅکله ستا خلاف نه کوم.

دې ډول خبر ته (طلبي) ویل کېږي او دا ځکه چې مخاطب د شک د لېرې کېدو او د باور راتلو په طلب کې وي.

۳- منکر: هغه چا ته ویل کېږي چې د یوه خبر نه منکر وي او د متکلم د نظر سره خلاف ولري په دې وخت کې په خبرو کې زیات تأکید ته ضرورت پېښېږي لکه:

الف: ستا ورور خامخا او ارومرو راځي!.

PROPERTY OF ACKU 12119

ب: و اللّه چې ماستا پوښتنه کړې ده!.

دې ډول خبر ته (انکاري) ویل کېږي او دا ځکه چې مخاطب منکر وي د هغه د قناعت لپاره زیات تأکید ته ضرورت وي.

نو متکلم چې کله دا درې ډوله مخاطب و پیژني او د هغه د تشخیص نه وروسته ورسره د خبر د درې ډولونو نه یو استعمال کړي دا د حال او مقام د مقتضا مطابق خبره شوه او بلیغه شوه او دا کار د معاني د علم په واسطه وشو.

تأکید (ټینګار)

تأکید یا ټینګار په خبرو کې د دریځ د کلکوالي، څرګندونې، ښکلا، مبالغې او ژبدود لپاره راوړل کېږي.

پښتو کې تأکید په درې ډوله راځي:

۱- تکرار (غبرګول).

۲- غبرګیز.

۳- د تأکید برخیزونه.

اول- تکرار (غبرګول): لکه: مه مه یا: کوه کوه.

دویم- غبرګیز: چې په دوه ډوله دی:

۱- پرتلیز غبرګیز: چې د هر لفظ، کلمې او برخیز اول توری غور ځېږي او

په ځای یې «م» راوړل کېږي لکه: کتاب متاب، قلم ملم، دېوال مېوال، سړی مړی، ډوډۍ موډۍ... چې د هرې کلمې دوهمه، غبرګېز بولو او دا یو داسې بحر دی چې ساحل نه لري خو په هغو لفظونو کې راوړل کېږي چې د سر توری یې «میم» نه وي که د سر توری یې میم وي نو ځینې تکرار بېږي او ځینې سماعي او دودیز غبرګیزونه لري.

۲- دودیز او سماعي غبرګیز: دا هغه غبرګیز وي چې د قاعدې او قانون په بنسټ نه پرتله کېږي بلکه پښتو کې له پخوا نه همداسې اوریدل شوي او راپاتې دي لکه: کوږووږ، سوړ پوړ، یخ پخ، شخ پخ، مال هال... پښتو د تینګار ډېر برخیزونه لري چې وروسته به راشي.

إنشاء

انشاء هغه کلام یا خبرو ته ویل کېږي چې د رښتیا او دروغو احتمال پکې نه وي بلکه په هغې کې چې کوم مطلب نغښتی وي د متکلم د تلفظ نه مخکې نه معلومېږي او د رښتیا یا دروغو حکم پرې نه شي کېدای.

إنشاء په دوه ډوله ده:

۱- طلبي.

۲- غیر طلبي.

د معاني او بلاغت په علم کې غیر طلبي انشاء نه څېړل کېږي ځکه چې غیر طلبي إنشاء أصل کې د خبر نه انشاء ته نقل شوې ده او اجمالي ډولونه یې دا دي:

۱- د مدحې او ذم (ښه او بدستایلو) توري (برخیزونه).

۲- عقود. (د اخیستلو او خرڅولو...) توري (برخیزونه).

۳- د قسم توري (برخیزونه).

٤- د تعجب صیغې.

٥- د رجاء توري (برخیزونه).

د معانیو په علم کې یوازې د طلبي انشاء څخه بحث کېږي.

طلبي انشاء هغه انشاء ده چې متکلم پرې د داسې مطاب غوښتنه کوي چې د هغه په اند د غوښتنې په وخت کې نه وي حاصل شوی.

طلبي انشاء په پنځه ډوله ده:

۱- أمر: (د یوه کار د کولو غوښتنه).

۲- نهی: (د یوه کار د نه کولو غوښتنه).

۳- استفهام: (پوښتنه).

٤- تمني: (ارزو کول).

٥- نداء: (اواز یا غږ کول).

اول- أمر

أمر د يو د کار د کولو غوښتنې ته ويل کېږي. او دا په (١٩) ډوله دی:

١- استعلاء: کله چې أعلی په أدنی (د اوچتې مرتبې والا پر لاندې) الزامي امر وکړي چې مطلب يې د هغه کار په کولو مجبورول وي نو دا أمر استعلاء بلل کېږي لکه الله تعالی چې خپلو بنده ګانو ته امر کوي يا پيغمبر امتيانو ته امر کوي يا آمر مأمور ته امر کوي يا بادار مزدور ته امر کوي.

٢- دعاء: کله چې ادنی أعلی ته امر وکړي دعاء بلل کېږي لکه: ای ربه زمونږ ګناهونه را وبخښه مونږ ته روزي راکړه...

٣- إلتماس: کله چې همزولي يا په مرتبه کې مساوي ته امر وکړي دا أمر التماس بلل کېږي.

٤- إرشاد: هغه امر ته ويل کېږي چې څه لارښوونه پکښې وي لکه: هر کار په کلکه اراده او سره سينه کوئ!.

٥- تهديد: کله چې په يوه أمر کې سختي او زجر وي تهديد بلل کېږي لکه: کوئ کوئ زه به درسره ګورم!.

٦- تعجيز: هغه أمر ته ويل کېږي چې د متکلم اراده د مخاطب پاتې

راتلل وي لکه چې الله تعالی فرمايي: «او که تاسو د هغه کتاب په هکله شک لرئ چې ما په خپل بنده نازل کړی دی نو ددې په څېر يو سورت خو راوړئ...»

۷- **إباحت:** لکه چې الله تعالی فرمايي: «کله چې تاسو (په حج کې د احرام نه) حلال شواست نو ښکار وکړئ!.»

۸- **تسويه (برابرول):** لکه: ته لاړ شه يا مه ځه زه خو ځم!.

۹- **تمني (ارزو کول):** لکه: ای د ازادۍ سبا! را وخېژه!.

۱۰- **إکرام (عزت کول):** لکه: مهرباني وکړه دلته کښېنه!.

۱۱- **دوام:** لکه: د مېلمه احترام کوه!.

۱۲- **إمتنان (د احسان څرګندونه):** لکه يو پلار ځامنو ته وايي: کرئ! ريبئ! او خورئ! ډېره مځکه مې در ته ګټلې ده.

۱۳- **إعتبار:** لکه يو څوک چا ته ورپېژني او أهميت يې ورښيې: دا وپېژنه!.

۱٤- **إهانت (سپکاوی):** لکه يو چا ته وايې: زمری شه! پړانګ شه!، زه دې پروا نه لرم!.

۱۵- **إذن (اجازه ورکول):** لکه چې څوک دروازه ووهي او ورته ووايې: راځه! يا را ننه وځه!.

۱٦- **تعجب:** لکه: وګوره څومره ښه ښکاري!.

۱۷- تکوین (کېدل، جوړېدل او پیداکېدل): لکه چې الله تعالی فرمايي: «وشه یا جوړ شه نو کېږي».

۱۸- تأدیب (ادب ورکول): لکه: خپلې مخې کې خوراک وکړه!، وړه مړی واخله!، ځان پاک کړه!.

۱۹- تخییر (اختیار ورکول): لکه: یا سبق ووایه او یا کار وکړه!.

دوهم: نهی

نهی د یوه کار د نه کولو غوښتنې ته ویل کېږي او دا په ۱٤ ډوله ده:

۱- إستعلاء: کله چې اعلی أدنی له یوه کار نه الزامي منعه کوي چې مطلب یې د هغه کار په نه کولو مجبورول وي دې ته د استعلاء نهی ویل کېږي لکه الله تعالی چې خپل بنده گان، پیغمبر امتیان، آمر مامور، بادار مزدور او پلار زوی منعه کوي.

۲- دعاء: لکه: ای ربه مونږ مه نیسه مونږ په عذاب مه هلاکوه!....

۳- إلتماس: کله چې مساوي منع کړې دا د التماس نهی ده.

٤- إرشاد: کله: چې منعې کې لارښوونه وي ارشاد بلل کېږي لکه: د بد اخلاقو خلکو ملگرتیا مه کوئ!. چې اړتیا ورته نه لرئ هغه کار مه کوئ!.

٥- تأدیب: هغه منع ده چې ادب ورکول پکښې وي لکه: د بل چا مخکې

خوراک مه کوه، چاته کنځل مه کوه!.

٦- تيئيس (نا اُميده کول): لکه چې الله تعالی فرمايي: «عذر مه وړاندې کوئ تاسو د ايمان نه وروسته کفر کړی دی.»

۷- دوام: لکه: «په الله د ناخبره گمان مه کوه!».

۸- د پايلې (نتيجې) بيان: لکه: د رواغ مه وايه رسوا به شې!.

۹- تمني (ارزو کول): لکه: د ځوانۍ عمره!، مه تېرېږه!.

۱۰- تهديد (سختي او زجر): لکه چې آمر مأمور ته وايي: زما مه منه خوند به در کړي!.

۱۱- تحقير (سپک گڼل): لکه: ځان مه ستړی کوه ته دا کار نه شې کولای!.

۱۲- کراهت (نامناسب گڼل): لکه: د سر کونو په غاړو خوراک مه کوئ! د چا سخې ته تو گانې مه تو کوئ!.

۱۳- إئتناس (مينه تسلي او الفت ورکول): لکه: خفه نه شې زه دې ملگری يم!.

۱٤- توبيخ (رټنه): لکه: چې نه يې شې کولای مه يې وايه!.

دريم: إستفهام (پوښتنه)

استفهام پوښتنې ته ويل کېږي او پوښتنه د دې لپاره وي چې مجهول شی معلوم کړي.

پوښتنه کله د غږ او خبرې د لهجې نه څرګندېږي او کله د تورو په واسطه کېږي د پوښتنې برخيزونه دا دي:

۱- «آيا»: د اثبات او نفې د څرګندولو لپاره راځي لکه: آيا کله مو د پسرلي په هکله مقاله ليکلې ده؟!

۲- «کله»: د وخت د څرګندولو لپاره راځي او تفصيل به يې لږ وروسته راشي.

۳- «کوم»:

الف- په متعددو (ګڼو) کې د يوه د تعين (ټاکنې) د څرګندولو لپاره راځي لکه: په ګلانو کې ستا کوم يو خوښ دی؟

ب- د إدعا د څرګندولو لپاره راځي لکه يو څوک ووايي: ماسره قلم شته. او ورته ووايې: کوم دی؟.

٤- «څنګه»: د کيفيت د څرګندولو لپاره راځي لکه: د افغانستان د

ستونزې حل څنګه کېدای شي؟

۵- «څرنګه»: د «څنګه» په ځای راوړل کېږي چې د کیفیت پوښتنل پرې کېږي.

٦- «څه»:

الف- د یو شي حقیقت پرې پوښتل کېږي لکه: دا څه دي؟ یا: دا څه شی دی؟

ب- د «لامل» د څرګندولو لپاره راځي لکه: د څه لپاره هلته تللی وې؟

ج- د «کوم» په معنا راځي لکه: ستا څه شي په کار دی؟

د- د «ولې» په معنا راځي لکه: ستا څه کار ؤ چې داسې دې وکړل؟

هـ- د رټنې او منعه کولو لپاره راځي لکه: ته یې څه کوې؟! (پرې یې بږده).

و- د «پلټنې» لپاره راځي لکه: څه شو؟

۷- «چېرته» یا: «چرته» یا: «چېرې» یا: «چرې»:

الف- د ځای د څرګندولو لپاره راځي لکه: ته چېرته اوسېږې؟

ب- د «استبعاد» (لرې ګڼلو) او تعجب لپاره راځي لکه: چرته للمه او چرته شولې؟!

۸- «څومره»:

الف- د وزن، حجم، مساحت، اندازې، دېروالي او لږوالي د کمیت د څرګندولو لپاره راځي لکه له یوه بزګر نه پوښتنه وکړې چې: سږکال

دي څومره غله لاسته راوړه؟.

۹- «څو»: د عدد (شمېر) د کمیت د څرګندولو لپاره راځي لکه یو شاګرد ته ووایې: ستاسو په ټولګي کښې څو تنه شاګردان دي؟

۱۰- «ولې»:

الف- د دلیل او علت (لامل) د څرګندولو لپاره راځي لکه: ولې دې دا کار وکړ؟ یا ولې داسې نه کوې؟

ب- نفې په اثبات اړوي لکه: آیا دا کار نه کوې؟ جواب: ولې نه؟!.

۱۱- «چا»: د شخص د څرګندولو لپاره راځي چې زیات پرې فاعل پوښتل کېږي لکه: دا کار چا کړی دی؟

۱۲- «څوک»: د شخص د څرګندولو لپاره راځي لکه: دا کار به څوک وکړي؟ یا ته څوک یې؟ هغه څوک دی؟

کله کله پوښتنه د أصلي معنا څخه (چې د مجهول معلومول دي) وځي او د نورو غرضونو لپاره کېږي لکه:

۱- امر: لکه چې الله تعالی فرمایي: «ایا تاسو منع کېږئ؟» (منعه شئ).

۲- نهی (منع کول): لکه: آیا له دښمن نه ډارېږئ؟. (مه ډارېږئ).

۳- نفې (نشتوالی): لکه: آیا له علم نه ښه شی بل شته؟ (نشته).

٤- تسویه (د دواړو خواوو برابري): لکه: که زه لاړ شم او که نه؟ دا کار نه کېږي.

۵- تشویق (هڅونه او رغبت ورکول): لکه: آیا زه تاته یو ښه کار وښایم؟

٦- إنکار: لکه: «آیا په الله کې شک شته؟» بلکه په حقیقت کې نشته او تاسو یې چې کوئ نو بد کوئ.

۷- تقریر (دیوه کار ثابتول): لکه: آیا ما تا سره نیکي نه ده کړې؟.

۸- إستئناس (مینه ورکول او ځان سره پلدول): لکه پلار ماشوم ته وایي: دا څه دي؟ هغه څه دي؟ یا لکه الله تعالی چې موسی علیه السلام ته وویل: «ای موسی ستا په ډې ښي لاس کې څه دي؟»

۹- إستبعاد (لیرې ګڼل): لکه: جنګي ډلې چې تقویه کېږي او وسلې ورکول کېږي څنګه کېدای شي چې له جنګ نه لاس واخلي؟!.

۱۰- تهویل (لوی ګڼل او ویرول): لکه: آیا پوهیږې چې قیامت څه شی دی؟

۱۱- تحقیر (سپک ګڼل): لکه: هغه تا چې راته ډېر یاداوه هغه دا دی؟

۱۲- تعظیم (لوی ګڼل): لکه: روسانو ته له افغانانو پرته چا ماتې ورکولای شوه!؟.

۱۳- تهکم (په استهزاء د چا کار عبث ګڼل): لکه: ستا پوهه همدا وه چې داسې کار دې وکړ!؟.

۱٤- تعجب (اریانتیا): لکه: دا څومره لوی ښار دی او څومره ګڼ خلک دي!؟.

۱۵-استنباط (د خبر او پوهې طلب): لکه: د الله مرسته کله راځي!؟.

۱۶-وعید (ویرول): لکه: «آیا ته نه ګورې چې ستا رب عادیانو سره څه وکړل!؟.

۱۷-په خطا تنبیه (خطا او سهوې ته متوجه کول): لکه: آیا ښه کار پرېږدې او بد کوې!؟.

۱۸-په باطل تنبیه (باطل ته متوجه کول): لکه: آیا ته کڼو ته اورول کولای شې؟ یا ړندو ته لیار ښوولای شې؟.

۱۹-په ګمراهۍ تنبیه: لکه: څوک په خطا لیار روان وي او ورته ووایې: چېرته ځې؟

۲۰-تحسر (افسوس کول): لکه: ولې مې څوک له حاله نه پوښتي؟ زه خو لا دومره خوار نه وم.

۲۱-امتحان (ازموینه): لکه استاذ چې د شاګرد نه پوښتنه کوي.

څلورم- تمني

تمني د داسې يوه محبوب شي غوښتنې ته ويل کېږي چې:

الف- حصول يې هيڅ ممکن نه وي بلکه مستحيل (نه کېدونکی وي) لکه چې يو بوډا ووايي: کاشکې ځوان شم!.

ب- حصول يې مستحيل نه وي بلکه ممکن وي خو ډېر ګران او سخت وي لکه يو بې چاره ووايي: کاشکې باچا شم!. د «تمني» لپاره «کاشکې» کلمه استعمالېږي.

او که د يوه محبوب شي ارزو وکړې خو د حصول اميد يې وي نو دې ته «ترجي» ويل کېږي او د «ترجي» لپاره «کېدای شي» الفاظ استعمالېږي لکه: کېدای شي چې عالم شم. يا: مالدار شم. يا بريالی شم. همدارنګه د «اميد» کلمه هم د «ترجي» لپاره استعمالېدای شي.

لکه: اميد لرم چې الله تعالی به را ته بخښنه وکړي.

پنځم- ندا ء

نـدا ء غـږ او اواز کـولـو تـه و یـل کـېږي چـې مـخـاطـب پرې د ځان خواته را متوجه کېږي.

د ندا ء برخیزونه په درې ډوله دي:

۱- یوائـې «الف» د نوم په اخر کـې راوړل او اوږدول لـکه: بریالـیـا! چې «الف» یې په ږازد خوله اوږدېږي.

۲- د نوم نه مـخـکـې «وا» راوړل او وروسـتـه «الف» راوړل او اوږدول، لکه: وابریالیا!.

۳- د نوم نه مخکې «یا» راوړل او وروسته «الف» لکه: یا بریالیا!.

کله کله ځینې د «الف» نه وروسته «واو» هم راوړي لکه:

الف- بریالیاو!.

ب- وا بریالیاو!.

ج- یا بریالیاو!.

او کله کله ځینې د «ای» کلمه یوائې هم استعمالوي او د مخکنیو جملو سر د یې هم لګوي لکه:

الف- «أی!»

ب- ای انور خانا! ، ای انور خاناو!.

غږ اکثر د لیرې لپاره کېږي خو کله کله نږدې لپاره هم کېږي خو:

۱- اواز پرې نه اوږدېږي.

۲- په اول کې د «وا» او «یا» کلمې نه راوړل کېږي.

۳- په اخر کې «واو» نه راځي.

٤- یوازې د «ای» کلمه ورته راوړل کېږي.

۵- کله ورسره «د» هم په اخر کې زیاتېږي لکه: ای انورد!.

۶- کله یوازې اخر کې «د» ورسره زیاتېږي او «ای» په سر کې نه راوړل کېږي لکه: انوره!.

د مؤنث توپیر:

مخکې چې موکوم غږونه یاد کړل د مذکر لپاره وو د مؤنث (ښځې) لپاره یې توپیر دا دی چې:

الف- په اخر کې د «الف» په ځای «ې» راوړل کېږي او اوږدېږي لکه: زینبې (چې «ې» ډېره اوږدېږي او راښکل کېږي).

ب- د نوم نه مخکې «یا» او وروسته «ې» راوړل کېږي لکه: یازینبې.

ج- د نوم نه مخکې «وا» او وروسته «ې» راوړل کېږي لکه: وازینبې!.

د- د نوم نه مخکې «ای» او وروسته «ې» راوړل کېږي لکه: ای زینبې!.

هـ- د ځینو نومونو د اخري حرف نه مخکې «الف» زیاتېږي لکه: وا ګلالآې!. شیرینآې!.

مبتدا او خبر یا مسند الیه او مسند

مبتدا د خبرې هغه پیل دی چې د هغې په هکله پرېکړه کېږي. او خبر هغه پای دی چې د همدې پرېکړې لامل وي.

بېلګې:

۱- احمد ولاړ دی.

۲- ستوري ډېر دي.

۳- وریځ نشته.

پورتنیو درې جملو کې: «احمد»، «ستوري»، «وریځ» هر یو مبتدا بلل کېږي چې د خبرې پیل پرې شوی دی خو خبره پوره نه دد؛ که مونږ د «احمد» سره «ولاړ دی» یوځای کړو او ووایو: احمد ولاړ دی؛ نو خبره پوره شود او مونږ د یو کار نه خبر شو چې هغه د احمد ولاړ دد. او که یوازې «ستوري» ووایو خبره پوره نه دد او د ستورو په هکله مو کومه پرېکړه نه دد کړې خو که «ډېر دي» ورسره یوځای کړو او ووایو: ستوري ډېر دي. نو خبره پوره شود او مفهوم یې افاده کړ چې د ستورو ډېروالی دی همدارنګه که ووایو: «وریځ» نو

زمونږ ذهن ته د يوه نوم مسمى راځي خو د هغې په هکله کومه پرېکړه نه څرګندېږي خو که «نشته» مو ورسره يوځاى کړه او ومو ويل: «وريځ نشته» نو جمله پوره شوه او مونږ ته يو مفهوم څرګند شو چې د وريځ نشتوالى دى.

د مبتدا او خبر نور نومونه هم شته لکه: «محکوم عليه او محکوم به» يا د معانيو د علم په اصطلاح: «مسند اليه او مسند» يا د منطق په اصطلاح: «موضوع او محمول».

څرنګه چې زمونږ زياتې خبرې په مبتدا او خبر مشتملې دي نو له همدې امله يې د ځينو احوالو او احکامو يادونه کوو:

ذکر او حذف

«ذکر» يادونې ته ويل کېږي او «حذف» غورځونې ته ويل کېږي د يوه معنا لرونکي لفظ يادونه کله ضروري وي او کله کله د يوې قرينې له امله د جملې نه غورځېږي.

هغه ځايونه چې د مبتدا ذکر پکې لازمي دى دا دي:

۱- ټينګار او څرګندونه: لکه: احمد ښه سړى دى، احمد وفادار دى.

۲- په مخاطب رد: لکه يو ملحد ووايي: الله نشته او ته ورته په جواب کې ووايې: الله شته.

۳- کله چې مخاطب په خبره پوه نه شي: نو په دې صورت کې هم بايد

مبتدا او خبر دواړه بیا ذکر شي او پوره جمله تکرار شي.

٤- تلذذ (خوند اخیستل): لکه: الله یو دی، الله زما رب دی.

٥- کله چې اورېدونکی غبي (ړوند مغزی) وي او زرنه پوهېږي.

٦- تعجب: لکه چې یو څوک ووایي: آیا بریالی دا کار کولای شي!؟

جواب کې ووایې: بریالی دا کار کولای شي.

٧- دلیل او اثبات لپاره: لکه چې قاضي د ګواه نه پوښتنه وکړي: آیا احمد ستا په مخکې دا اقرار کړی دی چې د محمود پرې دا حق دی؟

هغه ووایي: هو احمد زما مخکې اقرار کړی دی.

٨- تعظیم (درنښت): لکه: آیا معلم صاحب په ځای دی؟ ځواب کې وویل شي: هو معلم صاحب په ځای دی.

٩- اهانت (سپکاوی): لکه قاضي پوښتنه وکړي: مجرم دا دی؟ په ځواب کې ورته وویل شي: مجرم دا دی.

او هغه ځایونه چې مبتدا پکې حذفېږي دا دي:

١- ځواب: لکه څوک ووایي: احمد څه شو؟ ځواب کې ورته وویل شي: شته. اصل کې جمله داسې وه چې: احمد شته لکن د اختصار لپاره مبتدا (احمد) حذف شوه او یوازې شته وویل شو چې خبر دی.

٢- پتول: لکه ستا او د مخاطب په منځ کې یو څوک معلوم وي. خو یو بل څوک ناست وي او د هغه نه یې نوم پټوې نو ورته ووایې: څه شو؟ هغه ووایي: کور کې دی.

٣- بېړه: د ډېر تلوار او بېړې په وخت کې غواړې چې فرصت له لاسه ورنه کړې نو مبتدا حذف کړې. لکه یو ښکاري د هوسۍ پسې ګرځي او ته ناڅاپي هوسۍ وګورې او ورته ووايې: هاغه دده. په اصل کې داسې وه چې: هوسۍ هاغه دده.

٤- ازموینه: لکه استاذ غواړي چې د شاګرد ویښتیا او توجه معلومه کړي نو ووايي: لمر څخه رڼا اخلي. او مطلب يې دا وی چې: سپوږمۍ له لمر څخه رڼا اخلي.

همدارنګه نور داسې ځایونه هم شته چې مبتدا پکې حذفیږي او دا په سالم ذوق معلومېږي. د «خبر» د ذکر او حذف ځایونه هم په همدې ډول دي.

د کلام جوړښت

جمله یا کلام په جوړښت کې «توکیو» ته اړتیا لري او هغه توکي چې کلام ترې جوړېږي دا دي:

۱- نوم.

۲- فعل.

۳- برخیز یا توری.

په کلام کې چې څو مره لفظونه استعمالېږي د دې درې ډولونو نه به د باندې نه وي ځینې لیکوالان د انګلیسي ګرامر یا کټ مټ پښتو ته ژباړي او د پښتو ګرامر ترې جوړوي او ځینې ورځخه اغېز من شوي وي او دا صحیح نه ده لکه ځینې د کلام توکي شپږ بولي:

نوم، ضمیر، صفت، فعل، قېدونه او ادات. دا سمه ده خو یوائې دا نه. ځکه چې ضمیر، صفت او قېد د اسم عارضي صفتونه دي اسم کله مضمر (پټ) وي او کله ظاهر (ښکاره) وي. کله عام وي، کله خاص وي، کله مقید وي، کله مطلق وي، کله مبتدا وي، کله خبر وي، کله ظرف وي، کله مظروف وي، کله اسم آله وي، کله اسم زمان وي، کله اسم مکان وي، کله اسم تفضیل

وي، کله فاعل وي کله مفعول وي... دا ټول د اسم عارضي صفتونه دي چې کله يو او کله ورته بل پېښېږي.

کله مو چې وويل: کلام له: نوم، فعل او برخيز څخه جوړېږي نو د درې واړو ټولو ډولونو ته شامل شو او د دې اړتيا پاتې نه شوه چې يو يو يې ياد کړو.

د اسم، فعل او توري يا برخيز د ير ډولونه او صفتونه دي چې دلته پرې بحث نه اوږدوو او هغه د «صرف» او «نحوې» د علم سره اړيکي لري چې ان شاء الله يو ځانگړې کتاب به پرې وليکو. دا او داسې نور اړوند بنسټونه به پکې وڅېړو. دلته زمونږ مقصد د معانيو ځينو قواعدو ته لاره اوارول دي نو ځکه صرفي او نحوي څېړنه نه کوو او يوائې په ځينو اشارو بسنه کوو او د هغه څه، يادونه کوو چې زمونږ د بحث پورې اړه لري.

نوم

نوم هغه لفظ دی چې ځانگړې معنا لري او د زمانې سره هېڅ تړاو او اړيکي نه لري.

لکه: ديوال، کتاب، احمد، قلم، غر، هغه، زه، ښه، ډېر، خوښي، خفگان، خوړل، تلل (چې دا دواړه مصدر نوم دي) او داسې نور.

فعل (کړ)

هغه لفظ دی چې ځانګړې معنا لري او د زمانې ښکارندوی وي یعنې تیره شوې، حال او راتلونکې زمانه ښایي پښتو کې ورته «کړ» او «کړنه» هم ویل کېږي او دا په پنځه ډوله دی:

١- تیره زمانه: لکه: لیکلی، خوړلي او داسې نور.

٢- حال: لکه: راغی، لاړ، ولیکل او داسې نور.

٣- راتلونکې زمانه: لکه: لیکي، ځي، ځم، ځو وړو او داسې نور.

٤- امر: لکه: وکړه، ولیکه، وکړئ، راځئ، او داسې نور.

٥- نهی: لکه: مه کوه، مه کوئ، مه ځئ او داسې نور.

ضمير (گوتلک يا گوته لک)

ضمير هغه لفظ دی چې د نوم ځای نيسي او د اوږدوالي او تکرار مخنيوی کوي لکه:

هغه، هغوي، ته، تاسو، زه، مونږ، مې، يې، مو، دې.

برخيز (ويگی يا نيم گړ يا ادات)

د پښتو توري په دوه ډوله دي:

١- د هجا توري يا الف، با تر «ی» پورې.

٢- برخيزونه. او دا هغه لفظونه او توري دي چې نوم او فعل نه دي؛ ځانگړې او مستقله معنا هم نه لري خو کله چې له نورو کلمو سره په ترکيب کې واقع شي نو د خبرو يوه معنا لرونکې برخه تشکيلوي لکه: خو، څخه، که، بې، له او داسې نور.

عربي کې د هجا تورو ته هم حروف ويل کيږي او ځينو برخيزونو ته هم. لکه: من، انی، عن او داسې نور او ځينو برخيزونو ته «ادات» ويل کيږي لکه: د تشبيه ادات او داسې نور.

د دې لپاره چې د هجا او نورو تورو ترمنځ توپیر وشي نو هغه توری چې د کلام په ترکیب کې معنا ولري «برخیز» یې بولو او دا ځکه چې: «برخیز» د کلام یوه معنا لرونکې برخه دد. ځینې ورته «ویګی» وایي او ځینې یې «نیمګړ» بولي.

پښتو ګڼ برخیزونه لري چې ځینې لاحق او ځینې سابق دي ځینې ټاکونکي او ځینې تړونکي او کومکي دي چې د هریو د معنا او په جمله کې د استعمال په ترڅ کې څرګندېږي چې دلته د هریو د خپلې معنا او یا معنا وو سره یادونه کوو او هغه څېړنې څخه تېرېږو چې د صرف او نحوې پورې اړه لري دلته یوازې د معاني اړوند څېړنه کوو:

د تأکید (ټینګار) برخیزونه

پښتو کې د تاکید برخیزونه په لاندې ډول دي:

١- **«خامخا»:** لکه: زه خامخا کورته ځم.

٢- **«اورومرو یا هرومرو»:** لکه: اورومرو دا کار وکړه.

٣- **«ضرور»:** لکه: ضرور ولاړ شه (عربي ده خو پښتو کې استعمالېږي).

٤- **«ببخي»:** لکه: په کورکې خوراکي شیان ببخي نشته.

٥- **«یواځې»:** لکه: یواځې زه دا کار کولای شم.

٦- «**همدا**»: لکه: همدا زه یم چې دی کار ته مې تن ورکړی دی.

٧- «**هیڅ**»: لکه: زه هیڅکله دروا غ نه وایم.

٨- «**قسم اخیستل**»: لکه: والله چې دا کار وکړم یا ونه کړم.

٩- «**بې شکه**»: لکه: الله(ج) بې شکه یو دی.

١٠- «**پام**»: لکه: پام کوه چې دا کار ونه کړې.

١١- «**زخت**»: لکه: زخت ډېر باران وشو، زختې ډېرې اوبه راغلې.

١٢- «**کنه**»: لکه: زه داسې کوم کنه.

١٣- «**خورا**»: لکه: خورا ډېرې اوبه مې وڅښلې.

١٤- «**چور**»: لکه: غنم چور ختم شول.

١٥- «**هر**»: لکه: ښه خوی هر څوک خوښوي.

١٦- «**سوچ**»: لکه: زمری سوچ لېونی دی.

١٧- «**پخپله**»: لکه: زه پخپله دا کار کوم.

١٨- «**هو به هو**»: لکه: زلمی هوبه هو بریالي غوندې دی.

١٩- «**کټ مټ**»: لکه: دا کټ مټ هغه غوندې دی.

٢٠- «**په ځان**»: لکه: دا په ځان هماغه دی.

٢١- «**تک**»: لکه: تک سور، تک شین. (د «ت» په زور کې).

٢٢- «**هډو**»: لکه: هډو نه راځم. (د ښکښنیو پښتنو اصطلاح ده).

٢٣- «**د سره یا له سره**»: لکه: د سره بې چې ونه کړې.

۲٤- «کوربت» (بېخي): لکه: د رېدي خان مومند دې شعر کې:

وې ای سپین ږیریه نور څه غم مه کوه
قوم دې خلاص سو کورېټ ماتم مه کوه(۱)

د پښتو ځینې نور پرخیزونه او معناوې یې

پښتو کښې د هر داسې پرخیزونه شته چې بواځې معنا نه څرګندوي او د خبرو په ترڅ کې د ګنو او مختلفو معانیو لپاره راځي چې په لاندې ډول دي:

۱- «خو»:

الف- د استدراک لپاره راځي لکه: ته راځې خو زه به نه یم.

ب- د تحضیض (تېزولو) او هڅونې لپاره راځي لکه: ته خو یو ځل دا کار وکړه بیا وګوره.

ج- د اصرار او سخت دریځی لپاره راځي لکه: ته دا کار کوې او که نه زه خو یې کوم.

د- د استثناء لپاره راځي لکه: ټول راغلل خو احمد رانه غی.

هـ- د شرط لپاره راځي لکه: د رته وایم خو چا ته به نه وایې.

۲- «او»: د عطف (یوځای کولو) لپاره راځي لکه: زه او ته دواړه انسانان یو.

۱- محمود نامه: ٤۱.

۳- «بیا»:

الف- د عطف او ترتیب لپاره راځي لکه: اول یو بیا دوه بیا درې... دي.

ب- د تکرار لپاره راځي لکه: که غواړې چې درس یاد کړې بیا بیا یې ولوله.

ج- د «وروسته» په معنا راځي لکه: زه بیا راځم. یعنی زه وروسته راځم.

٤- «په»:

الف- د «باندې» په معنی راځي لکه: په کټ کښېنه یعنی کټ باندې کښېنه.

ب- د ظرف برخیز دی د «دننه» په معنا راځي لکه: په منګي کښې اوبه دي.

ج- د دلیل او مطابق په معنا راځي لکه: د هغه په خبره (د هغه د خبرې مطابق).

د- د لامل لپاره راځي لکه: د ګل جان په خبره دا کار مه پرېږده. یعنی د هغه د خبرې له امله دا کار مه پرېږده.

٥- «کې، کښې»: د ظرف برخیز دی چې د زمان او مکان دواړو لپاره راځي د زمان بېلګه لکه: پېښور او جلال آباد په اوړي (دوبي) کې ګرم وي.

د مکان مثال لکه: په کتاب کښې لیک کول ښه کار نه دی.

٦- «د» (په زوره کې): الف- د اختصاص او ملک لپاره راځي لکه: دا

قلم د بريالي دی.

ب- د اضافت لپاره راځي لکه: د احمد کتاب.

ج- د ظرف (لور) د څرګندولو لپاره راځي لکه: د احمد نه مې قلم واخيست

د- د لامل د څرګندولو لپاره راځي لکه: د دې نه دا څرګنده شوه.

هـ- د غايې د پېل لپاره راځي لکه: د دې نه وروسته به کوښښ کوم.

۷- «ته»: الف- د تبليغ (رسولو) لپاره راځي لکه: ما ورته وويل. يعنې خبره مې ور ورسوله.

ب- د «لپاره» په معنا راځي لکه: نا ته مې کتاب واخيست.

يعنې نا لپاره مې کتاب واخيست او په ځينو لهجو کې د «ته» په ځای «له» هم ويل کېږي.

ج- د «باندې» په معنا راځي لکه: محمود ته مې پور دی. يعنې محمود باندې مې پور دی.

د- د ظرف لپاره راځي لکه: ښي خواته، چپ خواته، ونې ته، دېوال ته.

۸- «پاره» چې مخکې ورسره «د» يا «ل» راځي لکه: دپاره يا لپاره.

الف- د اختصاص او ملک لپاره راځي لکه: بريالي لپاره مې څپلې واخيستې.

ب- د تعليل (لامل) لپاره راځي لکه. د دې لپاره کوښښ کوم چې بريالی شم. يعنې له دې امله کوښښ کوم چې بريالی شم.

۹- «سره»:

الف- د مصاحبت (ملگرتيا) لپاره راځي لکه: غمی د خپلو ملگرو سره د جهاد سنگر ته لاړ.

ب- د استدراک او تأسف لپاره راځي لکه: سره له دې چې دېرې خبرې مې ورته وکړې خو پوه نه شو!.

ج- د «يو تربله» په معنا راځي لکه: شين گل او بازمير سره ورونه دي. يعنې يو تر بله ورونه دي.

۱۰- «له»:

الف- د سبب (لامل) لپاره راځي لکه: له دې امله يا له دې کبله.

ب- د مصاحبت (ملگرتيا) لپاره راځي لکه: له هغه سره روان شوم.

ج- د مجاوزت (تېرېدلو) په معنا راځي لکه: له سيند څخه اخوا زمونږ کور دی.

د- د ظرف (لور) او دليل د څرگندولو لپاره راځي لکه: له دې څخه دا څرگنده شوه.

هـ- د غايې د پيل لپاره راځي لکه: له دې وروسته به داسې نه کوم.

و- د (جملې) په معنا راځي لکه: له دې نه دا هم دی يعنې له دی جملې نه.

۱۱- «چې»:

الف- د وخت د ټاکنې لپاره راځي لکه: ته چې راغلې زه نه وم.

ب- د بيان لپاره راځي لکه: ما ورته وويل چې: خلکو سره ښه سلوک

کوه.

ج- د شرط لپاره راځي لکه: څوک چې کوښښ کوي بری مومي.

د- د نتیجې (پایلې) لپاره راځي لکه: زده کړه کوم چې عالم شم.

۱۲- «که»:

الف- د شرط بر خیز دی لکه: که تا راسره ښه وکړل زه به هم درسره ښه وکړم. یعنی زه به په دې شرط درسره ښه وکړم چې ته راسره ښه وکړې.

ب- د برابرۍ او تنوع لپاره راځي لکه: ګل که سور وي که سپین وي او که زیړ، ښکلی وي.

ج- د اختیار لپاره راځي لکه: ستا خوښه چې دا أخلې که دا او که دا.

د- د تردد لپاره راځي لکه: ته ځې او که نه زه خو ځم.

۱۳- «یا»:

الف- د تنوع لپاره راځي لکه: یا ازادي، یا جهاد او یا شهادت.

ب- د مقابلې او بدل په معنا راځي لکه: یا کوښښ وکړه او یا ناکامۍ ته غاړه کښېږده.

ج- د اختیار لپاره راځي لکه: یا دا واخله یا دا او یا دا.

د- د تردد په معنا راځي لکه: یا به راغلی وي او یا نه. او په یوې لهجې کې «لیا» ویل کیږي.

۱٤- «تر»:

الف- د غایې د پای لپاره راځي لکه: د علم او زده کړې وخت له ځانګو نه

تر مرگه دی. او کله کله مخکې ترې «ان» راځي. لکه: ان تر مرگه.

ب- د استمرار او دوام لپاره راځي لکه: تر څو چې ژوندی یم موخې ته د رسېدو کوښښ به کوم.

ج- د (نه) په معنی راځي لکه: منگی تر کټ لاندې ایښی دی.

د- د (کې) په معنا راځي لکه: د جاهل او عالم تر منځ زیات توپیر دی. او دلته د (په) معنا هم ورکوي.

هـ- د پورې په معنا راځي او د شرط معنا هم څرگندوي لکه: تر څو ښندنه نه وي ازادي نشته. یعني څو پورې.

و- د (د) او (له) په معنا راځي لکه: تر تا ځار شم یعني له تا یا د تا نه.

۱۵- «را»:

الف- د (ما) په معنا راځي لکه: را ته یې وویل یعني ما ته یې وویل.

ب- د ځان خوا ته د جلب لپاره راځي لکه: راکړه، راځه، راوړه.

۱٦- «در»:

الف- د مخاطب (تا) په معنا راځي لکه: ما درته وویل یعني ما تا ته وویل.

ب- د مخاطب خوا ته د جلب لپاره راځي لکه: در واخله، در وړه.

۱۷- «ور»:

الف- د غائب (هغه) یا غائبې (هغې) په معنا راځي لکه: ما ورته وویل یعني ما هغه یا هغې ته وویل.

ب- د بل خواته د جلب لپاره راځي لکه: ورکړه، ور وړه، ورشه.

۱۸- «پورې»:

الف- د غايې د پای لپاره راځي لکه: هغې پورې به جنګېږم ترڅو ازادي وګټم.

ب- د (ته) او (باندې) په معنا راځي لکه: احمد پورې مې پور دی يعنی احمد ته يا احمد باندې.

ج- د (سره) په معنا راځي لکه: ډوډۍ مې د شېدو پورې وخوړه يعنی شېدو سره.

د- د (هغې غاړې) په معنا راځي لکه: زمونږ کور د سيند نه پورې دی. يعنی هغې غاړې ته دی.

۱۹- «نه»:

الف- د غايې د پيل لپاره راځي لکه: د کور نه روان شوم.

ب- د مقابلې او بدل په معنا راځي لکه: د جهل نه علم ښه دی.

ج- د (څخه) په معنا راځي لکه: له هغه نه مې پوښتنه وکړه يعنی له هغه څخه.

د- د نفې او انکار برخيز دی چې د (هو) ضد معنا ورکوي. لکه چا ته وواېي: دا کار کوې هغه ځواب کې وواېي: نه. يعنی نه يې کوم.

او قندهاری لهجه کې د (نه) په ځای (يه) ويل کېږي.

۲۰- «څخه»:

الف- د خوا (لورې) په معنا راځي لکه: زه له خپل ځان څخه پوره ډاډ درکوم. يعنى د ځان له لوري او د ځان له پلوه.

ب- د (نه) په معنا راځي لکه: له دښمن څخه مه وېرېږه. يعنى د دښمن نه.

ج- د ځينو پښتنو په لهجه کې د (سره) په معنى راځي لکه: زمونږ کورد جومات څخه دی. يعنى سره دی.

د- د «جملې» (ډلې) په معنا راځي لکه: سيد جمال الدين افغاني د ختيځ له پوهانو څخه يو ستر نابغه ؤ. يعنې د ختيځ د پوهانو په جمله کې.

هـ- د غايې د ښېل لپاره راځي لکه: له روغتون څخه تر پوهنتون پورې دوه کيلومتره لار ده.

۲۱- «نه»: (د نون په زور کي) د نفې او انکار برخيز دی لکه: دا کار نه کوم، احمد نه راځي، باران و نه شو. گرمي نشته.

۲۲- «مه»: (د ميم په زور) «مه» (د ميم په زور کي): د نهی برخيزونه دي چې د نه کولو امر لپاره راځي لکه چې يو څوک د کوم کار نه منع کوې نو ورته وواېې: «مه» يا چاته وواېې، مه کوه، مه راځه.

۲۳- «هو، او، وو، هوکې»: د ايجاب برخيزونه دي چې د اثبات، اعتراف او اقرار په وخت کې ويل کيږي لکه چاته وواېې: درس ته

تللی وي؟ یا: درس وایي؟ یا: احمد راغلی دی؟ چې ځواب مثبت وي نو هو، یا وو او ځینو لهجو کې هوکې ویل کېږي.

٢٤- «ولی نه»: د ایجاب برخیز دی خو د هغه اثبات لپاره راځي چې پوښتنه په نفي شوې وي لکه: احمد خو نه دی راغلی؟ یا نه راځي؟ ځواب کې ووایې: ولی نه. یعنی راغلی دی یا راځي چې د عربي د «بلیٰ» معنا ورکوي.

٢٥- «لکه، غوندې په شان دود ، ډول، څېر»: د تشبیه (ورته والي) برخیزونه دي چې تفصیل یې وروسته راځي.

او «لکه» د مثال او بېلګې په معنا هم راځي لکه په مخکې ټولو مثالونو او بېلګو کې چې مو ولیدل.

٢٦- «پرته»: د استثناء (جلاکولو) برخیز دی چې د «غیر» او «سوا» په معنا راځي لکه: په کلنۍ ازموینه کې له محمود پرته نور ټول محصلین بریالي شول. یعنی له محمود نه غیر یا له محمود نه سوا.

ځیني خلک د «پرته»، «سربېره» او «برسېره» تر منځ توپیر نه کوي او ټول په یوه ډول کې ولي. خو د دې درې واړو ترمنځ توپیر شته چې:

١- «پرته»: د «غیر» او «سوا» په معنا راځي.

٢- «سربېره» د علاوه په معنا راځي.

٣- «برسېره» د «پاسه»، «باندې»، «ښکاره» او « څرګند» په معنا راځي.

۲۷- «نو»: د شرط د ځواب (جزا) لپاره راځي لکه: که زیار مو وویست نو ګټیه به لاس ته راشي.

۲۸- «کله»:

الف- د وخت په معنا راځي لکه: کله چې باران (اوربښت) وشي هوا پاکه شي. یعنی هغه وخت.

ب- د تقلیل (لږوالي) لپاره راځي لکه: زه کله کله د احمد کور ته ځم او دروغ رنځور پوښتنه یې کوم.

ج- د استفهام (پوښتنې) برخیز دی لکه چې مخکې تېر شو.

د- د استبعاد (لیرې ګڼلو) لپاره راځي لکه: زه کله داسې کوم؟!

هـ- د مستحیل (نه کېدونکي) کار لپاره راځي لکه یو بوډا و وایي: ځواني کله بیا راځي!؟.

۲۹- **«کاشکې»:** د تمني برخیز دی د أفسوس، حسرت او پښېمانتیا لپاره راځي؛ که ماضي لپاره استعمال شوی ؤ د پښېمانتیا معنا ورکوي لکه: کاشکې مې دا کار کړی وای.

او که مستقبل (راتلونکي وخت) لپاره استعمال شوی ؤ نو د ارزو معنا ورکوي لکه: کاشکې مسلمانان متحد شي؛ «دریغه» او «ارمان» هم د کاشکې غوندې دي خو دریغه یواځې د افسوس معنا ورکوي.

۳۰- «ځنګه»:

الف- د پوښتنې برخیز دی لکه مخکې چې تیر شو.

ب- د «هغه وخت» یا «کله» په معنا راځي لکه: څنګه چې هوسۍ را ښکاره شوه دز مې پرې وکړ. یعنی هغه وخت یا کله چې هوسۍ را ښکاره شوه.

۳۱- «څرنګه»:

الف- د پوښتنې برخیز دی لکه مخکې چې تېر شو.

ب- د لامل لپاره راځي لکه: څرنګه چې د هندوستان او پاکستان ترمنځ حالات ترینګلي دي، سوداګر هم ډاډمن نه ښکاري.

۳۲- «چرته، چېرته، چېرې، چرې»: (بېلې بېلې لهجې دي).

الف- د پوښتنې توري دي لکه مخکې چې تېر شو.

ب- د «کله» په معنا راځي لکه: که چرته راغلې زما پوښتنه وکړه. یعنی که کله راغلې.

ج- د احتمال لپاره راځي لکه: چرته باران و نه شي!؟.

۳۳- «وای»:

الف- په وجود (شته والي) باندې د حکم کولو لپاره راځي لکه: که کوښښ مو کړی وای بریالي شوي به واست.

ب- په عدم (نشتوالي) باندې د حکم کولو لپاره راځي لکه: که او به نه وای ژوند به نه ؤ. او په دې دواړو کې د هېلې معنا هم ورکوي.

۳٤- «کنه»:

الف- د ټینګار لپاره راځي لکه چې مخکې تیر شو.

ب- د تصدیق د غوښتنې لپاره راځي لکه چې یوه خبره وکړي او بل چا نه د دې غوښتنه کوي چې د ګواه په حیث ستا تصدیق وکړي نو ورته وایي: «کنه» هغه وایي: هو یا نه.

ج- د تعجب (اریانتیا) لپاره راځي اواز پرې لږ اوږدیږي او د «ښه» معنا ورکوي چې د «نه» ضد دی.

۳۵- «هکله»: د «باره» او «په حق کې» معنا ورکوي لکه: استاذ شاګردانو ته د ښو اخلاقو په هکله توصیه وکړه.

۳۶- «به»: د راتلونکي زمانې توری دی چې:

الف- د استعجال (تلوار) لپاره راځي لکه: زه به لاړ شم.

ب- د دوام لپاره راځي لکه: بیا به داسې نه کوم.

ج- د رټنې لپاره راځي لکه: داسې به دې نه کول. یا: بیا به داسې نه کوې.

۳۷- «لا»:

الف- د «تراوسه» په معنا راځي لکه:

لا خو مې روح له تنه تللی نه دی
غلیمه څنګه دې امید شو پیدا!؟

ب- د انتقال او ترقۍ لپاره راځي لکه: وهل لاڅه چې وژنم دې.

ج- د استبعاد او حسرت لپاره راځي لکه: مونږ په انتظار ستړي شو ته به لا راځې!

د- د «نور» په معنا راځي لکه څوک وايي: څومره ډېر کار دې کړی دی. په ځواب کې وايې: لا خو به يې کوم.

۳۸- «بې»: د استثناء برخيز دی لکه د خوشحال په دې بيت کې:

بې زحمته راحت نشته زما وروره
که راحت غواړې زحمت د رلره بويه

۳۹- «څومره»:

الف- د پوښتنې برخيز دی لکه چې تير شو.

ب- د شرط لپاره راځي لکه: څومره چې ښه کوې هغومره به ښه مومې.

ج- د تعجب لپاره راځي لکه: اوداود څومره ډېر!.

د- د تحسين لپاره راځي لکه: څومره ښه!.

٤٠- «هغومره، هومره، اومره»: (مختلفې لهجې دي).

الف- د شرط د جزا (ځواب) لپاره راځي لکه چې لږ مخکې (۳۹- ب) کې تير شو.

ب- د «ترهغې» په معنا راځي لکه: چې ما درته ځواب نه وي درلېږلی اومره مه راځه.

ج- د مقدار او کميت (څومره والي) لپاره راځي لکه: ما چې گومان کاوه هغومره نه ؤ.

٤١- «دومره»: د مقدار او کميت د څرگندولو لپاره راځي لکه: دومره وړه چې په وس دې پوره وي. يا چاته د يوه شي اندازه ښايي او په

لاسونو اشاره وکړې یا یو ظرف یا اندازه ورته وښایې چې: دومره.

٤٢- «هر»:

الف- د ټول په معنا راځي لکه: هرشی اللّه پیدا کړی دی. یعنی ټول شیان. چې دلته د تأکید معنا هم ورکوي.

ب- د «هغه» په معنا راځي لکه: هر کله چې اذان وشي لمونځ به کوو. یعنی هغه وخت.

ج- د مبالغې لپاره راځي لکه: هرڅومره چې ځان ستړی کړې نه کېږي.

٤٣- «څو»:

الف- د پوښتنې برخیز دی لکه چې مخکې تیر شو.

ب- د «کوم وخت» په معنا راځي لکه: ترڅو به داکړاوونه ګالو!؟.

ج- د غایې د پای لپاره راځي لکه: مخکنی ښېلګه.

د- د شرط لپاره راځي لکه: ترڅو چې زیار و نه باسو پرمختګ نه شو کولای.

٤٤- «ځکه»: د علت (لامل) د څرګندولو لپاره راځي لکه: کوښښ ځکه کوم چې بریالی شم.

٤٥- «پر»: د «باندې» په معنا راځي لکه: کتاب پر مېز ایښی دی. یعنی مېز باندی یا میز د پاسه.

٤٦- «ښه» یا د قندهار په اصطلاح «شه»: د منلو او اطاعت برخیز دی. لکه چې څوک ووایي: دا کار وکړه. په ځواب کې ورته ووایې: «ښه»

یا «شه» یعنې ستا خبره مې ومنله او دا کار کوم.

٤٧- «ز» د «ما» او «موږ»: سره چې سرکې یو ځای شي د ملکیت او اضافت معنا ورکوي لکه: زما کتاب، زموږ کور.

٤٨- «س» د «تا» او «تاسو» سره چې سرکې یو ځای شي د ملکیت او اضافت معنا ورکوي لکه: ستا قلم، ستاسو کلی.

٤٩- «ېږي»: د صفت او ځینو مصدرونو په اخر کې راځي چې کله لام او کله ورسره مخکې توری د مصدر نه غورځوي؛ دواړو (صفت او مصدر) نه د مضارع (حال او راتلونکې) فعل جوړوي؛ کله مطلق وي او کله کله د استمرار معنا ورکوي چې د سیاق او سباق او برخیزونو نه څرګندېږي.

لکه: لویېږي، غځېږي، شرمېږي، کېږي.

٥٠- «و»:

الف- د امر لپاره راځي لکه: وکړه، ووایه، ومینځه، ولیکه، وشړه.

ب- د اخبار لپاره راځي لکه: ویې کړ، ویې نه کړ، ودرېده وغړېده، وخوړل شو، و نه خوړل شو، ووهل شو، وشو، و به یې کړي، و به شي و به نه شي.

٥١- «لره»:

الف- د «ته» په معنا راځي لکه: هغه لره مې قلم ورکړ.

ب- د «لپاره» په معنا راځي لکه د خوشحال په دې بيت کې:

بې زحمتـه راحت نشتـه زمـا وروره
کـه راحت غـواړې زحـمت درلره بويه

٥٢- «نا» د نفي په معنا راځي لکه: ناکاره، ناخوښ، ناروغ.

٥٣- «هم» د عطف برخيـز دی لکه: قلم هم واخله کتـاب هم واخله او کوښښ هم وکړه.

٥٤- «پسې»:

الف- د وروسته په معنا راځي لکه: د لمانځه پسې کورته راشه.

ب- د عطف بـرخيز دی او د بيا پـه معنا راځي لکه: د اودس پسې لمونځ دی د لمانځه پسې، ډوډۍ ده، د ډوډۍ پسې کار دی او د کار پسې خوب دی.

٥٥- «گنې» يا «گوندې»:

الف- د احتمـال او اميد لپاره د «کيدای شي» په معـنا راځي لکه: زه د سپين گل کورته ځم گنې راغلی وي.

ب- د «لکه چې» په معنا د مخاطب د گومان د ردولو لپاره راځي لکه: زه گوندې نه پوهيږم؟

ج- د «که نه» په معنا راځي لکه: زه او زگار نه يم گنې ما به کړې وای.

٥٦- «هی هی»: د افسوس او حسرت لپاره راځي لکه: هی هی دا څه

وشو!؟.

٥٧- «اخ»، «وخ»:

الف- د مفاجات (نابېرتيا) سره د حسرت لپاره راځي لکه: اخ دا څه وشو!؟.

ب- د درد او غم معنا هم ورکوي لکه چې څوک دردمند شي او ووايي «اخ يا وخ».

٥٨-« ويش»:

الف- د نابېره ظاهري (ښکاره) درد د څرګندولو لپاره راځي او يوائې ويل کېږي لکه: ويش يا ويش ويش.

ب- د چا په حال د معنوي دردېدلو د احساس د څرګندولو لپاره راځي او يوائې ويل کېږي.

٥٩- «وی وی»: د درد په وخت کې ويل کېږي.

٦٠- «أف» (د همزې په پېښن سره):

الف- د درد او سوي په وخت کې ويل کېږي.

ب- د افسوس او حسرت په وخت کې ويل کېږي.

٦١- «واوا، وه وه، واه واه، آها»: د تحسين او خوښۍ د څرګندولو لپاره راځي او يوائې ويل کېږي.

٦٢- «يره»:

الف- د تنبيه لپاره راځي لکه: يره چې دا احمد به چرته تللی وي؟.

ب- د پښېمانتيا او رجوع لپاره راځي لکه:

چا سره هېڅکله ښېګړه نه کړم
يره کوم يې پرېږده څه به وشي

٦٣- «اوه اوه»: د تعجب او اريانتيا سره د يوه شي يا يوه کار د ېر ګڼلو لپاره راځي لکه چې ډېرې اوبه يا لوى سېلاو وګورې او ووايې: «اوه اوه» (واو اوږد ويل کېږي).

٦٤- «اوهو»: د حسرت او پښېمانه کولو لپاره راځي لکه: اوهو دا دې څه وکړل.

٦٥- «ايله»:

الف- د لږ ګڼلو لپاره راځي لکه: ايله همدومره دې وکړل! ؟.

ب- د شرط د جزا لپاره راځي لکه: که داسې دې وکړل ايله به مې زړه يخ شي.

٦٦- «بلکه»: د استدراک لپاره راځي لکه: زه کور ته نه ځم بلکه ښار ته ځم.

٦٧- «هله»: د شرط د جزا لپاره راځي او د «هغه وخت» معنا ورکوي لکه: زه به هله دا کار کوم چې ته يې وکړې. يا: هله به خبر شې چې تا روجبی له ورشې.

٦٨- «لـه» (د لام په زور): د «تـه» پـه معنا راځي لکه نـږدې مثال چې تېر شو.

٦٩- «ځنې» د څخه په معنا راځي لکه:

له هغه ځنې ځاربږم

چې دردمند په خپل ملت وي

او د «بعضې» په معنا چې راځي هغه «ځینې» دی.

٧٠- «وال، واله»: د نسبت لپاره راځي لکه: کوټوال: کوټ ته منسوب. کوټواله: مؤنث لپاره.

٧١- «نی، نۍ»: د نسبت لپاره راځي لکه: ببګانی، پخوانی، لواړګینی، اوسنی، ببګانۍ، پخوانۍ، لواړګینۍ، اوسنۍ.

٧٢- «ی، ۍ» د نسبت لپاره راځي لکه: افغانی، پښوري، کابلی، افغانۍ، پښورۍ، کابلۍ.

٧٣- «ور، وره» د «والا» په معنا او د مصاحبت لپاره راځي لکه: سره ور، ځنه ور، ګیره ور، خښته ور، ژبه ور. د مؤنث لپاره «وره» راځي (وراو ورد دواړد د «و» په زور کیږدی).

٧٤- «والا»: د نسبت او مصاحبت لپاره او د خاوند په معنا راځي لکه د پګړۍ والا، کابل والا، موټروالا، د قلم والا.

٧٥- «جوړ»: د احتمال لپاره راځي او د «لکه چې» معنا ورکوي لکه: جوړ خوښ دی شو. (د ښکښنیو پښتنو اصطلاح ده.)

٧٦- «بویه»: د احتمال لپاره راځي او د «وګنه» او «وګړه» په معنا دی لکه د خوشحال دا شعر:

بې زحمته راحت نشته زما ورو ره
که راحت غواړې زحمت د رلره بويه

٧٧- «ګنه»: د احتمال برخيز دی چې د شمېر، فرض کړه او بويه معنا ورکوي. لکه: ما حاضر وګنه. داسي وګنه چې زه نه يم راغلی.

٧٨- «ښايي»: د احتمال برخيز دی چې د کېدای شي معنا ورکوي لکه: ښايي چې احمد راغلی وي.

٧٩- «کېدای»: د احتمال برخيز دی. لکه: کېدای شي چې باران وشي.

٨٠- «راسې»: د غايې د پيل لپاره راځي لکه: زمری د خالي ورځې راسې ښوونځي ته نه دی راغلی. او راهيسې هم ويل کېږي.

٨١- «ولې»:

الف- د پوښتنې برخيز دی چې مخکې تېر شو.

ب- د استثنا لپاره راځي لکه: هغوي راغلل ولې زلمی را نه غی.

ج- د استدراک لپاره راځي لکه: هغه راته وويل ولې زه يې نه منم.

٨٢- «زی»: د نسبت لپاره راځي لکه: نورزی، علي زی، چې د «خېل» معنا ورکوي.

٨٣- «خېل»: د نسبت لپاره راځي لکه: سليمانخېل، نور خېل، حسن خېل.

٨٤- «ين»: د نسبت لاحقي برخيز دی لکه: وزمين، سنګين ورېښمين.

٨٥- «جن»: د نسبت او فاعليت لاحقي برخيز دی لکه: کبرجن،

غمجن، دروغجن.

۸۶- «ونه، گــان، گــانې، ان، انې، يان، يانې، وې، ې»: د جمعې برخيزونه دي لکه: قلمونه، الوگان، غواگانې، طالبان، دوستانې، غويان، پرېشانيانې، غلاوې، کوتې.

۸۷- «دوی، دويه، گړی، گړې، ونکی ونکې، گر، گره، گری، ي، من، مند، والا، وان، يالی، ناک»: د نسبت او فاعليت برخيزونه دي چې د «والا» او «کوونکي» په معنا راځي لکه: څارندوی، څارندويه، ژرنده گړی، ژرنده کړې ساتونکی، ساتونکې، زرگر، زرگره، ملگری، ملگرې، ښکاري، کړومن، دولت مند، کوروالا، گاډيوان، توريالی، خطرناک.

۸۸- «غالی، تون، غلی»: د مکان برخيزونه دي چې د ځای په معنا راځي لکه: پنډغالی، مېړتون، خرغلی.

۸۹- «ښخن، والی، ښت، توب، تيا، تون، گلوي، ولي»: د صفت برخيزونه دي چې د يوه شي وصف پرې بيانېږي.

لکه: توربخن، تورروالی، نوښت، بوډاتوب، زړورتيا، ښېلتون، وروړگلوي، ورور ولي.

۹۰- «م، مه»: د عدد د ټاکنې لپاره راځي لکه لسم کال، لسمه پېړۍ.

د تصغیر (وړکنبود) برخیزونه

تصغیر دیوه شي وړوکي ښکاره کولو او ښودلو ته ویل کېږي چې مونږ یې په پښتو کې په «وړکنبود» نوموو پښتو کې د وړکنبود برخیزونه په لاندې ډول دي:

۱- «گی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه: کورگی، دیوالگی، زړگی، چې د کور، دیوال او زړه وړکنبودونه دی.

۲- «گۍ»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: رعنا گۍ، شاروگۍ، کوټه گۍ: چې د رعنا، شارو او کوټې وړکنبودونه دي.

۳- «کی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه: خوارکی، ډبوسکی، پنډوکی، ټیټکی. چې د خوار، ډبلي، پنډ او ټیټ وړکنبودونه دي.

٤- «کۍ»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: خوراکۍ، ډبوسکۍ، پنډوکۍ، ټیټکۍ، چې د خوارې، ډبلې، پنډې، او ټیټې وړکنبودونه دي.

٥- «گوټی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه: کمیس گوټی، ډاکټر گوټی، خرگوټی، چې د کمیس، ډاکټر، او خر وړکنبودونه دي.

۶- «ګوټې»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: غواګوټې، ستن ګوټې، ښځګوټې، چې د غوا، ستنې او ښځې وړکنبودونه دي.

۷- «ټی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه: منګوټی زلموټی چې د منګي او زلمي وړکنبودونه دي. او کله کله د تحقیر (سپکاوي) لپاره هم راځي لکه: سموټی، شفوټی، رفوټی. چې د سمیع الله، شفیق الله او رفیق الله وړکنبودونه او تحقیر دی.

۸- «ټې»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: واوروټې، سپینوټې، پښغلوټې، چې د واورې، سپینې او پیغلې وړکنبودونه دي. او کله کله همدا تحقیر هم ګڼل کېږي.

۹- «ټی»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: زانګوټی او پښغلوټی، چې د زانګو او پښغلې وړکنبودونه دي او د تحقیر لپاره هم راځي.

۱۰- «ړی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه: کدوړی چې د کدو وړکنبود دی.

۱۱- «ګوړی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه چرګوړی، انارګوړی چې د چرګ او انار وړکنبودونه دي.

۱۲- «ړی»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: کوزړی چې د کوزې وړکنبود دی.

۱۳- «ګټی»: د نارینه وړکنبود لپاره راځي لکه: زوم ګټی چې د زوم

وړکنبود دی.

۱٤- «گتی»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: لورگتی چې د لور وړکنبود دی.

۱۵- «نی»: د ښځینه وړکنبود لپاره راځي لکه: کوټنی چې د کوټې وړکنبود دی.

یادونه:

د پښتو وړکنبودونو کې: « گی، گی، گوټی او گوټې » پرتلیز (قیاسي) وړکنبودونه دی او نور سماعي دي چې د کوم ځانگړي بنسټ لاندې نه راځي.

نیمګړي فعلونه یا نیمخېزونه

ځینې نیمګړي فعلونه هم د برخېزونو په څېر یوائې معنا نه لري او په جملې کې معنا ورکوي نو له دې امله برخېزونه دي او چې د زمانې سره اړیکي لري نو له دې امله فعلونه دي؛ مونږ یې نیمګړي فعلونه یا نیمخېزونه نوموو او د برخېزونو په ترڅ کې یې راوړو چې په لاندې ډول دي:

اول: په حال او نږدې ماضي کښې د شته والي او نشتوالي حکمي نیمخېزونه

۱- «شو»: د مفرد مذکر غائب لپاره راځي لکه: باران وشو یا ونه شو.

۲- «شوه»: د مفردې مؤنثې غائبې لپاره راځي لکه: کوته رنګه شوه یا رنګه نه شوه.

۳- «شو»: د یوه نه زیاتو مذکرو غائبو لپاره راځي لکه: شاګردان بریالي شول. او «شو» (په درونه واو) ویل کېږي.

۴- «شوې»:

الف- د یوې نه زیاتو مؤنثو غائباتو لپاره راځي لکه: شاګردانې بریالۍ

شوې (شولې).

ب- د مفرد مخاطب مذکر لپاره راځي لکه: ته بريالی شوې.

ج- د مفردې مخاطبې مؤنث لپاره راځي لکه: ته بريالۍ شوې.

٥- «شواست، شوئ، شولئ»:

الف- د جمعې مخاطبو لپاره راځي لکه: تاسو بريالي شواست.

ب- د جمع مخاطباتو لپاره راځي لکه: تاسو بريالۍ شوئ.

٦- **«شوم»**: د مفرد متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه: زه بريالی شوم يا زه بريالۍ شوم.

٧- **«شو، شولو»** (په درونده واو): د جمعې متکلم مذکرو او مؤنثو لپاره راځي لکه: مونږ بريالي شو يا مونږ بريالۍ شو. (شولو).

٨- **«شوی»** (په شين خج او زور کی): د غائب مفرد مذکر لپاره راځي لکه: احمد بريالی شوی دی.

٩- **«شوې»** (په شين خج او زور کی): د غائبې مفردې مؤنث او غائباتو لپاره راځي لکه: سعيده بريالۍ شوې ده. شاګردانې بريالۍ شوې دي.

١٠- **«شوي»** (په شين خج او زور کی): د غائبو مذکرو لپاره راځي لکه: شاګردان بريالي شوي دي.

١١- **«دی»**: په اثبات او نفی د حکم کولو نيمخيز دی چې د مفرد مذکر غائب لپاره راځي لکه: دا سړی دی يا دا قلم نه دی.

۱۲- «دي»: په اثبات یا نفی د حکم کولو نیمخیز دی چې:

الف- د یوه نه زیاتو مذکرو لپاره راځي لکه: هغوی سړي دي، هلکان ولاړ دي، کورونه نړېدلي نه دي.

ب- د یوې نه زیاتو مؤنثو لپاره راځي لکه: هغوی ښځې دي، جنکۍ ولاړې دي، کوتې رنګې شوې نه دي.

۱۳- «ده»: په نفې او اثبات د حکم کولو نیمخیز دی او د مفرد مؤنث لپاره راځي لکه: دا کوزه ده، هغه ښځه ولاړه ده، دا و نه زړه ده، تورپېکۍ راغلې نه ده.

۱٤- «يې»: په نفې او اثبات حکمي نیمخیز دی چې:

الف- د مفرد مذکر مخاطب لپاره راځي لکه: ته بریالی شوی یې، ته ناروغ نه یې.

ب- د مفرد مؤنث مخاطبې لپاره راځي لکه: ته بریالۍ شوې یې، ته ناروغه نه یې.

۱۵- «یاست، یئ»: په اثبات او نفې حکمي نیمخیز دی چې د جمعې مذکرو مخاطبو لپاره راځي لکه: تاسو بریالي شوي یاست یایئ. نه یاست یا نه یئ.

۱٦- «یاستئ، یئ»: په اثبات او نفې حکمي نیمخیز دی چې د جمع مؤنث مخاطباتو لپاره راځي لکه: تاسو بریالۍ شوې یاستئ یا یئ. نه یاستئ یا نه یئ.

۱۷- «یم، یمه»: په اثبات او نفی حکمي نیمخیز دی چې د مفرد متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه: زه ناروغ یم یا زه ناروغ نه یم یا زه ناروغه یم یا زه ناروغه نه یم یا (یمه).

۱۸- «یاستو، یو»: په اثبات او نفي حکمي نیمخیز دی چې د جمعې متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه: مونږ ډاکتران یاستو یا یو، مونږ ډاکتران نه یاستو یا نه یو. مونږ ډاکترانې یاستو یا یو، مونږ ډاکترانې نه یاستو یا نه یو.

دوهم: په تیرې ماضي کښې د اثبات او نفي حکمي نیمخیزونه

۱- «ؤ» «شوی» (په شین خج او زوره کی): د اثبات او نفي حکمي نیمخیزونه دي چې د مفرد غائب مذکر لپاره راځي لکه:

الف- گل نواز راغلی ؤ یا گل نواز راغلی نه ؤ.

ب- محمود ناروغ شوی ؤ یا محمود ناروغ شوی نه ؤ.

۲- «وو» «شوي»: دیوه نه زیاتو غائبو مذکرو لپاره راځي او د اثبات او نفي حکمي نیمخیزونه دي. لکه:

الف- شاگران راغلي وو یا شاگردان راغلي نه وو.

ب- د تکر له أمله څو تنه زخميان شوي وو يا نه وو.

۳- «وه» «شوي»: د اثبات او نفي حکمي نيمخيزونه دي چې د مفرد مؤنث غائبې لپاره راځي لکه:

الف- ګلالۍ راغلې وه يا ګلالۍ راغلې نه وه.

ب- ملالۍ ناروغه شوې وه يا ناروغه شوې نه وه.

٤- «وې» «شوې»: د اثبات او نفي حکمي نيمخيزونه دي چې:

الف- د جمع مؤنث غائباتو لپاره راځي لکه:

۱- جنکۍ راغلې وې يا راغلې نه وې.

۲- جنکۍ ناروغه شوې وې يا ناروغه شوې نه وې.

ب- «وې» د مفرد مذکر مخاطب لپاره هم راځي چې مخکې ترې کله کله «شوی» هم راځي لکه:

۱- ته راغلی وې يا راغلی نه وې.

۲- ته ناروغ شوی وې يا نه وې.

ج- «وې» «شوې» د مفرد مؤنث مخاطبې لپاره هم راځي لکه:

۱- ته راغلې وې، يا ته راغلې نه وې.

۲- ته ناروغه شوې وې يا ته ناروغه شوې نه وې.

۵- «واست، وئ» «شوي»: د اثبات او نفي حکمي نيمخيزونه دي چې:

الف- د جمعې مذکر مخاطبو لپاره راځي لکه:

۱- تاسو راغلي واست يا نه واست.

۲- تاسو ناروغ شوي واست يا نه واست.

ب- د جمعي مؤنث مخاطباتو لپاره راځي لکه:

۱- تاسو راغلې وئ يا نه وئ.

۲- تاسو ناروغه شوې وئ يا نه وئ.

۶- «وم» «شوى»: د اثبات او نفې حکمي نيمخيز دي چې:

الف- د مفرد متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه:

۱- زه راغلى وم يا نه وم. زه راغلې وم يا نه وم.

۲- زه ناروغ شوى وم يا نه وم. زه ناروغه شوې وم يا نه وم.

او کله کله د راتلونکي معنا هم ورکوي لکه: که وم وم که نه وم نه وم.

۷- «وو» «شوي»: د اثبات او نفې حکمي نيمخيزونه دي چې د جمعې متکلم مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه:

الف: ۱- مونږ راغلي وو يا نه وو.

۲- مونږ ناروغ شوي وو يا نه وو.

ب: ۱- مونږ راغلې وو يا نه وو.

۲- مونږ ناروغه شوې وو يا نه وو.

دريم: د امر او نهی نيمخيزونه

۱- «شه» «مه- ېږه»: د مفرد مخاطب مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه:

الف- وينښ شه، مهٔ اودرېږه.

ب- وينښه شه، مهٔ اودرېږه.

۲- «شئ» «مهٔ ېږئ»: د جمع مخاطب مذکر او مؤنث لپاره راځي لکه:

الف- وينښ شئ، مه اودرېږئ.

ب- وينښې شئ، مه اودرېږئ.

څلورم: د راتلونکي نيمخيزونه

د راتلونکي لپاره ورسره «به» يو ځای کېږي لکه:

۱: الف- افغانستان به اباد شي، هغه به راشي، يا افغانستان به وران نه شي هغه به را نه شي.

ب- هغوی (نارينه يا ښځينه) به راشي يا به را نه شي.

۲- الف: ته به روغ شې يا به روغ نه شې.

ب: ته به روغه شې يا به روغه نه شې.

٣- الف: تاسو به روغ شئ یا به نه شئ.

ب: تاسو به روغې شئ یا به نه شئ.

٤- الف: زه به لاړ شم یا به لاړ نه شم.

ب: زه به لاړه شم یا به لاړه نه شم.

٥- الف: مونږ به لاړ شو یا به لاړ نه شو.

ب: مونږ به لاړې شو یا به لاړې نه شو.

یادونه:

«به» د عربي ژبې د «س او سوف» معنا هم ورکوي چې د «ژرده» په معنا راځي کله د تأکید لپاره ورسره «ژرده» ویل کېږي او کله نه ویل کېږي.

فعل او فاعل

« فعل د » یو د کار کولو ته ویل کېږي چې یا په تیره زمانه کې شوی وي یا حال او یا راتلونکي وخت کې کېږي.

او « فاعل » د یوه کار کوونکي ته ویل کېږي لکه: احمد راغی، احمد فاعل دی او راغی فعل دی.

عربي ژبې کې فعل مخکې راځي او پښتو کې فاعل مخکې راځي عربي کې داسې ویل کېږي: جاء احمد. که دې کټ مټ ژباړه وشي نو داسې به وویل شي: راغی احمد. او دا ژباړه حرفي (ټکي په ټکي) ژباړه بلل کېږي چې د پښتو په قالب کې برابره نه راځي خو که وغواړو چې د پښتو په قالب کې برابره راشي نو باید روانه ژباړه یې وکړو چې فاعل مخکې او فعل وروسته شي. نو داسې به شي چې: احمد راغی.

کله کله فاعل وروسته کېږي لکه:

١- د تعجب په وخت کې لکه: « کار احمد وکړ او ستړی محمود شو! ؟ »

٢- د تخصیص (ځانګړتیا) په وخت کې لکه: « دا کار ته وکړه! ». « ته » فاعل دی او وروسته راغی.

٣- د متل او شعري ضرورت په وخت کې.

مصدر

« مصدر » د هغه څه نوم دی چې نورې صيغې ترې جوړېږي او خپرېږي او په اخر کې يې ساکن « ل » راځي لکه: ويل، کول، لوستل، ليکل، تلل، خوړل، گرځول، گنډل، څنډل او داسې نور.

د پښتو ځينو ليکوالانو د مصدر او فعل ترمنځ توپير نه دی کړی او مصدر ته يې فعل ويلی دی حال دا چې د مصدر او فعل ترمنځ زيات توپير دی چې مخکې د دواړو په تعريفونو او بېلگو کې څرگند شو او ځينې بېلگې يې په دې توگه دي:

« ليکل » مصدر دی، او وليکه، مه ليکه، ليکلی، ليکې او ليکم، فعلونه دي.

« وړل » مصدر دی. او: وړی، وړي، وړې، وړم او وړو فعلونه دي.

« تلل » مصدر دی. او ځه، مه ځه، تللی، تللي، تللې، ځم، ځو، ځي، ولاړ، ولاړل او ولاړې فعلونه دي.

مفعول

«مفعول» کړای شوي ته ویل کېږي. (هغه څه چې څه کار پرې شوی وي) لکه: ما کتاب راوړی دی.

«ما» فاعل دی «کتاب» مفعول دی او «راوړی» فعل دی. پښتو کې اکثر اول فاعل بیا مفعول او بیا فعل راځي. عربي کې مفعول اکثر وروسته راځي لکه: «اکل زید تفاحا»

«اکل» فعل «زید» فاعل او «تفاحا» مفعول به دی. که د دې کتې متې حرفي ژباړه وکړو نو داسې به ووایو: «وخوړه زید منه» چې دا د پښتو د ژبدود سره سمه نه ده که وغواړو چې روانه ژباړه یې وکړو نو فاعل به مخکې کړو وروسته مفعول او بیا به فعل را وړو نو داسې به شي: «زید منه وخوړه»

کله کله مفعول مخکې راځي لکه: ۱- د تعجب په وخت کې لکه: کار ما وکړ او لافې ته وهې؟

۲- د أمر په وخت کې لکه: «ډوډی وخوره».

۳- د نهی په وخت کې لکه: «دروغ مه وایه».

٤- د ډاډورکو په وخت کې لکه: «کار مې کړی دی» (مطمئن اوسه).

٥- د متل او شعري ضرورت په وخت کې. لکه:

توري دي لالا وهي دوړدی دي عبدالله وهي.

٦- کله چې فاعل «مې، دې او مو» ضميرونه وي، لکه: کار مې وکړ، ښه کار دې وکړ، کار مو وکړ.

صفت او موصوف

صفت هغه نوم دی چې ستاینه غندنه او څرنګوالی څرګندوي او موصوف هغه چا یا هغه شي ته ویل کېږي چې ستایل شوی، غندل شوی او څرنګوالی يې څرګند شوی وي لکه: عالم سړی، چې عالم صفت دی او سړی موصوف دی یا اوږد قلم، اوږد صفت دی او قلم موصوف دی، یا د هر غنم، د هر صفت او غنم موصوف دی.

عربي کې موصوف مخکې راځي او صفت وروسته لکه: رجل عالم «رجل» موصوف دی او «عالم» يې صفت دی یا لکه: قلم طویل، «قلم» موصوف دی او «طویل» يې صفت دی.

که مونږ يې کټ مټ ژباړه وکړو او ووایو چې: سړی عالم. یا: قلم اوږد. نو ښه نه برېښي او د پښتو له قانون نه خلاف ده؛ که وغواړو چې د پښتو د قانون موافق ژباړه وکړو نو باید صفت مخکې او موصوف وروسته کړو او داسې ووایو: عالم سړی، یا اوږد قلم.

کله کله موصوف مخکې او صفت وروسته راځي لکه:

١- د خبرولو وخت کې لکه: «اسمان شین دی»
٢- د تعجب په وخت کې لکه: «کمیس شین او پرتوګ سور!؟»
٣- د امر په وخت کې لکه: «جامې پاکې کړه».
٤- د متل او شعري ضرورت په وخت کې.
٥- کله چې «که» ورڅخه مخکې یا وروسته راشي لکه: ګل که سور وي او که زیړ زما خوښ دی. یا: که ګل سور وي او که شین.

ژبدود ته پاملرنه

ځینې بنسټونه د ټولو ژبو سره یو وي؛ هره ژبه ځانګړي دودونه او قوانین هم لري چې د نورو ژبو سره څرګند توپیر لري د هرې ژبې قوانین او ځانګړتیاوې باید مراعات شي، د یوې ژبې نه بلې ژبې ته ژباړه په دوه ډوله ده:
١- حرفي ژباړه (تکي په تکي او کټ مټ).
٢- روانه ژباړه.

حرفي ژباړه کټ مټ او د هر لفظ وي او روانه ژباړه د ژبدود سره سمه وي ژباړه که روانه او د ژبدود سره سمه و نه شي نو:
١- ډېره بې خونده وي.
٢- مفهوم ترې ښه نه څرګندېږي.
٣- ډېر ځل کېدای شي چې غلط مفهوم ترې واخیستل شي.

٤- ډیر ځل کېدای شي جمله بیخي مهمله او بې مفهومه شي.

رواني ژباړې کې په تکي په تکي ژباړه نه کېږي بلکه د یوې جملې مفهوم د بلې ژبې په قالب کې برابرېږي او د هغې د قانون مطابق لوستل کېږي.

د بېلګې په توګه:

فارسي کې د «بزدل» کلمې ژباړه که حرفي وکړو نو «بز» «اوزې» ته او «دل» «زړه» ته ویل کېږي نو که د «بزدل» ژباړه په: «اوزه زړه» سره وکړو نو هغه مفهوم یې څرګند نه کړ چې فارسي کښې ترې مطلوب ؤ او که روانه ژباړه یې وکړو نو «بزدل» ته پښتو کې «بې زړه» ویل کېږي او په همدې رواني ژباړې سره هغه مطلوب مفهوم څرګند شو.

که د دې دواړو ژبو نه همدا کلمه عربي ته وژباړو که حرفي ژباړه وکړو نو «بز» ته عربي کې «معز» ویل کېږي او «دل» ته «قلب» ویل کېږي نو «قلب المعز» یا «معز قلب» د بې زړه مفهوم بېخي نه څرګندوي بلکه غلطه ده؛ که د پښتو «بې زړه» په عربي کې حرفي وژباړو نو ویه وایو: «الذی لاقلب له» یا «معدوم القلب» بیا هم ژباړه غلطه ده او مفهوم یې هم بدل شو، خو که دا دواړه (فارسي او پښتو) لفظونه په روانه عربي وژباړو نو عربي کې «بزدل» یا «بې زړه» ته «جبان» ویل کېږي، ژباړه بېخي صحیح او روانه راځي او مفهوم هم صحیح څرګندوي.

د حرفي او رواني ژباړې نورې بېلګې:

«وإذا بشر احدهم بالأنثى ظل وجهه مسوداً وهو کظیم، یتواری من

القوم من سوء ما بشر به أيمسكه على هون ام يدسه في التراب ألا ساء ما يحكمون. »(۱)

حرفي ژباړه: «او هغه وخت چې زېرى وركول شي يو د دوى ته په ښځې وگرځي مخ د هغه تور او وي هغه غمجن پټېږي د قوم نه د بد هغې نه چې زېرى وركول شوى په هغې سر د ايا و يې ساتي په سپكاوي او كه ومندي هغه په خاورو خبردار دې بد دى هغه چې دوى يې فيصله كوي».

روانه ژباړه: «او كله چې دوى كې چا ته د لور زيږېدو زېرى وركول شي مخ يې تك تور شي او غمجن وي، د بد زېري له امله د خلكو نه پټېږي فكر كوي چې د پېغور سره يې وساتي او كه په خاورو كې يې ښخه كړي په دې هكله دوى ډېره بده پرېكړه كوي. »

عن معاذ بن جبل رضى الله عنه قال: كنت رديف النبى صلى الله عليه و سلم على حمار فقال لي: « يا معاذ! أتدري ما حق الله على العباد، و ما حق العباد على الله؟ » قلت: الله و رسوله أعلم. قال: « حق الله على العباد : أن يعبدوه و لا يشركوا به شيئا، و حق العباد على الله: أن لا يعذب من لا يشرك به شيئا. »(۲)

حرفي ژباړه: « روايت دى د معاذ ځوى د جبل نه راضي دې شي الله د هغه نه ويلي دي هغه: ومه زه وروسته د پيغمبر نه رحمت دې ولېږي الله پر هغه او

۱- د نحل سورت: ۵۸- ۵۹.
۲- بخارى، مسلم.

سلامتیا ، په خربانديږ نو ويې ويل ماته: ای معاذه ایا پوهیږې ته چې څه دی حق د الله په بنده ګانو د هغه باندې ؟ ، او څه دی حق د بنده ګانو په الله باندې ؟ ، ما وویل: الله او رسول د هغه ښه پوه دي. هغه وویل: حق د الله په بنده ګانو د هغه باندې دا دی چې عبادت وکړي د هغه او شریک پیدا نه کړي د هغه سره هیڅ شي ، او حق د بنده ګانو په الله دا دی: چې عذاب ورنه کړي هغه چا ته چې شریک یې نه وي پیدا کړی د هغه سره هیڅ شی.

روانه ژباړه:

«د جبل زوی معاذ (رضی الله عنه) نه روایت دی چې: زه د پیغمبر (صلی الله علیه و سلم) پسې په خره سپور وم ، ماته یې وفرمایل: «ای معاذه! ایا پوهیږې چې الله په خپلو بندګانو څه حق لري؟ او بندګان په الله کوم حق لري؟ ما ورته وویل: الله او د هغه پیغمبر ښه پوهیږي. هغه وفرمایل: «د الله حق په خپلو بندګانو دا دی چې یواځې د هغه عبادت وکړي او هیڅ شریک ورسره و نه نیاکي ، او د بندګانو حق په الله دا دی چې چا ورسره شرک نه وي کړی ، هغه ته عذاب ورنه کړي» .

په پورتنیو دوه ژباړو کې به تاسو ته توپیر څرګند شوی وي چې خوند په کومه کې دی او مفهوم کومې یوې ښه څرګند کړ .

حرفي ژباړه یواځې هغه وخت کېدای شي چې شاګرد له استاذ نه تکي په تکي ځان پوهول غواړي؛ په وعظ او تبلیغ ، د خلکو پوهولو ، کتاب ژباړلو او

مضمون ليکلو کې يو اځې روانه ژباړه کېږي.

ژباړونکي چې هر کله ژباړه کوي هغه بايد د دواړو ژبو په قوانينو او قواعدو پوه وي بيا چې کله ژباړه کوي بايد د يوې ژبې پوره مفهوم را واخلي او د بلې ژبې د قانون او بنسټ په قالب کې يې ور واچوي تر څو اسانه، روانه او خوږه ژباړه را ووځي.

مضاف إليه او مضاف

مضاف اليه هغه چا يا هغه شي ته ويل کېږي چې د څه شي نسبت ورته شوی وي او مضاف هغه وي چې د هغه نسبت شوی وي لکه: د احمد کتاب. احمد مضاف إليه دی او کتاب مضاف دی.

عربي کې مضاف مخکې وي او مضاف إليه وروسته وي لکه: کتاب احمد. که مونږ کټ مټ ژباړه وکړو او وايو: کتاب د احمد، نو دا جمله د پښتو په بنسټ صحيح نه ده؛ که وغواړو چې صحيح او روانه شي نو مضاف اليه بايد مخکې او مضاف وروسته کړو او داسې ووايو: د احمد کتاب.

کله کله مضاف إليه د متل او شعري ضرورت له أمله وروسته کېږي او مضاف مخکې کېږي.

همدارنګه چې مضاف اليه «دې، مو او يې» ضمير وي هم وروسته کېږي لکه: زړه مې خفه دی. زړه مضاف دی او «مې» ضمير دی او مضاف اليه دی

او وروسته دی. یا: قلم دې واخله، کتابونه مو راوړئ، څادر يې ورکړه. «دې»، «مو» او «يې» ضميرونه دي مضاف إليه واقع شوي دي او وروسته راغلي دي.

مطلق او مقيد

مطلق په لغت کې خوشې شوي او ازاد شوي ته ويل کېږي او په اصطلاح کې: مطلق هغه لفظ يا خبرې ته ويل کېږي چې بې له قيد او شرط نه د خپل جنس په مشهور فرد يا افرادو دلالت کوي.

لکه: وطن ګران وي.

دلته وطن مطلق دی په هر چا خپل وطن ګران وي.

مقيد په لغت کې تړل شوي ته ويل کېږي. او په اصطلاح کې: مقيد هغه لفظ يا خبرې ته ويل کېږي چې د يوه قيد او شرط سره د خپل جنس په مشهور فرد يا افرادو دلالت کوي.

لکه: نيک سړی د هر چا خوښېږي.

سړی مطلق دی خو چې کله د نيک قيد ورسره ولګېد نو مقيد شو تقييد د زيات وضاحت، څرګندونې او ځانګړتيا لپاره راوړل کېږي له همدې أمله: څومره چې په يوې خبرې کې قيود زيات وي هغومره خبره ښکاره، ډاګيزه او څرګنده وي.

د بېلګې په توګه:

که څوک په ورځپاڼه کې اعلان وکړي چې:

«درې کسانو ته ضرورت دی چې مونږ سره کار وکړي غوښتونکي دې مونږ سره رابطه وکړي»

په دې اعلان کې کسان مطلق دي که نارينه وي، که ښځينه، ځوانان وی او که بوډاګان، باسواده وي او که بې سواده... خو که همدې اعلان سره نور قيدونه او شرطونه ولګوو او داسې ووايو:

«د برېښنا درې انجنيرانو ته ضرورت دی چې:

۱- نارينه وي.

۲- عمر يې له ٤٠ کلونو څخه زيات نه وي.

۳- لږ تر لږه لسانس شهادتنامه ولري.

٤- لږ تر لږه (۷) کاله عملي تجربه ولري.

۵- د تجربې ليکلی ثبوت ولري.

غوښتونکي دې مونږ سره رابطه وکړي»

نو دا مقيد شو او په شپږو قيدونو خبره ښه روښانه او ښکاره شوه.

کله کله قيد دومره ضروروي چې که خبرې نه قيد ليرې شي دروغ ترې جوړيږي.

لکه:

الله تعالی فرمايي:

«مونږ اسمانونه، مځکه او ددې دواړو تر منځ (ټول شيان) عبث نه دي پيدا کړي»

دلته د «عبث» قيد ښېځي فرض او ضروري دی ځکه چې که دا قيد ليرې شي نو بيا به داسې شي چې: «مونږ اسمانونه، مځکه او د دی دواړو ترمنځ (ټول شيان) نه دي پيدا کړي».

نو بيا به خبره د رواغ شي ځکه چې دا ټول پېدا شوي دي.

وصل او فصل

(پیوستون او بېلتون)

وصل د عطف د برخیزونو «او» ، یا «پسې» په واسطه د دوه یا ډیرو جملو یا کلمو تړلو ته ویل کېږي او فصل د دوه یا څو جملو د عطف په برخیز «او» نه راوړلو جلا کولو او بیلولو ته ویل کېږي.

هره دویمه جمله او کلمه کله د عطف په برخیز له لمړۍ جملې سره تړل شوې وي او کله کله د دې برخیز په نه راوړلو بېله شوې وي.

دوه جملې یا کلمې د عطف په برخیز له دې أمله تړل کېږي چې د دواړو په منځ کې څه یووالی او مناسبت وي او یا کله کله د توپیر لپاره د دواړو ترمنځ د عطف برخیز راوړل کېږي لکه:

۱- احمد او محمود دواړه د توریالي زامن دي.

۲- بریالیتوب او ناکامي د کوښښ پورې اړه لري.

۳- د وینا او عمل ترمنځ ډېر توپیر دی.

او فصل کله د جملو او کلمو د زیات یووالي او معنوي امتزاج له أمله وي چې «کمال إتصال» بلل کېږي، کله د بیخي بېلتون او جلا کېدلو له أمله وي

چې «کمال إنقطاع» بلل کېږي، کله د ځواکمنو اړیکو او کله هم د کوم مانع له أمله د عطف برخیز پرېښودل کېږي لکه:

۱- احمد، محمود، سعید، بریالی او غمی په یو ټولګي کې درس وايي.

۲- ړائځ چې خپلمنځي اختلافونه شاته ورغورځوو. وروروولي وکړو، دوستي وکړو، مینه وکړو، د مېندو او خویندو عفت خوندي کړو، زیار وباسو، کار وکړو، وطن اباد کړو، عدل او انصاف پلي کړو، هر چاته خپل حق وسپارو، تر څو د سپېڅلي جهاد ښې پایلې لاسته راوړو.

۳- د افغانستان مؤمن، مجاهد، غېرتي، پتمن او زړه ور ولس په مړانه جهاد وکړ.

٤- چې زړه يې مړوي، ذوق يې تت، احسايې نه پاڅېږي
هغه د شعر په ارزښت او قیمت څه پوهېږي

ایجاز

ایجاز په لغت کې لنډولو ته ویل کیږي او په اصطلاح کې په لږو الفاظو او لنډ تعبیر د ډېرو او پوره معنا وو اداکولو ته ویل کیږي.

ایجاز په دوه ډوله دي:

۱ - د قصر (لنډولو) ایجاز

د قصر ایجاز ته د بلاغت ایجاز هم ویل کیږي او دا هغه لنډ الفاظ دي چې کومه محذوفه او مقدره کلمه یا جمله پکې نه وي بلکه په لنډ تعبیر لویه معنا څرگنده شي خو په دې شرط چې په فهم کې خلل واقع نه شي او پوره مطلب ترې واخیستل شي لکه:

«شعر د زړه ترجماني ده»

دا لنډ تعبیر دی او لوی مطلب او ډېرې معناوې پکښې نغښتې دي ځکه چې زړه کې: مینه او محبت، بغض او حسد، دوستي او دښمني کرکه او اغیزه، هیلې او احساس... ټول ځای لري او شاعر په خپل شعر کې د دې ټولو ترجماني

او ژباړه کوي.

یا لکه د عبدالرحمن بابا دا شعر:

په ښه خوی له بد خواهانو بې پروایم
په نرمۍ لکه اوبه داور سزایم

د دې شعر په لنډو الفاظو کې ډېر لوی مطلب پروت دی او هغه دا چې: که زما ډېر دښمنان او بدخواهان وي خو زما د ښه خوي او نیکو اخلاقو له أمله هغوی دومره اغیزمن دي چې ما ته د بدو رسولو اقدام نه کوي نو له همدې امله ما سره هیڅ اندیښنه نشته او بې پروا ژوند ته دوام ورکوم. او لکه څنګه چې اوبه ډېرې نرمې او پستې دي خو سخت او سوزوونکی اور پرې له منځه ځي او مړ کیږي نو همدارنګه زه ډېر سخت، سرکشه او کلک خلک په ډېره نرمۍ او ښو اخلاقو تابع کوم.

۲ - د حذف (غورځولو) ایجاز

د حذف ایجاز دې ته ویل کیږي چې د یوې جملې نه څه توري یا کلمې وغورځیږي خو په فهم او معنا کې څه خلل پیدا نه شي لکه:

۱ - «زه ورځم» په دې جملې کې «هلته» حذف شوی دی که دغه غورځېدلی لفظ بیرته پکښې ننه باسو نو داسې به شي: «زه هلته ورځم».

۲- «د احمد خبرو راباندې اغېزه وکړه». دلته د «ښه» کلمه غورځېدلې ده ځکه چې اغېزه ښه هم وي او بده هم اصل کې جمله داسې ده: «د احمد خبرو راباندې ښه اغېزه وکړه».

۳- «پرون د پېر ښکلي ځای ته تللي وو د غرو ننداره مو وکړه کاشکې ته هم راسره وای» په دې کې وروستۍ جمله حذف شوې ده چې: «خوښ شوی به وای».

٤- پوښتنه وکړې چې دا کار چا کړی دی؟ څوک په ځواب کې ووايي: ما. چې په دې کې «کړی دی» حذف شوی دی؛ که محذوفه جمله ورسره یو ځای کړو نو داسې به شي: «ما کړی دی».

إطناب

إطناب په لغت کې اوږدولو ته ويل کيږي او په اصطلاح کې هغه ګټور اوږدوالي ته ويل کيږي چې په يوه جمله يا عبارت کې د لنډو الفاظو په ځای داسې زيات او اوږده الفاظ راوړې چې څه ګټه ولري او بې ځايه نه وي لکه:

« بوډا » يوه لنډه کلمه او لنډ لفظ دی که مونږ ووايو: « احمد بوډا دی » نو دا ايجاز شو خو که وغواړو چې همدې جملې کې اطناب وکړو او ګټور اوږدوالی پکې وکړو نو داسې به ووايو:

« د احمد ملا کړو په ده خوله يې کشره په ده، مخ يې ګونجې ګونجې دی، ګيره يې سپينه ده، د سترګو ديد يې کم دی او ډير ضعيف دی.

د « بوډا » په لفظ کې دا ټولې معنا وې پرتې دي خو که په دې ډول اوږدوالی پکې وشي نو زياته څرګنديږي او بې ګټې نه دی. دې ډول ګټور اوږدوالي ته « اطناب » ويل کيږي.

د إطناب ډولونه

اطناب ډېر ډولونه لري چې په لاندې توګه یې یادونه کوو:

۱- **د عام نه وروسته د خاص یادونه لکه:** هر ورځ کار ته راځه د یکشنبې په ورځ هم راځه.

۲- **د خاص نه وروسته د عام یادونه لکه:** زه بریالی شوم، زمونږ د ټولګي ټول شاګردان بریالي شول.

۳- **د إبهام او إجمال نه وروسته وضاحت او تفصیل** لکه: د افغانستان په جنګ کې ښکېلو اړخونو په اړوندو مسائلو خبرې وکړې په مؤقت او دائمي اوربند، د بندیانو په تبادلې د حکومت په تشکیل او د وسلو په راټولولو یې مفصلې خبرې وکړې.

چې په دې کې «په اړوندو مسائلو» کې څه إبهام او إجمال ؤ او وروسته یې وضاحت وشو.

٤- **«توشیع»** دا په کلام کې هغه تفسیر ته ویل کېږي چې د مخکې عبارت افراد ښکاره کړي لکه: علم په دوه ډوله دی: د بدنونو علم او د دینونو علم.

٥- **«تکرار»** د یوه شي بیا بیا یادونه او تکرار د څو ګټو لپاره وي لکه:

۱- «استيعاب» (د يوې مجموعې ټولو افرادو ته شمول) لکه: کتاب مې پاڼه پاڼه وکوت او په لفظ لفظ يې پوه شوم.

۲- په عبارت کې د اوږدوالي له امله يوه کلمه يا جمله بيا راوړل لکه:

ما وليدل چې هلته انساني ارزښتونه تر پښو لاندې شوي وو، اخلاقي ارزښتونه چا نه پيژندل، انسان د ځاروي په څير يوازې د نفسي غوښتنو د اشباع لپاره کار کاوه ما وليدل چې هلته د ټولنيز ژوند د سلامتيا لپاره هيڅ بنديز نه ؤ.

چې په دې عبارت کې د: «ما وليدل» جمله دوه ځله د عبارت د اوږدوالي له امله تکرار راغلې ده.

۳- «هڅونه» لکه: مسلمانانو يو شئ، اختلاف، عداوت، کينه او جګړې پريږدئ مسلمانانو د ښمن توطئو ته ځير شئ.

٤- «ترديد» چې د يوه لفظ د څو نورو لفظونو پورې هم اړه وي او د هر يوه سره جلا جلا راشي لکه:

کوښئ او زيار ځان ته ګټه رسوي، کورته ګټه رسوي، کورنئ ته ګټه رسوي، کلي ته ګټه رسوي او ټولنې ته ګټه رسوي.

۵- «تلذذ» (خوند اخيستل) لکه يو اديب چې د ادب د لفظ نه خوند اخلي او وايي: ادب زړونو ته لیار لري، ادب د زړونو ترجماني کوي ادب د ټولنې خدمت کوي، ادب د وګړو احساسات، عواطف، مشاعر او ولولې راپاروي او ادب ټولنه د پرمختګ لور ته سوقوي.

همدارنګه تکرار د نورو ډېرو مقاصدو لپاره هم راځي لکه: لارښوونه، ويرول، ټينګار، دعاء، مبالغه او داسې نور.

او اطناب هم د نورو ګڼو ګټو لپاره راوړل کېږي چې په ادبي ذوق پېژندل کېږي.

او که ګټور اوږدوالی نه وي نو هغه ته بيا «تطويل» او «حشو» ويل کېږي چې دا دواړه په کلام کې عيب ګڼل کېږي.

تطويل

تطويل هغه فاسد او بې ګټې اوږدوالي ته ويل کېږي چې د زياتي کلمو ټاکنه پکښې نه وي شوې او که کومه زياتي کلمه ترې لرې شي نو معنا کې کوم بدلون نه پېښېږي لکه: «ځلمي د شين ګل سره فريب، چل دوکه او ټګي کړې ده.

چې د دې ټولو کلمو يوه معنا ده او د هرې يوې په غور ځولو سره په معنا کې کوم بدلون نه راځي نو څرګنده شوه چې په جمله کې هسې بې ځايه او بې ګټې اوږدوالی راغلی دی او دې بې ګټې غير متعين اوږدوالي ته تطويل ويل کېږي.

حشو

حشو چې پښتو کې «حشود» لوستل کېږي په لغت کې «ډکون» ته ویل کېږي لکه د بالخت ډکون: مالوچ یا داسې نور. او په اصطلاح کې د کلام هغه بې ګټې اوږدوالي ته ویل کېږي چې زیاتې کلمې او عبارت معلوم او ټاکلی وي که هغه ټاکلې کلمې یا ټاکلی عبارت ږغور ځول شي نو په معنا کې بدلون او خلل نه پېښېږي لکه:

نن مې هم درس لوستی دی پرون مې هم لوستی ؤ چې د نن نه مخکې دی سبا به یې هم لولم چې د نن نه وروسته دی. نو پرون معلوم دی چې د نن نه مخکې دی د «چې د نن نه مخکې دی» عبارت زیات دی او «حشو» ده همدارنګه سبا هم معلوم دی چې د نن نه وروسته دی نو «چې د نن نه وروسته دی» عبارت بې ګټې زیات دی چې «حشو» بلل کېږي.

مساوات

مساوات په لغت کې برابرۍ ته ویل کېږي کله چې دوه شیان یو تر بله برابر وي نو دواړه سره مساوي ګڼل کېږي. او په اصطلاح کې د کلام هغه عبارت ته ویل کېږي چې له معنا سره برابر وي. مساوات د «ایجاز» او «اطناب» ترمنځ مرتبه ده چې نه د ډېرې اوږدې معنا لنډ عبارت وي او نه د لنډې معنا اوږد عبارت وي بلکه عبارت او معنا دواړه سره مساوي وي؛ د مساوات بېلګې ته ضرورت نشته ځکه: هغه ټولې عامې خبرې او عبارتونه چې «ایجاز» او «اطناب» پکې نه وي «مساوات» دی.

التفات

التفات په لغت کې یو خواته کتلو، متوجه کېدلو او مخ اړولو ته ویل کېږي او په اصطلاح کې په خبرو کې د یوه حالت نه بل حالت ته اوښتلو او بدلون ته ویل کېږي چې کله کله یې د ادبي ذوق ښښتن کوي.

التفات کله د مخاطب نه غائب ته وي لکه استاذ چې شاګرد ته وایي: بې

ځایه خبرې مه کوئ ناپوهه خلک بې ځایه خبرې کوي. یا: هغوی چې بې ځایه خبرې کوي نه پوهیږي.

او کله هم په نورو ډولونو وي.

تجاهل العارف (ناګاري)

پښتانه وایي: ځان یې ناګاره یا نانګاره کړ او عربي کې ورته «تجاهل العارف» وایي. ناګاري یا تجاهل العارف دې ته وېل کېږي چې یو څوک په یوه خبره یا یو کار ښه پوه او خبر وي خو ځان داسې وښایي چې ګنې نه پوهیږي او یا خبر نه دی. ناګاري یا عارفانه تجاهل ډیر اسباب او لاملونه لري لکه:

تعجب، په ښه او بد صفت کې مبالغه، رټنه، بې کچه مینه، فخر، خوند، ظرافت ښوونه، ازموینه، د زیاتو معلوماتو غوښتنه، وېره، احترام، خیر رسول، ضرر رسول، کینه او داسې نور. بېلګه یې دا ده:

په غلیم چې غورځنګونه کړي دا څوک دی!؟
په دښمن چې تاړاکونه کړي دا څوک دی؟
دا چې سر یې په خپل لاس کې دی نیولی
شپه او ورځ چې یرغلونه کړي دا څوک دی!؟

قلب (چپه کول)

کله کله د يوه غرض لپاره دوه خبرې يو د بل په ځای راوړل کېږي، يا دود، اصطلاح او محاوره جوړه شوې وي لکه:

۱- وياله بهيږي. چې په اصل کې اوبه بهيږي.

۲- ځپلی وياسه. چې په اصل کې بايد وويل شي چې: پښه وياسه ځکه چې تل د ظرف نه مظروف وځي، ننوتی شی له پاسني نه وځي لکه: له ځانه اوبه وځي، له بوجۍ نه شيان وځي له کوټې نه انسان يا نور څه وځي. نو پښه هم له ځپلۍ، بوټ او نورو پښې پوخونه وځي خو محاوره داسې جوړه شوې چې: بوټ وياسه ځپلۍ اوباسم...

دا هم د معانيو د علم او د بلاغت يوه برخه ده.

د مضارع په ځای ماضي

کله کله د راتلونکي په ځای تیر شوی وخت او زمانه یادیږي لکه چې څوک درته د داسې یو کار کولو ووایې چې ته یې کولو ته لېوال یې نو د ډېر باور نه ووایې چې:

ومې کړ. (ضرور یې کوم او په کولو یې وشمېره). دا هم د مقتضی الحال مناسب او د بلاغت یو د برخه ده.

تغلیب

کله کله یو لفظ د غلبې او شهرت له أمله په نورو نوعو راجع او غالب شي لکه چې پښتو کې د «انسان» یا د «څوک» په ځای «سړی» ویل کیږي کله کله ښځې هم وایي چې سړی داسې وکړي یا سړي داسې کړي وای، یا هر سړی پوهیږي، یا سړي ته دا ښه نه ښکاري یا ښه ښکاري یا نورې داسې محاورې شته... دا هم د بلاغت خلاف نه دی بلکه د بلاغت یوه برخه ده.

بیان

د بیان لغوي معنا:

بیان په لغت کې څرګندوالي، جلا کېدو وضاحت، فصاحت او ذکاوت ته ویل کېږي «بیّن» ښکاره، ژبه ور او هوښیار ته ویل کېږي بیان مفرد دی او جمع یې «أبیناء» د او «بینه» دلیل ته وایي دلیل هم د مدعا څرګندوونکی دی. او بائن طلاق ته ځکه بائن وایي چې ښځه او مېړه سره جلا کوي او زړه بداوی یې ښکاره کوي.

د بیان اصطلاحي معنا:

په اصطلاح کې بیان هغه علم دی چې د هغه په واسطه انسان د خپل زړه مراد په داسې الفاظو سره څرګند کړي چې اورېدونکي ته زړه پورې وي اغېزه پرې وکړي، په معنا کې څه غوټه او پېچلتیا و نه لري او یوه معنا په مختلفو عبارتونو څرګنده شي. د همدې غرض لپاره ځانګړي بنسټونه اېښودل شوي دي.

هغه فنون او مباحث چې د بیان علم یې څېړي په لاندې توګه دي:

تشبیه

تشبیه په لغت کې تمثیل او ورته ګڼلو ته ویل کیږي او په اصطلاح کې: دورته والي هغه اړیکي دي چې د یوه ځانګړي غرض لپاره یې ویونکی د دوه یا ډیرو ترمنځ دیوه یا ډیرو مشترکو صفتونو له امله د برخیزونو په واسطه څرګندوي.

تشبیه په خبرو کې ښکلا، خوند، او کیف زیاتوي او څرګندوي که مونږ دیوه شي لپاره یو صفت ثابتوو نو که وغواړو چې دغه صفت ښه څرګند شي، په ذهن کې ښه مصور شي او لا د پیژندلو وړ شي نو یو بل داسې شی پیدا کوو چې دغه صفت پکې لا زیات څرګند وي او بیا هغه سره یې ورته بولو لکه: که وغواړو چې د علم ښه والی او رڼا وښایو او د ناپوهۍ تیاره او بدي څرګنده کړو نو وایو: علم لکه لمر غوندې روښانه دی او جهل د ترږمۍ په څېر تیاره دی.

د تشبیه بنسټونه

تشبیه په څلورو بنسټونو ولاړه ده:

۱ - «مشبه» د کوم شي ورته والی چې بیانېږي مشبه بلل کېږي.

۲ - «مشبه به» د کوم شي سره چې ورته والی لري مشبه به بلل کېږي.

۳ - «د ورته والي وجه» د دواړو ترمنځ مشترک وصف ته د شبه وجه ویل کېږي.

٤ - «د تشبیه ادات» (برخیزونه) هغه برخیزونه دي چې د هغوی په واسطه د مشبه او مشبه به ترمنځ د شبه وجه څرګندېږي.

د بېلګې په توګه:

احمد د ګل غوندې ښکلی دی.

۱ - احمد (مشبه).

۲ - ګل (مشبه به).

۳ - ښکلا (د شبه وجه).

٤ - غوندې (د تشبیه برخیز).

که ووایو: احمد ښکلی دی. دا یوه عادي خبره ده خو که ووایو: احمد د ګل غوندې ښکلی دی نو دا جمله د تشبیه له امله ډېره خوږه او څرګنده شوه.

په تشبیه کې اصل مشبه به وي په دې معنا چې د شبه وجه پکې نسبت مشبه ته ډېر قوي وي.

مشبه او مشبه به ته د تشبیه دوه خواوې یا اړخونه هم ویل کېږي.

د تشبیه (ورته والي) برخیزونه

د تشبیه برخیز هغه لفظ ته ویل کېږي چې تشبیه ترې څرګندېږي او مشبه او مشبه به سره تړي. پښتو کې د تشبیه برخیزونه دا دي:

۱- لکه.

۲- غوندې.

۳- ورته.

٤- څېر.

٥- په شان.

٦- ته بېوایې.

۷- په ډول.

۸- په رنګ.

۹- په دود.

۱۰- کټ مټ.

۱۱- داسې.

۱۲- هغسې.

۱۳- هسې.

۱٤- دغسې.

بېلګې یې دا دي:

۱- زلمی لکه زمری دی.

۲- ګلاب د یاقوت غوندې سور دی.

۳- د غمي ځیره سور ګل ته ورته ده.

٤- مځکه د هندوانې په څېر ګرده ده.

۵- چمن د زمرود په شان شین دی.

٦- مالوچ داسې سپین دی ته به وایې چې واوره ده.

۷- ماشوم د ګل په ډول ښه ښکاري.

۸- سوډانی د کارغه په رنګ توروي.

۹- شینواري د مومندو په دود مېلمه دوستان وګړي دي.

۱۰- فیصل کټ مټ زبېر غوندې دی.

۱۱- په سپرلي کې غرونه او رغونه داسې ښه ښکاري لکه ګلدار تو کر چې پرې غوړېدلی وي.

۱۲- بریالي هغسې نوم و ګاټه لکه د پلار یې.

۱۳- هسې کار مه کوه لکه افتاب چې کړی ؤ.

۱٤- دغسې کار کوه.

د تشبیه ډولونه

لومړی وېش (د دواړو خواو له مخې)

د تشبیه دواړه خوا وې (مشبه او مشبّه به) په دوه ډوله دي:

۱- حسي.

۲- عقلي.

حسي تشبیه

حسي هغې ته ویل کېږی چې د هغې درک او پېژندنه په پنځو څرګندو حواسو کېدای شي. او عقلي هغې ته ویل کېږي چې درک او پېژندنه یې په عقل صورت مومي.

پنځه څرګند حواس دادي:

۱- باصره (د لیدلو ځواک چې په سترګو کې دی).

۲- سامعه (د اورېدلو ځواک چې په غوږونو کې دی).

۳- ذائقه (د څکلو ځواک چې په ژبه کې دی).

٤- شامه (د بویولو ځواک چې په پوزه کې دی).

٥- لامسه (د لګېدلو ځواک چې په ټول بدن کې دی خو د لاسونو په خپړو کې زیات دی).

نو تشبیه د دواړو خواو په اعتبار په څلور ډوله ده:

١- چې مشبه او مشبه به دواړه حسي وي. لکه په ښکلا کې چې د مخ تشبیه د سپوږمۍ سره ورکړې.

٢- چې مشبه او مشبه به دواړه عقلي وي. لکه په ناپوهۍ کې چې د جهل تشبیه د مرګ سره ورکړې یا لکه: بې لاري د ړوند والي په څېر ده.

٣- چې مشبه حسي وي او مشبه به عقلي وي. لکه د ناپوه استاذ تشبیه چې د ولږې یا تندې سره ورکړې.

٤- چې مشبه عقلي وي او مشبه به حسي وي. لکه د علم تشبیه چې د رڼا سره ورکړې.

خيالي تشبيه

خيالي تشبيه د حسي تشبيه له جملې نه ده او دا هغه ده چې مشبه به وجود و نه لري خو ماده يې موجوده وي لکه:

ستا نرى معتدل قد دى
اى د سپينو زرو سروې

دلته شاعر د ښکلي معتدل قد تشبيه د سپينو زرو د سروې سره ورکړه نو «مشبه به » چې د سپينو زرو سروه ده هيڅ وجود نه لري خو ماده يې شته چې د سروې و نه او سپين زر دي.

وهمي تشبيه

وهمي تشبيه د عقلي تشبيه له جملې نه ده او دا هغه ده چې په څرګندو حواسو د مشبه به ادراک نه کېږي بلکه اصلاً موجوده نه وي خو وهم جوړه کړې وي او که موجوده شي بيا به محسوسه وي لکه د بدرنګو غاښونو تشبيه چې د « ببو » د غاښونو سره ورکړې نو ببو خو نشته خو که واى محسوس به ؤ.

د تشبیه دویم ویش

د تشبیه دویم ویش د إفراد او ترکیب له مخې دی چې د تشبیه دواړه خواوې (مشبه او مشبه به) به یا:

۱- مفردې وي لکه: د کارغه غوندې مخ. چې مخ مشبه دی، کارغه مشبه به دی او دواړه مفرد دي.

۲- یا به مرکبې وي لکه: دوړو کتوب زده کړه لکه د کاڼي کرښه ده. «د وړکتوب زده کړه» مشبه دی او مرکب دی او «د کاڼي کرښه» مشبه به دی او دا هم مرکب دی.

۳- یا به مشبه مرکب وي او مشبه به مفرد وي لکه: د لیلا غاښونه د ږلۍ غوندې دي. «د لیلا غاښونه» مشبه دی او مرکب دی، «ږلۍ» مشبه به ده او مفرد دی.

٤- او یا به مشبه مفرد وي او مشبه به مرکب وي لکه: علم لکه د لمر رڼا ده، علم مشبه دی او مفرد دی «د لمر رڼا» مشبه به ده او مرکب دی.

د تشبيه دريم وېش

د تشبيه دريم وېش د تشبيه د دواړو خواو د شمېر له مخې دی او دا په څلور ډوله ده:

١- ملفوف.

٢- مفروق.

٣- تسويه.

٤- جمع.

١- ملفوف (يو ځای او نړلي): دا هغه تشبيه ده چې مشبه او مشبه به ګڼ او د يوه نه زيات وي خو د مشبه افراد يوې خواته وي او د مشبه به افراد په ترتيب سره بلې خواته وي لکه: علم او جهل لکه رڼا او تياره دي.

«علم» يوه مشبه ده «جهل» بله مشبه ده او دواړه يوې خواته دي «رڼا» يوه مشبه به ده او «تياره» بله مشبه به ده او دواړه بلې خواته دي.

٢- مفروق (جلا): دا هغه تشبيه ده چې دواړه خواوې يې متعددې (ګڼې) وي خو هرې مشبه سره خپله مشبه به يو ځای راغلې وي او هره مشبه او مشبه به د بل مشبه او مشبه به نه جلا راغلي وي لکه:

نفـــاق لکه تورتم دی جنګونه لکه کندې
شـيـطان پکې د يکه کـړو غليم وهي ملنډې

۳- **تسويه:** دا هغه تشبيه ده چې مشبه متعدده وي او مشبه به يوه وي په دې معنا چې د دوه يا ډېرو څيزونو تشبيه د يوه شي سره ورکول شوې وي نو د مشبه ټول افراد په تشبيه کې سره برابر وي لکه:

د بورې وير د کـونډې آه د يتـيـمـانو فـرياد
چې ټول يوځای شي لکه تندر به مانۍ ړنګوي

« د بورې وير ، د کونډې آه ، د يتيمانو فرياد » مشبه ده او ګڼ دي « تندر » مشبه به دی او يو دی.

٤- **جمع:** دا هغه تشبيه ده چې مشبه يو او مشبه به متعدد وي په دې معنا چې د يوه څيز تشبيه د ډيرو سره ورکول شوې وي لکه:

دا پارول به مـې د ظلم سلطه کـړي ډوبه
لکه څپې او طوفانونه چې بېړۍ ډوبوي

« پارول » مشبه ده او يوه ده ، « څپې او طوفانونه » مشبه به ده او ګڼ دي.

د تشبیه ځلورم وېش

د تشبیه ځلورم وېش د ورته والي د وجهې له مخې دی لکه مخکې مو چې وویل د دواړو خواو (مشبه او مشبه به) ترمنځ مشترک وصف د ورته والي وجه بلل کېږي او دا په شپږ ډوله ده:

۱- بېلګېزه (د تمثیل) تشبیه

دا هغه تشبیه ده چې د ورته والي وجه دا سې یو وصف وي چې د ګڼو څیزونو یا حالاتو او مراحلو نه اخیستل شوې وي.
لکه:

دا انسان لکه نبات دی چې پیدا شي.
را تو کېږي بیالو یېږي بیا پناشي

دلته د ورته والي وجه پیدا ینبت او پناه ده چې د نباتاتو د زرغونېدو د مختلفو مراحلو نه اخیستل شوې ده؛ لومړی تنکی زرغونه وي بیا ورو، ورو لویه او کلکه شي بیا بېرته مخ په زوال او په پای کې پنا او له منځه لاړه شي.

بېلګیزه تشبیه تر ټولو بلیغه تشبیه ده.

۲- نابېلګیزه تشبیه

دا هغه تشبیه ته ویل کېږي چې د ورته والي وجه دا سې وصف نه وي چې د ګڼو نه اخیستل شوی وي بلکه له یو د نه اخیستل شوی وي لکه:

د ادیب ژوندون معنا ده
له مادي ژوند نه محروم دی
دا قلم لکه اماده
ډوډۍ نه ګتي مظلوم دی

۳- شیندلې (مفصله) تشبیه

دا هغه تشبیه ده چې د شبه وجه (د ورته والي لامل) پکې څرګند یاد شوی وي لکه عبدالحمید بابا چې وایي:

لکه سرد پسه په اور غانبونه سپین کا
ما له نن له ډیره غمه خندا راغله(۱)

۱- دیوان عبدالحمید: ۹۹.

٤- ریشلې (مجمله) تشبیه

دا هغه تشبیه ده چې د ورته والي لامل پکښې څرګند نه وي یاد شوی لکه: شین ګل لکه زمری دی.

٥- نږدې سپکه (قریبه مبتذل) تشبیه

دا هغه تشبیه ده چې څرګنده وي او د مشبه نه مشبه به ته ذهن ډېر زر او په اسانۍ سره انتقال کوي او کوم دقت او فکر ته اړتیا نه لري لکه د ښکلي مخ تشبیه چې د سپوږمۍ سره ورکړې یا د اننګو تشبیه د ګلاب سره ورکړې.

ابتذال «سپکاوي» ته ویل کېږي نو دې تشبیه ته ځکه «قریب مبتذل» ویل کېږي چې د ورته والي لامل ډېر په اسانۍ سره او ډېر زر پېژندل کېږي نو په ذهن ډېره سپکه تمامېږي او د فکر او دقت دروند والي ته اړتیا نه پېښېږي.

٦- لرې نا اشنا (بعيد غريب) تشبيه

دا د مبتذل تشبيه په خلاف ده چې ډېره څرګنده نه وي او د مشبه نه مشبه به ته ذهن زر او په اسانۍ سره نه اوړي بلکه د دقت او اند ته اړتيا پېښېږي لکه د جړو سوړانې ډول ويښتانو تشبيه چې د «افتيمون» (زېړ تاري) سره ورکړې.

«افتيمون» هغه زېړ بې پاڼو نبات دی چې بيخ نه لري او د مزو په څېر د ځينو ونو د پاسه ډېر جړ جړ پروت وي نو د جړو ويښتانو تشبيه د جړ افتيمون (زېړ تاري) سره څه فکر او دقت ته اړتيا لري نو له همدې امله دا لرې نا اشنا تشبيه ده. او د دې ډول تشبيه د ډولونو نه «خيالي» او «وهمي» تشبيه هم ده چې مخکې د حسي او عقلي په بحث کې وڅېړل شوې.

د تشبه پنځم وېش

د تشبيه پنځم وېش د برخيزونو (اداتو) له مخې دی چې په درې ډوله دی:

۱- مرسله تشبيه: دا هغه تشبيه ده چې برخيزونه پکې ياد شوي وي لکه

مخکې چې گنې ببلگې تېرې شوې.

۲- مؤکده تشبيه: دا هغه تشبيه ده چې د تشبيه برخيزونه ورڅخه

غورځېدلي وي او د ورته والي لامل ياد شوی وي لکه:

په ارزښت کې ته سره زر يې

په ښکلا کې ته قمر يې

اصل کې داسې دی چې: ته لکه سره زر يې او ته لکه قمر يې. خو

«لکه» چې د تشبيه برخيز دی غورځېدلی دی خو د شبه وجه چې ارزښت او

ښکلا دي ياد شوي دي.

۳- بليغه تشبيه: دا هغه تشبيه ده چې برخيزونه او د ورته والي لامل (د

شبه وجه) دواړه ورڅخه غورځېدلي وي لکه:

وعدې دې ډېرې دي خو دوه تو ته ارزښت يې نشته

سر دې کدو دی خو له دې سوړه ده باور پرې نه کړم

په دې کې د سر تشبیه د کدو سره ورکول شوې ده او د خولې تشبیه د سوړې سره؛ د تشبیه برخیزونه هم پکې نشته او د شبه وجه چې بې ارزښتې ده- هم غورځېدلې ده.

د تشبیه شپږم وېش

د تشبیه شپږم وېش نا پرتلیز دی چې په دوه ډوله ده:

۱- ترڅنی (ضمني) تشبیه: دا هغه تشبیه ده چې د مشبه او مشبه به وضع د تشبیه په معلومو صورتونو نه وي شوې بلکه د معنا په ترڅ کې څرګندېږي لکه:

بې غېرته او بې ننګ کله شرمېږي
د غويي عورت که ښکاري څه باک نه کا

۲- سرچپه یا اړولې (مقلوبه یا معکوسه) تشبیه: سرچپه تشبیه هغه ده چې مشبه او مشبه به یو د بل په ځای شي نو دلته ګټه او غرض د مشبه به خوا کې وي او دا هغه وخت راځي چې د ورته والي لامل (د شبه وجه) په مشبه به کې د مشبه نه زیات څرګند او ځواکمن وګڼل شي.

لکه: دا ګل داسې ښکلی دی لکه د لیلا اننګي.

د تشبیه ګټې

تشبیه د ډیرو غرضونو او ګټو لپاره راوړل کېږي او دا ټول په مشبه کې وي لکه: تحسین، د پټ حال او وصف څرګندول، نا اشنا اشنا ګرځول د اوریدونکي په ذهن کې ښه کښېنول، د روند ګڼل، سپکاوی، نادر او سخت ګڼل او داسې نور.

د تشبیه ځینې بېلګې

تشبیه یو داسې بحر دی چې ساحل نه لري او ځینې مشهورې او مستعمل بېلګې یې دا دي:

لکه: د ښکلي مخ تشبیه د سپوږمۍ سره، د بدرنګ مخ د تبۍ او کارغه سره، د زلفو مارانو سره، د زړه ورد زمري سره، د بې زړه د ګیدړ سره، د مکر جن او چلباز د ګیدړ سره، د کم عقل د خره سره، د جنګیالي او غورځنګي د باز سره، د غفلت د خوب سره، د علم او عدل د رڼا سره، د ناپوهۍ او ظلم د تیارې سره، د کلکوالي د تیګې، اوسپنې، فولادو او سندان سره، د نازکوالي د ګل

او پېروي سره، د لوړوالي د غره او اسمان سره، د ټيټوالي د کندې، کوهي او تحت الثرىٰ سره، د نه کېدونکي، نه پېداکېدونکي او نه راګرځېدونکي د مړي او عنقا سره، د پارېدنې او هيجان د طوفان سره، د غضب، غوسې او عصبيت د اور سره، د سوړوالي د واورې ږلۍ او اوبو سره، د تېزاس د باد سره، د ښو خبرو د مرغلرو سره، د بې ځايه مداخله کوونکي د مچ سره، د ضرر رسونکي د مار او لړم سره، د سخي د حاتم طائي سره، د حريص د کارغه او ګونګټې سره، د ګړندي د باد سره، د سست او سوړ د مېښې سره، د ګرم او تېز د مرچک سره، د بې شرم او سپين سترګي د سپي سره، د ضدي د أبوجهل سره، د رېښتوني د ابوبکر رضی الله عنه سره د عادل د عمر بن الخطاب او عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنهما سره د سخي د عثمان رضی الله عنه سره د زړه ور د علي رضی الله عنه سره د ظالم د حجاج بن يوسف سره.

عيبجنه تشبيه

ښه تشبيه هغه وي چې بې تکلفه پرې اورېدونکی پوه شي او د شبه وجه څرګنده وي او عيبجنه هغه تشبيه ده چې د شبه وجه او لامل يې څرګند نهء وي؛ يا هغه وجه چې د متکلم مراد وي د تشبيه وجه نه شي ګڼل کېدای؛ يا د شبه وجه ډېره ناوړه سخيفه او بې خونده وي؛ يا په مشبه به کې داسې يو وصف د شبه وجه وښودل شي چې هغه په مشبه کې هيڅ نهٔ وي؛ يا د مشبه او مشبه به

تر منځ وصف سم وي خو د متکلم په وینا کې هغه قوت نه وي چې تعبیر یې د شبه وجه څرګنده کړي؛ نور ګڼ عیوب هم کېدای شي چې د أدبي ذوق څښتنان یې ښه پېژني.

بېلګې یې دادي:

میرزا حنان بارکزی وایي:

دایې خال دی چې تر زلفو لاندې کښېلی
که مېږي د مار په خوله کې ځای نیولی

دلته د تندي خال د مار په خوله کې د مېږي سره مشابه ګڼل شوی دی چې د تشبیه وجه ببخي ناسمه او بې خونده ده ځکه چې تندی او د مار خوله هېڅ ورته والی نه لري؛ که څوک یې په تکلف ورته والی ثابتوي نو داسې به ښکاري لکه چې یو څوک ووایي: د لیلا په مخ خال داسې ښکاري لکه په تېږه باندې چې مچ کښېني؛ سره له دې چې تېږه هم سپین دی خو هر سپین ښکلی نه وي او د لیلا مخ هم سپین دی چې ښکلی دی او په تیږه چې مچ کښېني هم له ورایه ښکاري او د لیلا د مخ خال هم له ورایه ښکاري خو دا تشبیه بیخي ناسمه ده ځکه چې د لیلا د مخ خال ښکلی ښکاري او په تېږه مچ هېڅ ښکلی نه ښکاري نو څرګنده شوه چې دلته د شبه وجه او لامل هیڅ وجود نه لري.

یا لکه د میرزا حنان دې لاندې بیتونو کې د تشبیه عیبونه:

(۱) قد دې راست دی همېشه تر رسا فکر
ځکه يم مشغول دا ستا د قد په ذکر

دلته د سم او ښکلي قد تشبيه د رسا فکر سره نه جوړېږي ځکه چې فکر جوهر دی او قد جسم دی د فکر سموالی د قد د سموالي په څېر په ذهن او تصور کې نه مجسم کېږي نو د ورته والي لامل هم سم نه برېښي. که ديود کار، نظام او خبرې د سموالي تشبيه د رسا فکر سره ورکول شوې وای نو بيا سمه وه او د تشبيه هغه ډول بلل کېده چې مشبه حسي وي او مشبه به عقلي وي خو دلته يواځې سموالی نه بلکه د سموالي د ښکلا تشبيه ښه نه برېښي.

البته په دوهم بيت کې تشبيه ښېخي سمه او ښکلې ده چې وايي:

دا قد نه دی يوه سروده نازکه
په رفتار يې له هوښياره کړه لار ورکه

دلته د سم قد او د سروې د ونې ترمنځ تشبيه ښېخي سمه ده او د شبه وجه بالکل څرګنده ده.

(۲) ساعد نه دی دوه ښاخونه د مرجان دي
خلقي يې په ديدن پسې حيران دي

دلته د دوه متو تشبيه د مرجانو د دوه ښاخونو سره ورکول شوې ده خو افسوس چې مرجان ښاخونه نه لري نو ځکه تشبيه سمه نه برېښي. او که بوټی تری واخلې نو شاذ لغت دی او پښتو کې هېڅ استعمال نه لري.

(۳) وه څه غوږ دی او که گل دی په چمن کې
که توی شوې شگوفه ده په چمن کې

دلته د غوږونو تشبیه د چمن کې گل او پرېوتې شگوفې سره ورکول شوی ده چې هېڅ سمون نه خوري او تشبیه سمه نه برېښي.

مجاز

مجاز د بیان د علم یو ارزښتناک بنسټ دی چې د کلام د ښکلا او پراخوالي، د معنا څرگندولو او زیاتوالي، د تعبیر د باریکیو او نورو گټو او غرضونو لپاره راوړل کېږي. د بیان علم مجاز څېړي نو له دې امله مونږ د مجاز عنوان کېښود او حقیقت ته مو په عنوان کې ځای ورنه کړ خو د مجاز د پېژندلو لپاره حقیقت هم باید و پېژنو.

د یوه لفظ نه هغه معنا اخیستل چې کومه ورته وضع شوې ده او بنسټیزه معنایې ده، حقیقت دی.

لکه هر شي لپاره چې د افهام او تفهیم له أمله یو ځانگړی نوم ایښودل شوی دی. او مجاز په لغت کې تېرېدونکي یا تېرشوي ته ویل کېږي.

په اصطلاح کې مجاز هغه لفظ ته ویل کېږي چې د څه مناسبت او اړیکو له أمله د أصلي وضع شوې معنا نه پرته په بلې معنا استعمال شوی وي خو داسې قرینه او نښه وي چې حقیقي معنا نه شي اخیستل کېدای.

د حقيقي او مجازي معنا تر منځ اړيکي او مناسبت به کله مشابهت و، چې دې ډول ته «استعاره» ويل کېږي او کله به نور مناسبتونه وي چې دې ډول ته «مرسل مجاز» ويل کېږي.

حقيقت او مجاز په لومړي وېش سره درې ډوله دي:

۱- لغوي.

۲- شرعي.

۳- عرفي.

خو کله چې مطلق مجاز ياد کړای شي او د لغوي، شرعي او عرفي قيد ورسره نه وي نو مراد ترې لغوي مجاز وي. که د لغت (ژبې) په اصطلاح کې راوړل شوی وي لغوي حقيقت يا مجاز دی.

که د شريعت په اصطلاح کې راوړل شوی وي شرعي حقيقت يا مجاز دی.

که د دود او رواج په محاوره کې راوړل شوی وي عرفي حقيقت يا مجاز دی.

د بېلګې په توګه:

۱- «زمری» چې د يوه ځانګړي ځناور نوم دی د دغه ځناور په هکله لغوي حقيقت دی او د زړه ور انسان په هکله لغوي مجاز دی چې استعاره بلل کېږي.

۲- «لمونځ» د ځانګړي عبادت لپاره شرعي حقیقت دی او د ښې یادونې لپاره لغوي مجاز دی.

۳- «ځناور» د درنده ګانو لپاره عرفي حقیقت دی او د کم عقل انسان لپاره عرفي مجاز دی.

مجاز لومړی په دوه ډولو وېشل کېږي- نور ډولونه یې ډېر دي چې وروسته به راشي- هغه دوه ډله دا دي:

۱- مرسل مجاز.

۲- استعاره.

دا دواړه بیا مفرد او مرکب لري. مفرد یې په کلمه کې او مرکب یې په کلام کښې راځي.

لغوي مفرد مرسل مجاز

دا هغه کلمه ده چې د ځینو اړیکو له امله قصداً په أصلي معنا کښې نه وي استعمال شوې خو داسې څه قرینه او نخښه وي چې د متکلم اصلي معنا مراد نه ده.

او دا أړیکي ډېر زیات دي چې د سالم ادبي ذوق څښتن یې پېژني؛ ځینې یې دا دي:

۱ - د سبب نه مسبب اخیستل

سبب د یو د شي « کبل » ته ویل کېږي او مسبب هغه شي ته ویل کېږي چې د هغه بل له کبله منځ ته راغلی وي.

لکه: وربځ د باران لپاره سبب دی او باران مسبب دی؛ که څوک ووایي: وربځ ووربېده د وربدونه مقصد باران ورېدل دي. دا مرسل مجاز شو، یا ووایي: ژرنده مې را وړه او مقصد یې د اوړو راوړل وي نو ژرنده د اوړو سبب دی او اوړه مسبب دی؛ دلته سبب یاد شو او مراد ترې مسبب دی نو دا مفرد مرسل مجاز شو.

یا ووایي: سلیمان ته لاس ورکړه. نو دلته لاس سبب دی او مراد ورڅخه مدد او مرسته ده چې مسبب دی.

۲ - د مسبب نه سبب اخیستل

لکه څوک ووایي: ډېر غنم و ورېدل. نو غنم نه وریږي بلکه باران وریږي چې د غنمو کېدو لپاره سبب دی او غنم مسبب دی خو دلته د مسبب نه چې غنم دي سبب واخیستل شو چې باران دی.

۳- د لازم نه ملزوم اخيستل

لازم هغه شي ته ويل کېږي چې د هغه وجود د يوه بل شي د موجوديت په وخت کې منځ ته راځي لکه لمر ملزوم دی او ورځ لازم. که څوک وايي چې: ورځ را وخوته او مقصد يې د لمر راختل وي نو دلته د لازم نه ملزوم واخيستل شو.

٤- د ملزوم نه لازم اخيستل

لکه چې څوک وايي: سترګې يې پکې خښې کړې.

نو د دې نه مراد د سترګو کتل او نظر دی نظر لازم او سترګې ملزوم دی دلته ملزوم نه لازم واخيستل شو او دا هم مفرد مرسل مجاز دی.

٥- د کل نه جزء اخيستل

کل ټول ته ويل کېږي او جزء يوې برخې ته ويل کېږي.

لکه چې څوک وايي: د چينې اوبه مې وڅښلې نو د چينې د ټولو اوبو

ښـودل خو ممکن نه دي دلتــه مراد د چینې د اوبو یوه برخه ده نو کل چې ټولې اوبه دي یاد شو او مراد ترې جزء دی چې د اوبو یوه برخه ده.

٦- د جزء نه کل اخیستل

لکه چا ته وواییې: ســترګې دې را واړوه نو یوائې ســترګې خو نه را اوړي مراد ترې ټول مخ دی چې سترګې یې یو جزء یا برخه ده. دلته جزء یاد شو چې سترګې دي او کل ترې واخیستل شو چې مخ دی.

٧- د آلې نه د هغې اغېزه اخیستل

کله کله د یوه کار آله یادېږي خو مراد ترې د آلې اغـېزه او کار وي لکه د پښتو متل دی چې:

ژبه هم کلا ده هم بلا ده.

نو دلته د ژبې نه مراد خبرې دي چې ښې خبرې کلا ده او انسان له کړاوونو او بدو عواقبو څخه ژغوري او بدې خبرې بلا ده انسان په کړاوو اخته کوي.

۸- د عام نه خاص اخیستل

لکه کومې غونډې ته ډېر خلک راغلي وي او څوک ووايي:

پښتنو، تاجکانو، ازبکانو، هزاره وو، نورستانیانو او پشه یانو په غونډه کې ګډون کړی ؤ.

نو دلته د هر قوم ټول افراد مراد نه دي بلکه هغه خاص خلک دي چې په غونډه کې یې ګډون کړی ؤ.

۹- د خاص نه عام اخیستل

لکه «بېټنیان» چې د بېټ نیکه اولاد دی او بیټ د یوه خاص سړي نوم دی چې د پښتنو د یوې قبیلې نیکه ؤ خو دلته ترې عام واخیستل شول.

۱۰- د تېرې زمانې له مخې

کله کله یو چاته د تېرې زمانې له مخې نوم اخیستل کېږي لکه چې یو څوک په تېر وخت کې په کوم حکومتي منصب پاتې شوی وي او بیا وروسته یې هغه منصب پرې ایښی وي یا متقاعد وي خو په هماغه نامه یادېږي لکه

قاضي، جنرال، مدير، معلم او داسې نور.

۱۱- د راتلونکې زمانې له مخې

د راتلونکې په اعتبار هم کله کله يو څوک ياديږي لکه د طب پوهنځي محصل ته چې ډاکټر ووايې نو هغه لا ډاکټر شوی نه وي خو راتلونکي وخت کې د بريالیتوب او فراغت په صورت کې ډاکټر ګڼل کيږي؛ د همدې راتلونکې په اعتبار ورته ډاکټر ويل لغوي مفرد مرسل مجاز دی.

۱۲- د ظرف نه مظروف اخيستل

ظرف لوښي ته ويل کيږي او مظروف هغه شي ته ويل کيږي چې دې لوښي کې پروت دی يا ورپورې نښتی دی کله کله ظرف ياد شي خو مراد ورڅخه مظروف وي لکه: وياله بهيږي. وياله ظرف دی او اوبه پکې مظروف دی نو وياله خو نه بهيږي مراد ترې اوبه دي چې بهيږي.

يا څوک ووايي: سر مې لنډ کړ. او مراد يې د سر ويښتان وي نو سر ظرف دی او ويښتان پرې مظروف دی او د سر د لنډولو نه مراد د ويښتانو لنډول دي.

۱۳- د مظروف نه ظرف اخیستل

لکه: اوبه وچې شوې. اوبه خو نه وچېږي خو مراد ترې د مځکې، ویالې او یا بل ظرف وچېدل دي.

۱۴- د بدل اړیکي

کله کله یوه کلمه یا لفظ استعمال شي او مراد ترې بل لفظ وي لکه: لمونځ مې خلاص کړ یا لمونځ مې ختم کړ او د دې ختمېدو نه مراد د لمانځه ادا کول وي.

۱۵- د عوض اړیکي

لکه: پیسې مې وخوړې پیسې خو نه خوړل کیږي بلکه مراد ترې هغه شی دی چې په پیسو اخیستل شوی وي.

۱۶- د ګاونډیتوب اړیکي

لکه: افغانستان د پاکستان سره خبرې وکړې.

افغانستان او پاکستان هېوادونه دي او خبرې نه شي کولای؛ مراد ترې د افغانستان او پاکستان ځيني مسؤل اشخاص دي.

۱۷ - اشتقاقي اړيکي

کله کله يو صيغه ياد د شي او مراد ترې بله صيغه وي لکه چې مصدر ياد شي او مراد ترې اسم مفعول وي لکه:

دا د الله پېدايښت دی. مراد ترې د الله تعالی پېدا کړای شوي شيان دي.

يا: تورپېکی ستر دد يعنی مستور دد. او داسې نور.

دا ټول د لغوي مفرد مرسل مجاز ډولونه دي.

مجاز کې ايجاز وي نو له همدې امله د بلاغت يو ارزښتناک بنسټ دی که مونږ ووايو:

۱ - جلال آباد کې يو لويه غونډه وشوه دې غونډې په افغانستان کې هر ډول بهرنی لاسوهنه و غندله. يا:

۲ - جلال آباد کې يو لويه غونډه وشوه دې غونډې ټولو ګډون کوونکو په افغانستان کې هر ډول بهرنی لاسوهنه و غندله.

په لومړنيو جملو کې غندونکې غونډه شوه او په دويم ډول جملو کې غندونکي د غونډې ټول ګډون کوونکي شول.

اول عبارت کې د غونډې غندنه مجاز دی او په دوهم عبارت کې د ګډون کوونکو غندنه حقيقت دی؛ د مجاز عبارت د حقيقت د عبارت په نسبت لنډ

دی او ایجاز پکې دې نو ځکه بلیغ دی.

استعاره

استعاره په لغت کې د عاریت (امانت) طلب ته ویل کېږي. خو هغه امانت چې د څه وخت لپاره ترې ګټه اخیستل کېږي. عربي کې امانت هغه ته ویل کېږي چې چا سره د ساتنې لپاره کېښودل کېږي او استعمال یې نه شي کېدای او عاریت هغه ته ویل کېږي چې د استعمال او ګټې اخیستلو لپاره وي لکه له چا څخه کتاب د مطالعې لپاره واخلې یا جامې د اغوستلو لپاره واخلې او بیا یې په ټاکلي وخت بیر ته ورکړې.

په اصطلاح کې استعاره هغه لفظ ته ویل کېږي چې د مشابهت (ورته والي) له أمله د اصلي وضع شوې معنا نه پرته په بله معنا استعمال شوی وي.

د مرسل مجاز سره د استعارې توپیر دا شو چې: په مرسل مجاز کې لامل د مشابهت نه پرته نور اړیکي وي لکه مخکې چې تېر شول او په استعاره کې اړیکي مشابهت وي.

او د تشبیه سره یې توپیر دا دی چې په استعارې کې یوازې مشبه به یادېږي او د مشبه یادونه پکې نه کېږي همدارنګه د تشبیه برخیز او لامل هم نه یادېږي. او په تشبیه کې د دواړو یا ټولو یادونه کېږي. استعاره د تشبیه نه ډېره بلیغه وي.

د ببلګې په توګه که څوک ووايي: ما په پوهنتون کې د زمري غوندې سړی ولید.

دا تشبیه شوه «زمری» مشبه به، «غوندې» د تشبیه برخیز، او «سړی» مشبه دی.

خو که ووايي: زمری مې ولید. او مراد يې زړه ور سړی وي نو دا استعاره شوه د زمري نوم يې د زړه ور سړي لپاره عاريةً واخیست او پرې یاد يې کړ.

د استعارې بنسټونه

استعاره درې بنسټونه لري:

۱- مستعارمنه: یعنې له چا نه چې اخیستنه شوې (چې مشبه به دی).

۲- مستعار له: یعنې د چا لپاره چې اخیستنه شوې (چې مشبه دی).

۳- مستعار: یعنی هغه نقل شوی او اخیستل شوی لفظ.

«مستعار منه» او «مستعار له» د استعارې دواړه خواوې بلل کېږي.

د ببلګې په توګه:

نن مې په کلي کې درياب ولید
د جنت لوري ته مې باب ولید

دلته د سخي انسان لپاره د «درياب» لفظ د استعارې په توګه را اخیستل شوی دی او د سخاوت کارته د جنت باب (دروازه) استعاره شوی دی او مشبه

به ياد شوي او د تشبيه نور اركان غورځېدلي دي. دا استعاره شوه.

په دې كې د استعارې بنستونه دا دي:

(١)

درياب: مستعار منه.

سخي انسان: مستعار له (چې محذوف دی).

درياب: مستعار.

(٢)

د جنت باب: مستعار منه.

سخاوت: مستعار له.

باب: مستعار.

د استعارې لومړی وېش

په لومړي وېش استعاره په درې ډوله ده:

١- تصريحي (څرګنده).

٢- كنايي (پټه).

٣- خيالي (په اند كې).

۱- تصريحي استعاره

که په خبرو کې يوازې مشبه به ياد کړای شي دې ته تصريحي (څرگنده) استعاره ويل کېږي او تحقيقي استعاره هم بلل کېږي.

لکه:

ستورونه پرخه په گلاب ورېږي
که مرغلرې په بخمل دي تېتې

په دې شعر کې شاعر د استعارې په توگه د سترگو لپاره ستوري او د اوښکو لپاره پرخه او د أننگو لپاره گلاب را أخيستی او بيايې په بخمل باندې د تيتو او خپرو مرغلرو سره تشبيه ورکړې ده چې د اوښکو لپاره يې مرغلرې او د اننگو لپاره يې بخمل استعاره کړي دي.

په دې ټولو کې مشبه غورځېدلی او يوازې مشبه به ياد شوی دی، دې ته تصريحي يا تحقيقي استعاره ويل کېږي.

٢ - ٣ - کنایي او خیالي استعاره

که په خبرو کې مشبه به وغورځېږي او یوائې مشبه یاد شي خو مشبه به ته داسي اشاره وشي چې تشبیه ترې لازمېږي یعنې د مشبه به څه لوازم یاد کړای شي. دې ته « کنایي استعاره » ویل کېږي او « مکنیه استعاره » هم بلل کېږي؛ د کنایي استعارې په ترڅ کې خیالي استعاره هم څرګندېږي ځکه چې خیالي استعاره اصلاً د کنایي استعارې قرینه او نخښه وي.

لکه:

سور زما وطن ؤ د غیرت له حرارته
داړې د غلیم شولې اختـه په څـړیکو څړیکو

دلته د غلیم تشبیه د یوه بدځناور سره ورکول شوې ده خو مشبه به، چې بد ځناور دی، غورځېدلی دی؛ د مشبه به لوازم، چې « داړې » دي، یادې شوې دي نو دا کنایي یا مکنیه استعاره شوه او د دې په ترڅ کې خیالي استعاره هم څرګنده شوه او هغه دا چې شاعر په خپل خیال کې د غلیم نه یو سپی یا بد ځناور جوړ کړی دی او د وطن نه یو سور ګرم شی؛ سپی یا بد ځناور چې کله په ډېر ګرم شي داړې ښخې کړي نو ډېر برېښ نه یې په غاښونو کې د دردونو څړیکې شي او په کوړنج کوړنج هغه ګرم شی پرېږدي او وتښتي.

شاعر هم وایي چې زما وطن زما د وګړو د غیرت له امله ډېر ګرم ؤ او کله

چې غليم ورته وبلوسېده او يرغل يې پرې وکړ، د سختې درد وونکې ماتې سره مخ شو او وتښتېد.

د استعارې دوهم وېش

تحقيقي استعاره په دوه ډوله ده:

١ - حسي.

٢ - عقلي.

١ - تحقيقي حسي استعاره

حسي استعاره هغه ده چې د مستعار له درک په حواسو کېداى شي لکه:

د بې زړه په هکله ووايې: گيدړ دى.

دلته مستعار له بې زړه دى او محسوس دى دا حسي استعاره شو.

٢ - تحيقي عقلي استعاره

عقلي استعاره هغه ده چې د مستعار له درک عقلا کېداى شي. لکه د محمود اخلاق چې د مرغلرو سره مشابه کړې او بيا مشبه چې اخلاق دي، حذف

کړي او مشبه به چې مرغلري دي، یاده کړي او وو ایې:

محمود په مرغلرو کې پټ دی. نو مستعار له چې ښه اخلاق دي په حواسو نه درک کېږي خو په عقل یې درک کېدای شي.

د استعارې دریم وېش

استعاره د مستعار په اعتبار په درې ډوله ده:

۱- اصلیه.

۲- تصریحي تبعیه.

۳- کنایي تبعیه.

۱- أصلیه

اصلیه هغه استعاره ده چې مستعار جامد نوم یا مصدر وي لکه ښکلي مخ لپاره چې سپوږمۍ استعاره کړي یا وهلو ته وژل استعاره کړي.

أصلیې ته ځکه أصلیه ویل کېږي چې په مفهوم کې مستقله وي او د بل شي تابع نه وي.

۲- تصریحي تبعیه

تصریحي تبعیه هغه استعاره ده چې مستعار فعل وي لکه: حال وایي چې هغه به راشي.

دلته د حال ویلو نه مطلب د هغه ثرگند قرائن او نښې دي د ثرگندو نښو لپاره «حال وایي» استعاره شو او وایي فعل دی. نو دا تصریحي تبعیه استعاره شوه.

۳- کنایي تبعیه

دا هغه استعاره ده چې مستعار مشتق نوم وي لکه:

په خولې باندې غندنه د بې ننگو علامه ده
غندونکی یم په توره د عمل میدان ته ځم

دلته «غندونکی» اسم فاعل دی او د «وژونکي» دپاره مستعار دی. او تبعیې ته ځکه تبعیه ویل کېږي چې په مفهوم کې د مصدر تابع وي.

د استعارې څلورم ویش

د دواړو اړخونو (مستعار منه او مستعار له) په اعتبار مصرحه يا تصريحي استعاره په دوه ډوله ده:

١- عناديه.

٢- وفاقيه.

١- عناديه

دا هغه استعاره ده چې دواړه خوا وې يې په يوه شي کې نه شي يوځای کېدای لکه بې لارې شخص ته چې د مړ لفظ استعاره شي نو مرگ او بې لارې په يوه شخص کې نه يو ځای کېږي ځکه چې بې لارې د ژوندي په هکله ويل کېږي خو دلته د استعارې په ډول بې لارې ته مړ وويل شو او دا عناديه استعاره ده.

٢- وفاقيه

دا هغه استعاره ده چې دواړه خوا وې په يوه شي کې يو ځای کېدای شي لکه: ژوند او هدايت دواړه په يوه شخص کې يو ځای کېدای شي، که هدايت

مـوندونکي شخص ته ژوندی وويل شي او دا ژوند د هدايت لپاره استعاره شي دا وفاقيه استعاره ده.

د استعارې پنځم ويش

عنادي استعاره په دوه ډوله ده:

۱- تمليحيه.

۲- تهکّميه.

۱- تمليحيه

دا هغه استعاره ده چې مستعار د خپلې معنا په ضد استعمال شي لکه بې زړه سړي ته چې د زمري لفظ مستعار کړې.

۲- تهکّميه

دا هغه استعاره ده چې د ټوکې او استهزاء په توګه مستعار د خپلې معنا په خلاف استعمال شي. لکه:

يو چا ته د وهلو په وخت کې ووايې چې:

اوس به خوشحال شې یا: اوس به درته خوند درکړي. حال دا چې په وهلو انسان خفه کېږي خو دلته د استهزا ء په توګه د خفګان لپاره خوشحالي او خوند مستعار یاد شوي دي.

د استعارې شپږم وېش

د استعارې د دواړو خواو (مستعار منه او مستعار له) د مشترک مفهوم په اعتبار استعاره په دوه ډوله ده:

۱- عامیه مبتذله.

۲- خاصیه.

۱- عامیه مبتذله

دا هغه استعاره ده چې هر څوک پرې پوهېږي او زیاتې څېړنې او پلټنې ته اړتیا نه پېښېږي لکه: د خبر لوڅ انسان په هکله وایې: طوطي دی.

دې ډول استعارې ته «عامیه» هم ویل کېږي او «مبتذله» هم بلل کېږي.

په دې کې د دواړو خواوو مشترک مفهوم (ورته والی) ډېر څرګند دی چې ډېرې خبرې کول دي.

۲- خاصيه غريبه (نا اشنا)

دا هغه استعاره ده چې هرڅوک پرې نه شي پوهېدای او خاص خاص وګړي پرې پوهېږي چې د ادبي ذوق څښتنان وي. لکه د رسول الله صلی الله عليه و سلم د هدایاتو او ښو اخلاقو په هکله دا شعر:

تل پخه خوږه مېوه ده، نه، مه، ولې، انکار نشته
اوړی ژمی ورته يو دی، د موسم انتظار نشته

په دې کې شاعر د رسول الله صلی الله عليه وسلم اخلاق، لارښوونې، عدل، انصاف او د ژوند نظام د مېوې سره مشابه کړل او مشبه يې حذف کړ يوائې مشبه به يې د استعارې په توګه ياد کړ بيا يې د دې ټولو ګټې او ارزښتونه د خوږوالي او پوخوالي په استعارې ياد کړل. او داسې تل پاتې او بې توپېره يې و بلل چې هر وخت کې يې هر چا ته ګټې رسېږي.

دې دومره باريکو استعارو ته د هر چا ذهن نه رسېږي او يوائې د ادبي ذوق څښتنان پرې پوهېږي نو ځکه ورته ځانګړې نا اشنا استعاره ويل کېږي.

د استعارې اوم ويش

دواړو خواو سره د اړيکو او مناسبتونو له مخې استعاره په درې ډوله ده:

۱- مطلقه.

۲- مرشحه.

۳- مجرده.

۱- مطلقه (يوائې) استعاره

دا هغه استعاره ده چې د دواړو خواو (مستعار منه او مستعار له) سره د اړيکو او مناسبت لرونکو الفاظو يادونه پکې نه وي. لکه:

زمرى راغى. او مراد ترې بهادر انسان وي.

يوائې ځکه بلل کېږي چې د دواړو خواوو اړيکي لرونکي الفاظ ورسره نه وي ياد شوي.

۲- مرشحه (ځواکمنه) استعاره

دا هغه استعاره ده چې د مستعار منه (مشبه به) سره اړيکي او مناسبت لرونکى څه لفظ يا الفاظ پکې ياد شوي وي. لکه:

رينبتيا را ونيسه دا ډېره د گټې سودا ده.

دلته د ويلو لپاره را نيول (اخيستل) استعاره شول او ددې را نيولو سره مناسبت لرونکي الفاظ گټه او سودا ده.

ځواکمنه ځکه بلل کېږي چې په مناسبو الفاظو يې ملاتړ شوی وي.

٣- مجرده (لغړه) استعاره

دا هغه استعاره ده چې د مستعار له (مشبه) سره مناسبت لرونکي الفاظ ورسره راغلي وي. لکه د عدل او إنصاف د نظام په هکله دا شعر:

شپه تېره شوه ځرګند شو نن سبا د تو پيرونو
اوس ببلې سمې لارې شوې له کندو ګړنګونو

په دې شعر کې د ظلم او نابرابريو دور ته د شپې استعاره او د عدل او انصاف دور ته د سبا استعاره استعمال شوه او بيا د عدل او انصاف- چې مستعار له دی- سره اړيکي لرونکي الفاظ سمې لیارې يادې شوې او د ظلم- چې مستعار له دی- سره اړيکي لرونکي الفاظ ياد شول چې: کندې او ګړنګونه دي.

لغړه استعاره له دې امله بلل کېږي چې زيا ته مبالغه پکې نه وي.

تمثيلي (د متل) استعاره

دا هغه ترکيب يا خبرې دي چې د ورته والي له أمله په اصلي معنا کې نه وي استعمال شوې او داسې نښه وي چې اصلي معنا ترې اخيستل کېدای نه

شي. لکه:

«ترکاڼي د بيزو کار نه دی»

دا متل په هغه ځای کې ويل کېږي چې څوک داسې يو کار ته ځان وړاندې کړي چې د وس او استعداد نه يې پوره نه وي.

د دې متل د جوړېدو اصلي کيسه داسې وه چې يوه ترکاڼ په غرد کې لرګي وهل د ورځې په اخر کې يو لرګی داسې پاتې شوی دی چې په منځ باندې د چولو او دوه ځايه کولو لپاره يې پکې پانې تک وهلې دي څه چاود پکې شوی دی او نوريې پرې ايښی دی يوه بيزو راغلې ده او په لرګي ناسته ده په پانو يې زورونه کړي دي کله چې پانې وتلې دي چاود سره ورغلی دی او د بيزو د بدن څه پوستکي پکې نښتي دی سبا چې ترکاڼ راغلی او د بيزو حال يې ليدلی دی پوه شوی چې بيزو پخپله په ځان کړي دي نو پانې يې بېرته ډک وهلې دي او بيزو خلاصه شوې ده په دې وخت کې ترکاڼ ويلي دي چې:

«ترکاڼي د بيزو کار نه دی» نو دا متل پاتې شو. اوس اصلي معنا ترې نه شي اخيستل کېدای خو لکه مخکې مو چې وويل په مناسب ځای کې د استعارې په ډول ويل کېږي او دې ته تمثيلي يا د متل استعاره ويل کېږي؛ د پښتو ټول متلونه تمثيلي استعارې دي؛ کله کله د متل نه پرته هم تمثيلي استعاره را تلای شي لکه:

له هغه باغ نه به څنګه مېوه واخلې
چې ته بوټې نالـوې بل يې اوباسي

دا هغه ځای کې ويل کېږي چې يو، تعميري او بل تخريبي کارونه کوي.

تمثيلي استعاره د متل يا بېلګې نه اخيستل شوې وي.

مرکب مرسل مجاز

دا هغـه جـمله يا کـلام دی چې د مـشـابهت نه پرته د ځـينو اړيکو لـه أمله قصداً په اصلي معنا کې نه وي استعمال شوی خو داسې قرينه او نښه وي چې اصلي معنی ترې نه شي اخيستل کېدای. لکه:

زما په ټاټوبي چې يرغل کوي زما جنګ ته دې تيار شي.

دلته «جنګ ته دې تيار شي» جمله ده نو مـرکب شو اوامر دی خو مراد ترې خبر دی چې داسې راځې: «جنګ ته تيارېږي».

کنایه

کنایه په لغت کې پټولو او بدلولو ته ویل کېږي چې د تصریح او ډاګیزې خلاف ده او په اصطلاح کې هغه لفظ دی چې د اصلي معنا نه پرته بله معنا ترې اخیستل کېږي؛ د اصلي معنا اخیستل هم کېدای شي ځکه چې داسې قرینه نه وي چې د اصلي معنا اخیستل منع کړي او د مجاز سره یې توپیر هم همدا وروستني دوه قیدونه دي چې د اصلي معنا اخیستلو جواز او د داسې قرینې نشتوالی دی چې د اصلي معنا اخیستلو مانع شي. لکه یو څوک ووایي:

«ماهم څه د کدوانو پانې نه دي لوستي»

مطلب دا چې زه هم پوهېږم خو اصلي معنا هم اخیستل کېدای شي چې: کتابونه مې لوستي دي او د کدوانو پاڼې مې نه دي لوستي.

د کنایې لومړی ویش

د هغې معنا په اعتبار چې اشاره ورته کېږي کنایه په درې ډوله ده:

۱- د صفت نه کنایه.

۲- د موصوف نه کنایه.

۳- د نسبت نه کنایه.

۱- د صفت نه کنایه

دا هغه کنایه ده چې د یوه شي ځانګړتیا (صفت) ته پرې اشاره کېږي لکه د ځوانۍ، مروت، سړیتوب ښښتن او مېلمه دوست انسان په هکله وایې:

«لوی دسترخوان لري»

چې د مېلمه دوستۍ او نورو ښو ځانګړتیاوو نه کنایه ده، خو اصلي معنا هم اخیستل کېدای شي چې ریښتیا یې د سترخوان لوی وي.

لوی دسترخوان ډېرې ډوډۍ او خوړو لپاره وي او ډېرې ډوډۍ او خواړه د ډېرو وګړو لپاره وي.

۲- د موصوف نه کنایه

دا هغه کنايه ده چې موصوف ته پکې اشاره وي.

لکه بخيل انسان ته چې د خپل مال څوکيدار ووايې، يا قندهار ته د انارو وطن ووايې.

۳- د نسب نه کنایه

دا هغه کنايه ده چې نسبت ترې مراد وي لکه: توره په اصل غوڅه کوي.

دا د اوچت نسب نه کنايه ده.

د کنايې دوهم ويش

د صفت نه کنايه په دوه ډوله ده:

۱- نږدې (قريبه).

۲- ليرې (بعيده).

۱ - نږدې کنایه

دا هغه کنایه ده چې له یوې معنا نه بلې ته انتقال پکې بې واسطې شوی وي. لکه «جنګېرکې»، «کنځلمارې» او «بد اخلاقه» ښځې ته چې «ژبه وره» ووایې.

۲ - لیرې کنایه

دا هغه کنایه ده چې له یوې معنا نه بلې ته انتقال پکې په یوه یا ډېرو واسطو سره وي. لکه:

«د ګل نواز د کور ایرې ډېرې دي»

د ایرو ډېروالی د اور په ډېروالي دلالت کوي او د اور ډېر والی د ډېرو خوړو په پخولو دلالت کوي او د ډېرو خوړو پخول په ډېرو مېلمنو دلالت کوي نو دا د مېلمه دوستۍ نه کنایه شوه.

د کنايې دريم وېش

د لوازمو او سياق په اعتبار کنايه په څلور ډوله ده:

۱- تعريض.

۲- تلويح.

۳- رمز.

٤- إيماء.

۱- تعريض

تعريض په لغت کې د ډاګيزې خبرې خلاف ته ويل کېږي، او په اصطلاح کې هغه کنايه ده چې يوه خبره وشي او د خبرې سياق (چلښت) او ترخ کې بلې معنا او خبرې ته اشاره وشي. لکه د دوه مخي او منافق سړي په مخکې چا ته ووايې:

«سړی هغه دی چې مخامخ او پسې شا يو ډول وي او يوه خبره کوي»

دې کې هغه دوه مخي منافق ته اشاره وشوه چې ګڼې ته سړی نه يې. دا تعريض شو.

يا لکه يو سړي نه چا پوښتنه وکړه چې تر ټولو ښه او لايق سړی څوک دی ؟
هغه وويل: يره د ځان ستاينه ښه کار نه دی. يعني زه يم.
بيا يې تری پوښتنه وکړه چې تر ټولو بد او خراب سړی څوک دی ؟
هغه ورته وويل: يره ستا دښمني هم په سر نه شم اخيستلای. مطلب دا شو چې ته يې.

۲- تلويح

تلويح په لغت کې يو پړق يا څرک ته ويل کيږي او په اصطلاح کې هغه کنايه ده چې د تعريض نه پرته واسطې او لوازم ولري لکه چې د غريب او مسکين متکبر په هکله وايې:

«د خپلې شړۍ سره سمې پښې نه غزوي »

نو د شړۍ سره سمې پښې غزول په خپلې برخې صبر او د خپل اقتصاد او حيثيت سره سم چلېدل دي او د تکبر لويي او بې اندۍ لوازم د دې خلاف دي.

۳- رمز (پټه اشاره)

رمز په لغت کې پټې اشارې ته ويل کيږي لکه يو نږدې ته په ورو ځې، سترګې يا شونډې اشاره وکړي.

او په اصطلاح کې هغه کنایه ده چې د تعریض نه پرته پکې لږې او پټې داسې اشارې وي چې له هغې څخه داسې برېښي چې کنایه ده خو مطلب یې څرګند نه وي. لکه:

«د سورګل زړه ډېر سخت دی»

دا د بې رحمۍ او سختۍ نه کنایه ده.

٤- إیماء (څرګنده اشاره)

إیماء په لغت کې اشارې ته ویل کېږي او په اصطلاح کې هغه کنایه ده چې د تعریض نه پرته پکې لږې او پټې اشارې وي خو مطلب یې څرګند وي لکه:

په نړۍ کې چې د وېښ کاروان روان ؤ
د ننګ بار د افغانانو شو په برخه

دا د افغانانو د ننګیالیتوب نه کنایه ده او څرګنده ده.

محاکات

محاکات په لغت کې يو تر بله کيسو او خبرو کولو ته ويل کېږي او په شعري اصطلاح کې محاکات د شاعر هغه لفظي انځور گرئ ته ويل کېږي چې شاعر يو مفهوم، مراد، کيفيت او پېښه د شعر په څواک داسې مصور کړي چې تصوير يې په زړه پورې، راښکونکی او اغېزناک وي، په محاکات کې د تشبيهاتو، استعارو او کنايو استعمال زيات رول لري چې د سالم ذوق او صحيح استعمال پورې اړه لري. بېلگه يې دا ده:

عبدالحميد بابا وايي:

لکه سر د پسه په اور غاښونه سپين کا
ما له نن له ډېره غمه خندا راغله

يا لکه دا:

دې دنيا سره زه داسې نا بلديم
لکه ليرې کليوال چې ښار ته لاړ شي

بديع

د بديع لغوي معنا:

بديع په لغت کې هغه مختَرَع او نوي ته ويل کيږي چې مخکنی بنسټ او بېلګه و نه لري.

الله تعالی فرمايي:

« قل ما کنت بدعا من الرسل » ورته ووايه زه پېغمبرانو کې نوی او بې مثاله پېغمبر نه يم(۱) يعنی له ما مخکې هم پېغمبران تېر شوي دي.

او الله تعالی فرمايي:

« بديع السماوات و الارض » « الله بې مثاله د اسمانونو او ځمکې پېدا کوونکی دی »(۲) مطلب دا چې الله تعالی داسې اسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي چې مخکې يې مثال نه ؤ.

او الله فرمايي:

« ورهبانية ابتدعوها ما کتبناها عليهم » « او (نصارا وو) ګوشه نشيني

۱- سورة الاحقاف: ۹.

۲- سورة البقرة: ۱۱۷. سورة الأنعام: ۱۰۱.

او پیري له ځانه اختراع کړې وه مونږ پرې نه وه فرض کړې »[۱] .

اسلام کې بدعت هغه کار بلل کېږي چې د ثواب او عبادت په شکل کې داسې نوی وي چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم په زمانه کې نه وي شوی، دا ډول کار په اسلام کې حرام بلل کېږي.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: « کل محدثة بدعة و کل بدعة ضلالة »[۲]

« دین کې هر نوی کار بدعت دی او هر بدعت بې لاري ده. »

د بدیع اصطلاحي معنا:

په اصطلاح کې بدیع هغه علم ته ویل کېږي چې د خبرو ښکلا پرې پېژندل کېږي، خوند، ارزښت او رونق یې زیاتېږي او د کلام په مراد لفظي او معنوي دلالت پرې څرګندېږي.

هره خبره دوه ډوله ښکلا لري چې یوه ذاتي او بله عرَضي ده. ذاتي ښکلا د معانیو او بیان په علم څرګندېږي چې مخکې تېر شول او عرَضي (ورپېښه) ښکلا د بدیع په علم څرګندېږي چې مونږ یې په راتلونکیو کرښو او مخونو کې څېړو. د بدیع ښکلا هغه وخت څرګندېږي چې نابېره او بې تکلفه وي؛ تکلف او کوښښ را ایستل په هر کار کې ښه نه برېښي.

۱- سورة الحدید: ۲۷.

۱- بخاری او مسلم.

د بدیع ډولونه

د بدیع ښکلاوې په دوه ډوله دي:

١- لفظي ښکلاوې.

٢- معنوي ښکلاوې.

١- لفظي ښکلاوې (صنایع)

١- جناس

د دوه لفظونو په تلفظ کې یو والي او معنا کې جلا والي ته جناس ویل کېږي؛ تجنیس، تجانس او مجانسه هم بلل کېږي. او دا په دوه ډوله دي:

١- لفظي جناس.

٢- معنوي جناس.

د لفظي جناس ډولونه

١- تام (پوره) جناس

دا هغه جناس دی چې دوه لفظونه په هر څه کې یو شان وي. لکه د توررو په نوعې، شمېر، هیأت (حرکاتو او سکناتو) او ترتیب کې. دا بیا په دوه ډوله دی:

الف- مماثل جناس.

ب- مستوفي جناس.

الف- مماثل جناس

که دواړه لفظونه له یوې نوعې څخه وو لکه:

د وو اسمونه، دوه فعلونه او دوه توري، نو دا مماثل جناس بلل کېږي لکه:

لېږ زما په لور نظر کړه

غم په لور رانه جلا کړه

اول «لور» نه مطلب طرف او خوا ده، او دوهم «لور» نه درېبلو «لور» دی.

ب- مستوفي جناس

که دوه لفظونه د مختلفو نوعونه وي لکه:

اسم او فعل نو دا مستوفي جناس بلل کېږي. لکه (غالبا) دولت لواني چې وايي:

کسي هغه کسي چې د يار کسي پرې کسي
ورک شه هغه کسي چې بې ياره کسي کسي

دلته د دواړو نيم بيتيو اخري «کسي» فعل دی چې د «گوري» په معنا دی او نور اسمونه دي چې د سترگو کسي دي.

۲- نيمگړی جناس

دوه لفظونه چې ترتيب، نوعې، شمېر او هيأت نه په يوه يا ډېرو کې سره بدل وي نيمگړی جناس بلل کېږي، خو په دې شرط چې توپير به په يوه توري کې وي. او دا په درې ډوله دی:

١- مردوف.

٢- مکتنف.

٣- يوستوی مطرف.

۱ - مردوف جناس

دا هغـه جناس دی چې د يوه لفظ په اول کـې د بل نه يو حـرف زيات وي. لکه:

تاچې روګـدی کـړ خـپل ځـان په ښـه عـادت
نو حـاصل دې کـړ بې شکه سـعـادت

دلته په «سعادت» کې له «عادت» نه يو توری (سين) زيات دی چې په سرکې راغلی دی.

۲ - مکتنف جناس

دا هغه جناس دی چې د يوه لفظ په منځ کې يو حرف زيات وي لکه:

سـور په وينو مـې کـفن
سـر مـې کـښـود په وطن

دلته د «سور» او «سر» په منځ کې د «و» په زياتوالي توپير راغلی دی چې د «سور» په منځ کې دی.

۳- يو ستوى مطرف جناس

دا هغه جناس دى چې د يوه لفظ په اخر کې يو حرف زيات وي لکه:

خير او شر مې کړ جلا
شرم عار مې پر دښمن

دلته د «شر» او «شرم» ترمنځ په «م» سره توپير راغلى دى چې د «شرم» په اخر کې دى.

مذيل جناس

دا هغه جناس دى چې په پاى کې يې دوه يا زيات توروکې اختلاف وي. لکه:

تل د دوه وو منځ کې خير او سوله غواړه
شه منځګړى د اخلاص او ديانت

دلته منځ او منځګړي کې مذيل جناس دى.

غبرگ مطرف جناس

دا هغه جناس دی چې په اول کې يې دوه يا زياتو تورو کې اختلاف وي.

لکه:

د کابل او ننگرهار
د زابل او قندهار

د ننگرهار او قندهار ترمنځ غبرگ مطرف جناس دی.

مضارع جناس

دا هغه جناس دی چې د دوه لفظونو په اول، منځ يا پای کې په دوه داسې تورو کې اختلاف وي چې په مخرج کې سره نږدې وي. لکه:

که څوک نه شي انسانانو ته قصاب
پرې اسان به شي د خوبدو حساب

دلته د قصاب او حساب ترمنځ مضارع جناس دی.

لاحق جناس

دا هغه جناس دی چې په اول منځ يا پای کې د دوه لفظونو په دوه، د[illegible]سې تورو کې اختلاف وي چې په مخرج کې سره ليرې وي. لکه:

تلاوت کـــوه په مــــينه د قــــرآن
ســخــاوت کـــوه هر کله په کــثـــرت

دلته د تلاوت او سخاوت ترمينځ لاحق جناس دی.

محرف جناس

دا هغه جناس دی چې دوه لفظونه په ليکلو کې سره ورته وي او په حرکاتو او سکناتو کې يې توپير وي. لکه:

د شکور شکور کې ډوډۍ وي کـه سوکړک
د مــبلمــه مــخکې يې ږدي په احــتــرام

اول «شکور» کې د شين زور دی چې د شخص نوم دی او دوهم «شکور» کې شين ساکن دی او واو اوږد دی هغه د لوخو يا مزرونه جوړ پلن لوښي ته ويل کيږي چې ډوډۍ او سوکړکان پکې ايښودل کيږي.

مصحف جناس

دا هغه جناس دی چې دوه لفظونه داسې سره ورته وي چې که نقطې (ټکي) ترې ليرې کړې هيڅ توپير يې نه کيږي او که ټکي ورته وي نو توپير يې څرګندوي لکه:

ځنګه انصاف او عدالت به وي دا
چې چرته شروي زما سر ته راځي

د شر او سر ترمنځ په ټکو کې توپير دی که د شر نه ټکي ليرې شي نو سر به شي او يا د سر سين باندې درې ټکي وکړې نو شر به شي.

مرکب جناس

دا هغه جناس دی چې دوه لفظونه سره ورته وي خو يو مفرد وي او بل مرکب وي.

او دا په درې ډوله دی:

۱- مرفو.
۲- مقرون.
۳- مفروق.

۱ - مرفو جناس

دا هغه جناس دی چې يوې خواته مرکب وي خو يو ځای وي او بلې خواته مفرد وي. لکه:

اورو مرو، کوه کوم کار
د ورور سرد، اوسه همکار

دلته د «کوم کار» او «همکار» ترمنځ مرفو جناس دی.

۲ - مقرون جناس

دا هغه جناس دی چې دواړه خواوې په ليکلو او تلفظ کې يو شان وي او په معنا کې جلا وي. لکه:

چې په توره او أدب يې کړو خوشحال
ننگيالی ؤ توريالی ختټک خوشحال

دلته اول «خوشحال» نه مطلب خوښ او دوهم خوشحال ختټک دی.

۳- مفروق جناس

دا هغـه جناس دی چې دواړه خـواوې په تلفظ کې یو شـان وي او په لیـکلو کې جلا وي. لکه:

مـه پاتې کـېږه ځـه لا
لارې تـه ور کـړه ځـلا

دلته د «ځه لا» او د «ځلا» ترمنځ مفروق جناس دی.

قلب یا مقلوب جناس

دا هغه جناس دی چې توري یې یو شان وي خو د تورو ترتیب سره بدل وي.

او دا په درې ډوله دی:

۱- چپه.
۲- رد او بدل.
۳- مستوي.

۱ - چپه جناس

دا هغه مقلوب جناس دی چې د یوې خوا لفظ پوره سرچپه کړې نو د بلې خوا لفظ ترې جوړیږي. لکه:

ای وطنه تا ضرور ابادوم
پټ په زړه کې ستا د مینې ټپ لرم

پټ چې سرچپه کړې ټپ شو چې زخم ته ویل کیږي.

۲ - رد او بدل جناس

دا هغه مقلوب جناس دی چې د دوه لفظونو توري په نوعې او شمېر کې سره برابر وي خو په ترتیب کې رد او بدل وي. لکه:

چې په راتگ مې ستا لېمه د رانده شول
ستا د ډوډۍ مېله مې نه ده په کار

«لېمه» او مېله» په تورو کې یو شان دي او په ترتیب کې بدل دي.

۳- مستوي (برابر) جناس

دا هغه مقلوب جناس دی چې یو لفظ د دواړو خواوو نه یو شان لوستل کېږي که له ښي خوانه ولوستل شي او که له چپې خوانه ولوستل شي یو ډول وي. لکه:

ننګ او غېرت مې لا تت شوي نه دي
د وطن درد مې زړه کې څړیکې وهي

په دې شعر کې «تت» او «درد» د دواړو خواوونه یو شان لوستل کېږي دا مستوي جناس دی او دا ډول جناس تر ټولو ځواکمن بلل کېږي.

۲- تصحیف

تصحیف دې ته ویل کېږي چې دوه یا ډېر لفظونه سره داسې ورته وي چې ټکي ترې لېرې کړې نو یو ډول لیکل کېږي لکه:

سور او شور، یا: توره، بوره، نوره.
یا: سکور، شکور، منیر، منبر، شپه، شنه، شته.

۳- سجعه

سجعه د دوه فاصلو یووالي ته ویل کېږي او فاصله په نثر کې داسې ده لکه په شعر کې قافیه. سجعه زیاتُه په نثر کې وي د شعر په حشوې کې کله کله راځي، سجعه د دوه فقرو د اخري لفظونو همغږۍ ته ویل کېږي. او دا په درې ډوله دد:

۱- مطرف.

۲- مرصع.

۳- متوازي.

مطرفه سجعه

دا هغه سجعه ده چې دواړه فاصلې په وزن کې مختلفې وي او په قافیې کې سره برابرې وي. لکه:

افغانستان نه دیوه شخص د پلار دی او نه د چا ځانګړی ابتکار دی بلکه دا د ټولو افغانانو شریک دیار دی.

دلته «پلار» «ابتکار» او «دیار» په وزن کې مختلف دي او قافیې کې سره یو دي.

مرصعه سجعه

دا هغه سجعه ده چې د دوه يا ډېرو فقرو لفظونه په وزن او قافيې کې يو شان وي.

لکه: سوله او يورنگي ثواب دی، فساد او دوه رنگي عذاب دی. دلته «ثواب» او «عذاب» په يو وزن او يوې قافيې دي.

متوازي سجعه

دا هغه سجعه ده چې دوه يا ډېرې فقرې په فاصلو کې يو شان وي او مخکنيو لفظونو کې توپير ولري. لکه د سليمان ماکو د تذکرة الأوليا ء دا عبارت:

وايم حمد او سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفی صلی الله عليه و سلم چې بادار د کونينو، او رحمت د ثقلينو،...

په وياله داغستان اوسېږم، او په دې مځکو پايېږم،... مراقد د اولياوو او واصلينو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل(۱).

۱ - «تذکرة الاولياء» د سليمان ماکو: ۱.

٤- ازدواج (جوړه)

د دوه جوختو او گاونډيو لفظونو ورته والی ازدواج بلل کېږي. لکه:

مخې شمخې لري.

دلته «مخې» او «شمخې» سره ورته دي په «شمخو» کې د «شين» توری زيات دی که شين وغورځېږي نو دواړه کټ مټ او يو شی کېږي او که «شين» وي نو سره ورته او جوخت دي.

۵- تشريع (سپړل او وبدل)

تشريع دې ته ويل کېږي چې په شعر کې دوه يا درې قافيې وي که يوه يا دوه قافيې له شعر نه وغورځېږي نو هم شعر ته کوم تاوان نه پېښېږي او شعر برابر راځي لکه دا لاندی شعر چې په درې ډوله سپړل کېدای او وبدل کېدای شي:

(۱) څه ناورين مونږ په کور دی
تل ژړا د يتيمانو
د غليم راته پېغور دی
برملا د غدارانو

پورې شوی په مونږ اور دی
هوېدا د اجـيـرانو
ولې دومره خاموشي ده
په ناتار، د نړيوالو
کـه زمـونږه بې وسي ده
انتظار د ښه احوالو
تپل شوی په مونږ جنګ دی
ناروا خپلو منځو کې
اتفاق راڅخه ړنګ دی
شو پنا په کړاوو کې
د دښمن راته نيرنګ دی
شا په شا په مرګو کې
اصالت ته مو خطر دی
د اغيارو په لمسون
دی ملت ته مو ضرر دی
د خونخوارو په شبخون

له دې شعر نه که وروستي قافيه لېرې کړو نو شعر بيا هم برابر راځي او داسې يې لولو:

(۲) څه ناورین زمونږ په کور دی تل ژړا
د غلیم راته پېغور دی برملا
پوري شوی په مونږ اور دی هویدا
ولې دومره خاموشي ده په ناتار
که زمونږ د بې وسي ده انتظار
تېل شوی په مونږ جنګ دی ناروا
اتفاق را څخه ړنګ دی شو پنا
د دښمن راته نیرنګ دی شا په شا
اصالت ته مو خطر دی د اغیارو
دی ملت ته مو ضرر دی د خونخوارو

او که وروستی دواړه قافیې ور څخه وغورځوو بیا هم شعر جوړ دی او داسې یې لولو:

(۳) څه ناورین زمونږ په کور دی
د غلیم راته پېغور دی
پوري شوی په مونږ اور دی
ولې دومره خاموشي ده
که زمونږه بې وسي ده
تېل شوی په مونږ جنګ دی

اتفـــاق راشـــخـــه رنگ دی
د دښــــمن را تـه نيـــرنگ دی
اصـــالت تـه مـــو خطر دی
دې ملت تـه مـــو ضـــرر دی

۶- ترافق (همزولي بيتونه)

دوه يا ډېر داسې بيتونه راوړل چې که نيم بيتي يې مخکې وروسته شي هيڅ تاوان نه پېښوي، ټولې يو شان لوستل کېږي او شعر برابر راځي.

ببلګه يې داده:

د بد خـوي وي هر يو کـار د حـرامي
بې شـرمي وي هر کـردار د حـرامي
شــــرارت وي په ديـار د حـــرامي
دوه مـخي وي تل روزګـار د حـرامي
د دوکــې وي هر اقــرار د حـرامي
په دروغـــو وي تينګار د حــرامي
بې حــيـــا بې ادب چار د حـرامي
سـترګـې ځيـرې تر ځـتـار د حرامي(۱)

۱- حتار: دمقعد کړی.

دا گـرد عـمـر وي داغـدار د حـرامي
وي نـاوړه ابـتـکـار د حــــرامـي

۷- موازنه (پرتلیز تول)

د دوه فاصلو په وزن کې یووالی او په قافیو کې توپیر موازنه بلل کېږي.

لکه: اسلام ومنئ، احسان مه هېروئ.

دلته «اسلام» او «احسان» په وزن کې یو شان دي خو په قافیه کې بدل دي.

۸- ترصیع

د وزن یووالی او د وروستي برخې یووالی یا نږدې والی ترصیع بلل کېږي.

لکه: لوگري کښتونه ربې او ملگري حسدونه ربې.

دلته «لوگري» او «ملگري» کې او «کښتونه» او «حسدونه» کې ترصیع ده.

۹- لزوم مالا یلزم

لزوم مالایلزم (د هغه څه لازم گڼل چې لازم نه وي) دې ته ویل کېږي چې په شعر یا نثر کې لیکوال په ځان داسې څه لازم وگڼي چې اړتیا ورته نه وي خو

که بې تکلفه وي نو ښکلا ګڼل کېږي. لکه ځینې د قافیې پر «روي» توري سربېره نورهم یو شان راوړي، ځینې داسې شعر وايي چې هر بیت په کوم توري پیل شوی وي په هماغه توري ختمېږي، ځینې داسې شعر وايي چې یو بیت په کوم توري ختم شي د بل بیت په هماغه توري پیل کېږي یا داسې نور چې د ځینو بېلګې یې دا دي:

۱۰- دوه اړخیز

دا هغه صنعت دی چې د بیت پیل او پای په یوه توري وي لکه:

تا چې روږدی کړ خپل ځان په ښه عادت
نو حاصل دی کړ بې شکه سعادت
تل د دوه وومنځ کې خېر او سوله غواړه
شه منځګړی د اخلاص او دیانت
تلاوت کوه په مینه د قرآن
سخاوت کوه هر کله په کثرت

دلته د هر بیت په پیل او پای کې د «ت» توری دی.

۱۱- واز

کله شاعر دا التزام کوي چې په ټول شعر کې شفوي (د شونډو) توري نه وي چې مونږ یې «واز» بولو. بېلګه یې دا ده:

هغــــه چا چې کـــړی کــــار د عــــدالت
تل یادیږي د هغـــــــه دا لیـــــاقت
عــدل ښــه دی د هر چا ســـره چې کـړه شي
د عــــادل عــــدل ګــــانه شي د رایت
چې له عـدل نه انکار کـړي انسـان نه دی
عــــدل هر کله دی ښــــه انســــانیت
سیــاست کـې عــدالت ښـه سـعـادت دی
عــــادل هر کله لایق د ســـــیــــادت
هر قــاضی چې عـدل نه کـړي غـټ جـاهل دی
عـــدالت کــــې څـــرګندیږي دیانت
عــدل هر چار کــې هر چا لره ښـــادي ده
عــــدل دی دیـــانتـــدار ســــره زینت

۱۲- لغړ (غير منقوطه)

کله شاعر دا التزام کوي چې ټول شعر کې د ټکو والا توري نه راوړي او مونږ يې په لغړ نوموو. لکه:

علم حلم او عمل سره همکار کړه
حسد مه کړه هر مهال د عدل کار کړه

و هر ډول هم الم لره دوا ده
د اسلام عمل هر کار او هر کردار کړه

د الله او د رسول لاره ده سمه
گمراهي سره همدا همدم سهار کړه

يا:

سم کړه کردار، مکړه وسواس
وکړه چوار، د لوړ احساس
عدل کوه، د هر مهال
مکړه دعوه، د هر کمال

۱۳- قبيح او مليح (برگ)

قبيح او مليح هغه شعر دی چې يو نيم بيتی يې ډېر ناوړه او د کنځلو په څېر وي او بل نيم بيتی دومره ښه وي چې د لومړي نيم بيتي معنا هم ورسره سمه شي. بېلگه يې دا ده:

ستا د مور سره يې وکړم
ښه نېکي او احسانونه

نورې ډېرې بېلگې لري چې ليکل يې مناسب نه گڼم.

۱٤- پوخلی (منقوطه)

هغه شعر چې ټول توري يې د ټکو والا وي «پوخلی» بلل کېږي لکه:

جبين چې ټيټ شي
غبږ يې ټيټېږي
پښې يې شي شخې
غبږ يې تشېږي

يا لکه:

چې بخت يې تت شي ښې چينې تېې شي
نغښتې يې نخښې پښتنې پټې شي

۱۵- پاسنی (فوقانيه)

هغه شعر چې د لاندې ټکو والا توري پکې نه وي او ټول يا اکثر يې د پاسنيو ټکو والا توري وي «فوقانيه» بلل کيږي چې مونږ يې «پاسنی» بولو. لکه:

دا څه رنګه ناتار شو
ژړا مو انتظار شو
د أمن لاره ورکه
ژوندون مو ټول انګار شو
سودا مو ګډه وډه
د ظلم مو روزګار شو
دردونه کړاوونه
خطا راڅخه وار شو

۱۶- لاندينى (تحتانيه)

هغه شعر چې د پاسه ټکو والا توري ونه لري او ټول يا اکثر توري يې د لاندينيو ټکو والا وي «تحتانيه» بلل کيږي چې مونږ يې «لاندينى» بولو. لکه:

دا ولې يوېې وســـــه
دا ولـــې يـــو بـــربـــاد
بې ســـوچه بې باکي ده
هېـر کـړي مـو امـجـاد
لـه کـــوره هم بې کـــوره
يو ليـــــرې لـه هېـــواد
احـســاس راسـره کم دى
يـو ځـکـه نا مـــــراد

۱۷ - تضمین

په شعر کې د بل شاعر کلام راوړل، حواله ورکول او ورته اشاره کول تضمین بلل کېږي. لکه:

چې خوشحال یې وه په ننګ تړلې توره
زه هماغه ننګیالی پښتون افغان یم

په دې شعر کې د خوشحال ختټک دې شعر ته اشاره ده چې:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختټک یم

۱۸ - ذوالقافیتین (دوه قافیېز)

هغه شعر چې دوه قافیې ولري ذوالقافیتین (دوه قافیېز) بلل کېږي لکه:

د سیالانو په مخ پورې د غدار در
غلامۍ نه به تل تیټ وي شرمسار سر

د خوښۍ او سرلوړۍ ژوند یې نصیب وي
له فساد څخه چې ولري کنار نر

هېڅ يې بوله په تولنه کې منفور دی
چا چې وکـــتل په ظلم او ازار زر

د هغه بزگر مـــېوې غلې وي ډېرې
چې په مځکه باندې کړي د ابتکار کر

د مظلوم او د یتـــیم په مخ چې بند وي
دی ضـــرور د مـــاتولو ســـزاوار ور

چې د ژوند موخه يې کور کالي ډوډۍ وي
په موگي کتې وښو کړي افتـخار خر

۱۹ - ذوالقوافي (بارانی)

ذوالقوافي هغه شعر دی چې له دوه وو څخه زياتې قافيې ولري چې مونږ يې «بارانی» بولو ځکه چې د قافيو باران پکښې وي او که د قافيو تر منځ ردیفونه هم ولري نو بيا «ذوالقوافي مع الحواجب» بلل کېږي. بېلگه يې دا ده:

چا د شـــرم ورکـــې د لیـــلا نه جلبـــاب لرې کـړ
چا د ژوند سـفر کې له حـيا نه شـبـاب لرې کـړ
ورک شـو خـوشـامندونه اثر يې په خـبـرو کـې
دې مـــلا منبـــر کـــې د وينانه عـتـــاب لرې کـړ

هله را معلوم شوې چې احساس کې د غدغه لرې
تا چې په شجر کې د بورا نه ګلاب لرې کړ
څرک د پیغمبر باندې نړۍ تیوله روښانه شوه
رب د مکې غرکې د حرا نه تناب لرې کړ
هجر کې یو کیف دی چې په وصل کې یې نه وینم
ما چې خپل نظر کې د ښکلا نه حجاب لرې کړ

په دې شعر کې درې قافیې دي چې د اولې مصراعې د «ور»، «لیلا» او «جلباب» سره یو شان دي.

د ذوالقوافي بل ډول داسې وي چې یوه قافیه په اخر کې درې ځل غبرګه شوې وي لکه:

نه منل مو د ملا ملا ملا
شو هر څه راته بلا بلا بلا
عداوت او شقاوت مو شو نصیب
تیولې مینې شوې جلا جلا جلا
بې تدبیره حرکت مو چې کاوه
اوس پیدا شو له خلا خلا خلا
را بیدار شئ چې شو تیر هغه شو هیر
راځئ اوس وکړو سلا سلا سلا

وران تاتوبې نن ودان کـــړو په همت
په خـدمت يې کـړو ځـلا ځـلا ځـلا

۲۰- تکرار (غبرگون)

په يوه نيم بيتي کې د قافيې غبرگون «تکرار» بلل کېږي. لکه:

نازولي کـې چې نه وي دافــتــاب تاب
مـېره نه دی کـه پرې راشي د شـبـاب باب

د تقليـد پر دې په سترگو د جمود مود
قـيـاسي ابليس و نه کړ د سجـود جود

۲۱- سوال او ځواب

کوم شعر کې چې د دوه تنو مناقشه، مکالمه، مناظره او يو تر بله خبرې وي سوال او ځواب بلل کېږي. بېلگې يې په لاندې توگه دي:

(۱)

خلکو لږ غـوږ شئ زه او دی په جنگ يو
هـيڅ يـو تـر بلـه قـناعـت نه کــــړو
نه يو ځای کېږو سره ځنگ په ځنگ يو
خـپلو منځـو کـې رفـاقت نه کـړو

***

زه وايم ستر قدرت د يو الله دى

دى وايي روس او امريكا ورسره

زه وايم هر څه كې واكمن هغه دى

دى وايي جاريې شم بابا ورسره

***

زه وايم پرېږده چې عالم پوهوم

دى وايي مه كوه ناپوهه ښه دي

زه روح ناروغو ته دوا وركوم

دى وايي پام كوه ناروغه ښه دي

***

زه ټول جهان متبعين خوښوم

دى يې ړانده مقلدين خوښوي

زه تورته نه گورمه سپين خوښوم

دى بې تميزه گډ رنگين خوښوي

***

زه مړه سنت ژوندي كول غواړمه

دى وايي پرېږده سر پرې مه خوږوه

زه په توحـیـد قـربـانبـدل غـواړمـه
دی وایي خـــپـله زندگـي جــوړوه

***

اوس د انصـاف فـیـصله تاسـو وکـړئ
چې زه په حــقــه یم کـه دا په حــقــه
ښـه فکر و سـوچ په دې صـفـاتو وکـړئ
چې دا مــسلک بـه وي د چا په حــقــه

***

مسلم دوست څه بې انصافي نه غواړي
د چا په حق کــې بې بـاکي نه غــواړي

یا دا:

(۲)

زوی: څنګه دې رنګ زیړ دی پلاره چا څخه خفه یې ته
ولې په غوسه یې ته
پلار: رنګ مـې ځکه زیړ دی زویه تا څخـه خفـه یمـه
ځکه په غوسه یمه

تر پایه پورې اوږد سوال او ځواب دی(۱).

یا دا:

۱- د حق ګونګسی: ٦٠.

(۳)

ویل یې اختر دی ته وکړ راوړه چې جامې وګنډو
ما ویل هغه اختر لا نه دی نن غمونه ګنډو

۲۲- مربع (څلکوری)

دا هغه دوه بېتونه یا څلور نیم بیتي دي چې که هر نیم بیتی په څلورو کورونو ووېشل شي، شپاړس (۱٦) کورونه کېږي که د دې شپاړسو کورونو هریو له ښي خوانه ولولې او که له پاسه نه یې د ښکته په لور ولولې یو ډول دوه بیتونه یا څلور مسرې لوستل کېږي.

بېلګه یې دا ده:

	(۱)	(۲)	(۳)	(۴)
(۱)->	د چا	په زړه کې	د مینې	اور دی
(۲)->	په زړه کې	غم دی	جام یې	نسکور دی
(۳)->	د مینې	جام یې	تش دی	پېغور دی
(٤)->	اور دی	نسکور دی	پېغور دی	نور دی

۲۳- تلمیع

په یوه شعر کې د دوه وو یا ډېرو ژبو راوړل تلمیع بلل کېږي. لکه د میرزا حنان بارکزي دا مناجات:

إلهي د هر چا قاضي الحاجات يې
په قضا په کرم حل المشکلات يې

نا امیدي ده ستا له دره څخه کفر
د هر چا د غم کافي المهمات يې

ته ارحم الراحمین يې رحم وکړه
عفوه کړونی د همه و خطایات يې

څه قدرت لرم چې پور ته کښېنه وایم
ته خالق د اوو مځکو سماوات يې

بې بدی بل عمل نه راڅخه کېږي
ته خبر په واړو سر و خفیات يې

خپل حاجت زه له تا غواړم ذوالجلاله
دا په دا چې ته مجیب الدعوات يې

ستا له دره هيڅ سړی نا اميد نه ځي
زه هم نه ځم ته واهب العطايات يې
کار زما غريب په خپل فضل پوره کړه
لاس مې ونيسه رفيع الدرجات يې

(ترپايه)

۲٤- توشيح

توشيح هغه شعر ته ويل کېږي چې د بيتونو يا د لومړيو مسرو د سر توري راټول او سره يو ځای کړي نو د هغې نه يو بيت، يو مسره، کوم نوم او يا جمله جوړه شي. لکه:

۱/م مولود چې په مکه کې هويدا شو محمد
تيارو د جهالت لره سبا شو محمد

۲/ح حرانه را ښکاره شوه سپوږمۍ د رحمتونو
تږمۍ د فسادونو ته رڼا شو محمد

۳/م مظلوم کره خوښي شوه د يتيم اوښکې شوې وچې
سمون لره، بدلون لره پيدا شو محمد

٤/د د ظلم غلبې وې د ستم توري پردې وې
تورتم د گمراهۍ ته رهنما شو محمد

۵/ر رحمت شو بې توپيره برابر گرد دې نړۍ ته
انسان لپاره زېرې په رښتيا شو محمد

۶/س سودونه وو ظلمونه وو نړۍ ټوله بيماره
دې گردو کړاوونو ته دوا شو محمد

۷/و وروري او همدردي او عدالت وو نه بدلي
دې لوړو ارزښتونو ته ځلا شو محمد

۸/ل لمسون ؤ بې باکي وه بې لاري حق تلفي وه
دې ټولو بد رنگيو ته ښکلا شو محمد

۹/ا الفت شو محبت شو لياقت شو صداقت شو
بيمارو پرگنو ته مسيحا شو محمد

۱۰/ل له ټولو خطرونو بې پروا عالي جرأت ؤ
په بدر او أُحُد کې برملا شو محمد

۱۱/ل لا رښود و پيغمبر ؤ همېشه د حق په خوا ؤ
له ټولو بربادېو نه جلا شو محمد

۱۲/هـ هلاک به مسلم دوسته مخالف د محمد وي
هر چا لره قدوه او مقتدا شو محمد
صلى الله عليه وسلم

د دې شعر د هر بيت د اول نيم بيتي د سر توري چې يو ځاى کړې نو «محمد رسول الله» ترې جوړيږي. يا د «غندنه» تر عنوان لاندې شعر وگورۍ

هغه هم د توشیح د صنعت په دود لیکل شوی دی.

د شعر د یوه بیت وېش

څرنګه چې راتلونکي ځینې عنوانونه د شعر د بیت وېش پورې اړه لري نو باید وېې پېژنو. د شعر هر بیت دوه مسرې (مصراعې) یا نیم بیتي لري چې دواړه د شعر په دود داسې وېشل کېږي:

هر بیت پنځه برخې لري:

۱- صدر.

۲- عروض.

۳- ابتدا.

٤- عجز.

٥- حشو.

۱- صدر: د لومړي نیم بیتي لومړۍ برخې ته ویل کېږي.

۲- عروض: د لومړي نیم بیتي وروستۍ برخې ته ویل کېږي.

۳- ابتدا: د دوهم نیم بیتي لومړۍ برخې ته ویل کېږي.

٤- عجز: د دوهم نیم بیتي وروستۍ برخې ته ویل کېږي.

٥- حشو: د دواړو نیم بیتیو منځنیو برخو ته ویل کېږي.

لکه:

۱- راځئ	چې یو شو افغانانو	وروړنو
صدر	حشو	عروض
۲- وکړو	په مینه افغاني	تفاهم
ابتدا	حشو	عجز

۲۵- رد العجز

د غبرګون، تجنیس، اشتقاق او مشابه اشتقاق په حیث چې د دوهم نیم بیتي وروستۍ برخه (عجز) د بیت د نورو څلورو برخو نه په هره یوه کې تکرار شي «رد العجز» بلل کیږي او دا په څلور ډوله دی:

۱- رد العجز علی الصدر.

۲- رد العجز علی العروض.

۳- رد العجز علی الإبتداء.

٤- رد العجز علی الحشو.

او هر یو یې بیا په څلور ډوله دی:

۱- د غبرګون په ډول.

۲- د تجنیس په ډول.

۳- د اشتقاق په ډول.

٤- د مشابه اشتقاق په ډول.

چې په دې ترتیب د «رد العجز» ډولونه (۱٦) شپاړس کیږي او رد العجز علی الحشو دواړو نیم بیتیو کې کیږي چې څلور ورسره نور زیاتیږي او د رد العجز ټول ډولونه (۲۰) شلو ته رسیږي چې تفصیل يې په دې ډول دی:

رد العجز علی الصدر (په سینې د لنډې غبرګون)

عجز د عجېزې نه دی او عجیزه لنډې (د ملا لاندینۍ اخري برخې) ته ویل کیږي او صدر سینې او لومړۍ برخې ته ویل کیږي، په شعري اصطلاح کې عجز او صدر مخکې وپېژندل شول.

رد العجز علی الصدر دې ته ویل کیږي چې د شعر د لومړۍ مصراعې (مسرې) لومړۍ برخه د دوهمې مصراعې وروستۍ برخې سره په لاندې څلورو ډولونو یو شان راشي:

۱- د غبرګون په ډول لکه:

ژوندی مړ دی هغه څوک
چې یاد نه شي مړ ژوندی

دلته اول ژوندی او دوهم ژوندی په لفظ او معنا کې یو دي او یو د بیت په سر او بل په اخر کې راغلي دي.

۲- د تجنيس په ډول لکه:

ډنګر ښه دی نه چاغ شوی په حرام
حرام خوروي همېشه لکه ډنګر

دلته اول ډنګر د خوار په معنا دی او دوهم ډنګر د څاروي په معنا او يو د بيت په سر او بل په اخر کې راغلي دي.

۳- د اشتقاق په ډول لکه:

شرافت په همدردۍ وي د انسان
په ټولنه کې خواخوږی وي شريف

دلته شرافت او شريف د يوه اشتقاق اړيکي لري خو يو مصدر دی او بل اسم فاعل دی او د بيت په سر او اخر کې راغلي دي.

٤- د مشابه اشتقاق په ډول لکه:

زمانه د هغه چا ده
چې وي مخکې څوک زمانه

دلته اول «زمانه» يوه کلمه ده، د وخت په معنا ده او دوهمه «زمانه» دوه کلمې دی «زما» او «نه» يعني «زما څخه» د واړه سره ورته دي او يوه په صدر او بله په عجز کې راغلي دي.

رد العجز علی العروض

(په څنډې د لنډې غبرګون)

عجز او عروض مو مخکې وپېژندل او رد العجز علی العروض دې ته ویل کېږي چې د لومړۍ مصراعې وروستۍ برخه د دوهمې مسرې وروستۍ برخې سره په لاندې څلورو ډولونو یو شان وي:

۱- د غبرګون په ډول لکه:

کېمرود تصور کې تصویرونه جوړوم
نړۍ ته نن بدل غوندې رنګونه جوړوم

جوړوم په عروض او عجز کې غبرګ شوي دي.

۲- د تجنیس په ډول لکه:

د جنت او د هغه مخکې موره ده
چې له حرصه یې حرامونه موره ده

دلته د اولې مصراعې «موره» د مخکې جګه موره ده او د دوهمې مصراعې په عجز کې «موره» د ګېډې درد (پینغ) دی.

۳- د اشتقاق په ډول لکه:

خپل پردی به برابر گني منصف
د بل حق کې بې باکي نه دی انصاف

دلته منصف او انصاف په اشتقاق کې سره شریک دي او هو په عروض کې او بل په عجز کې راغلي دي.

٤- د مشابه اشتقاق په ډول لکه:

چې پیدا شوې نا خبر سبا بېگانه
اوس نو ولې له الله شوې بېگانه

دلته یو «بېگانه» په عروض کې او بل په عجز کې راغلي دي او په اشتقاق کې سره ورته ښکاري خو د واړه جلا معنا لري اول دوه کلمې دی «بېگا» او «نه» یعنې «له بېگا څخه» او دوهم یوه کلمه ده چې «بېگانه» پردي او نابلد ته ویل کېږي.

رد العجز على الإبتداء

(په پیل د لنډې غبرګون)

مخکې مو عجز او ابتدا پېژندلي دي؛ رد العجز على الإبتدا دې ته ویل کېږي چې د دوهمې مسرې لومړی برخه د هغې وروستی سره په لاندې څلورو ډولونو یوشان وي:

۱- د غبرگون په ډول لکه:

کنځلمـــاره ژبه وي ترخـــه ترخـــه
خـــوږه ژبه په هر وخت کـــې وي خـــوږه

دلته په ابتدا او عجز دواړو کې خوږه په یوه لفظ او معنا غبرگه شوې ده.

۲- د تجنیس په ډول لکه:

مـېړني د ننگ مېدان ته په خوښۍ ځي
سـر کـې ځي هغـه چې ولري افـغـان سـر

دلته پـه ابتدا کې سـر د مخکې پـه معنا دی او په عجز کې د بدن د سر په معنا دی.

۳- د اشتقاق په ډول لکه:

لـه دې ډېرو امـــیـــرانو مـــې توبـه
خـــلافت لپـــاره یو وي خلیـــفـــه

دلته خلافت او خلیفه په اشتقاق کې سره شریک دي؛ یو په ابتدا او بل په عجز کې راغلي دي.

٤- د مشابه اشتقاق په ډول لکه:

خـــپل وطن چې ورانوې د بل په لمســـه
غـــلامي دې مـبـارک شـه ای غلیـمـه

دلته «غلامي» او غلیمه» په اشتقاق کې سره مشابه ښکاري او دي جلا.

رد العجز علی الحشو

(په ډکون د لنډې غبرگون)

عجز او حشو مو مخکې وپېژندل؛ رد العجز علی الحشو دې ته ویل کېږي چې دواړو مسرونه د کومې منځنۍ برخه د دوهمې وروستۍ سره په لاندې څلورو ډولونو یو شان وي:

۱- د غبرگون په ډول:

الف- د اولې مصراعې د حشوې سره د عجز غبرگون لکه:

ځوان هغه چې په ازمېښت کې بریالی شي
شکر دا چې بریالی شوم په ازمېښت کې

دلته «ازمېښت کې» د اولې مصراعې په حشوې کې د بیت د عجز سره غبرگه شوې ده.

ب- د دوهمې مصراعې د حشوې سره د عجز غبرگون لکه:

چې قدم اخلي متین په دیانت
تل کوي به پرمختگ کې پرمختگ

دلته «پرمختګ» د ودهمې مصراعې په حشوې او عجز کې سره غبرګ شوي دي.

۲- د تجنيس په ډول:

الف- د اولې مصراعې د حشوې سره د عجز تجنيس لکه:

مېړني توره په لاس مېدان ته وځي
کړي د ننګ او د ايمان لپاره توره

دلته په اولې مصراعې کې توره د اوسپنې توره ده او عجز کې توره د مړانې، غيرت او فتحې په معنا ده.

ب- د دوهمې مصراعې د حشوې سره د عجز تجنيس لکه:

ترهغه به لانړۍ کې، څوک ظالم وي او أظلم
چې د پلار سر يې قلم کړي، زوی نه وايې خلي قلم

دلته د دوهمې مصراعې په حشوې کې قلم د غوڅ په معنا دی او په عجز کې د ليکلو قلم دی.

۳- د اشتقاق په ډول:

الف- په اشتقاق کې د اولې مصراعې د حشوې سره د عجز ګډون لکه:

د ظاهر دين له باطنه سره يو کړه
چې د دې دواړو يووالی دينداري ده

دلته دين او دينداري په اشتقاق کې سره شريک دي او په حشوې او عجز

کې یو ځای راغلي دي.

ب- په اشتقاق کې د دوهمې مصراعې د حشوې او عجز ګډون لکه:

دا د پښتـــو او د اســـلام دښـــمنان
غــوا ړي پښتـــون نه شي جـلا پښتـــو

دلتـه « پښتـون » او « پښتـو » په اشتـقـاق کې سره ګډ دي او د دوهمې مصراعې په حشوې او عجز کې راغلي دي.

٤- د مشابه اشتقاق په ډول:

الف- د اولې مصراعې د حشوې او عجز ګډون لکه:

مـړانه مـو د تورو شـوه څـرګنده و نړۍ تـه
تاتوبی نن ودان کـړو په کـتـاب قلم او تورو

دلته په اولې مصراعې کې د « تورو » نه مطلب د جنګ توري دي چې په څرګند واو دي او د عجز د « تورو » نه مطلب حروف دي چې په اوږد واو دي.

ب- د دوهمې مصراعې د حشوې او عجز ګډون لکه:

راځئ چې د وروری خبرې ښې وکړو او سپینې
اباده کړو دا مـېنه مـونږ په سـولې او په مـینې

دلته د دوهمې مصراعې په حشوې او عجز کې «مېنه» کور دی او «مينه» محبت دی چې دواړه سره ورته ښکاري خو اشتقاق کې سره جلا دي.

۲٦ - مالا يستحيل بالإنعكاس

(هغه چې نه چپه کېږي)

دا د مقلوب مستوي جناس غوندې دی چې داسې الفاظ راوړل شي چې له ښي او چپې خوا يو ډول لوستل کېږي. لکه:

ننګ او غېرت مې لا تت شوي نه دي
د وطن درد مې زړه کې ځېرکې وهي

دلته «تت» او «درد» د ښي او چپ لورنه يو ډول لوستل کېږي.

۲۷ - موازبه

موازبه دې ته ويل کېږي چې شاعر داسې لفظونه راوړي چې د تورو يا ټکو په کمولو يا زياتولو معنا بدله کړي او د مؤاخذې نه. بچ شي يا د اصلاح او يا د بل کوم مقصد لپاره دا کار وکړي. لکه:

ما يو پاڼ کی داسې ويلای ؤ:

نشته څه په کور د پښتنو د تکلف په نوم
تش یوه ډالۍ له مینې ډکه ولوله لري
رنګ یې د اخلاص په هر کلي کې خپره ننده ده
وس کې یو سوکړک او د ترخو چایو پیاله لري

دلته د اول بیت د دوهمې مصراعې په سر کې «تش» د «فقط» په معنا راغلی ؤ چې ډېر و لوستونکیو ترې اسمي معنا أخیسته چې د «ډک» ضد ده او ځینو د ډالۍ صفت ګاڼه نو له همدې أمله یې معنا بدلېده او ښه نه برېښېده نو ما د «تش» د «ت» او «ش» تکي وغورځول او «ت» نه مې «ب» جوړه کړه نو «تش» نه «بس» جوړ شو او د مؤاخذې او بدلو، لوستو نه بچ شو بیا هر چا صحیح لوسته نو داسې شو:

نشته څه په کور د پښتنو د تکلف په نوم
بس یوه ډالۍ له مینې ډکه ولوله لري
(ترپایه)

۲۸ - إطراد

په شعر کې د چا نوم او د هغه د پلار او نیکه نوم بې تکلفه په ترتیب راوړل اطراد بلل کېږي. لکه:

د سخا په کار کې تېز لکه دریاب دی
سالم زوی د عبدالله زوی د ګلاب دی

۲۹- تسمیط (پېیل)

تسمیط دې ته ویل کېږي چې شاعر یو بیت په څلورو برخو ووېشي: درې برخې یوه سجعه وي او قافیه بله سجعه وي. لکه:

روان په سمه لار، د علم طلبګار، د بدونه بې زار، رېښتوني مسلمان
حاصل دی شه مراد، وروري او اتحاد، دښمن سره جهاد، ځان پوه کړه په قرآن

۳۰- انسجام او سهولت (اسان او بدل)

انسجام یا سهولت د الفاظو او معانیو اسانۍ او ښه تناسب ته ویل کېږي.
لکه د عبدالرحمن بابا دا شعر:

په ښه خوي له بدخواهانو بې پروا یم
په نرمۍ لکه اوبه د اور سزایم

و هر چاته په خپل شکل ځرګندېږم
آینې غوندې بې روي و بې ریایم

۳۱- إكتفاء (بسنه)

«اكتفاء» دې ته ويل کېږي چې شاعر ديوه بيت نه داسې لفظ وغورځوي چې د بيت د نورو الفاظو او چلښت نه څرګندېږي او عقل پرې دلالت کوي لکه:

پوچ ويل او سپک ويل احمق کوي

ژبه هغه ژبه چې د حق کوي

دلته د دوهم نيم بيتي نه د «وينا» کلمه غورځېدلې ده چې په اصل کې داسې دی:

ژبه هغه ژبه چې د حق کوي وينا

د شعري ضرورت له أمله د «وينا» کلمه وغورځېده عقل او چلښت په دې دلالت کوي چې دا کلمه حذف شوې ده.

۲- معنوي ښکلاوې (صنايع)

۱- توريه

«توريه» مصدر دی په لغت کې پټولو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې توريه دې ته ويل کېږي چې څوک په خبرو کې داسې کلمه راوړي چې دوه معنا وې ولري: يوه نږدې وي او د لفظ نه هم څرګنده وي خو دا معنا د متکلم مراد نه

وي؛ بله معنا ليرې وي او لفظي دلالت يې هم پټ وي خو د متكلم مراد وي. نو اوريدونكى دا گومان وكړي چې د متكلم مراد هغه نږدې معنا ده، خو داسې باريكه قرينه وي چې ذهين او تيز اندى په دې پوهيږي چې د متكلم مراد هغه ليرې معنا ده.

د توريې ډولونه

توريه په څلور ډوله ده:

۱- مجرده.

۲- مرشحه.

۳- مبينه.

٤- مهيأه.

الف- مجرده (لغړه) توريه

دا هغه توريه ده چې يوې خوا (نږدې يا ليرى معنا) ته هم څه قرينه نه وي لكه:

غـــــــمونه ډېر دي هم دردونه ډېر دي
خــــــوا اوسني غـــــــمونه نه هېـــــريږي

دلته غمونه ډېر دي او قرينه يوې خواته هم نشته خود شاعر د حال، سياق او سباق او تاريخ نه څرګندېداى شي چې د مينې يادوي او که نور.

ب- مرشحه (ځواکمنه) توريه

دا هغه توريه ده چې قرينه د نږدې معنا خواته وي خو د متکلم مراد لېرې معنا وي. لکه: نا اشنا سړي ته څوک وښايې چې دا زما ورور دی، دلته ذهن ته د نسب ورورولي راځي چې نږدې معنا ده خود متکلم مراد د دين ورور ولي وي چې لېرې معنا ده.

ج- مبينه (څرګنده) توريه

دا هغه توريه ده چې قرينه د ليرې معنا خواته وي او د متکلم مراد هم ليرې معناوي. لکه:

زما دا زړه ټټوبی هم وګوری
لږ خو يې وپوښتی پرې څه تېرېږي

دلته د زړه نږدې معنا هغه زړه دی چې د غوښې دی او په سينه کې دی خو د شاعر مراد افغانستان دی ځکه چې افغانستان علامه اقبال د اسيا زړه بللی دی او دا لېرې معنا ده خو ټټوبی کلمه او د افغانستان اوسنی دردناک حالت

هغه قرينې دي چې د ادبي ذوق څښتن پرې پوهېږي چې د زړه نه د شاعر مراد افغانستان دی.

د- مهيأه (تياره) توريه

دا هغه توريه ده چې مخکې يا وروسته ورسره داسې لفظ وي چې توريه ترې برېښي؛ که هغه لفظ وغورځېږي بيا توريه نه ښکاره کېږي.

لکه يو سړی د ليرې ځای نه کندهار ته روان وي او څوک يې وپوښتي چې چېرته ځې؟ هغه ووايي: د انارو ښار ته ځم. نو د ښار نږدې معنا نږدې ښار دی خو د انارو قيد داسې قرينه ده چې دا ترې څرگندېږي چې د متکلم مراد د کندهار ښار دی ځکه چې کندهار په انارو شهرت لري.

۲- استخدام

«استخدام» دې ته ويل کېږي چې په خبرو کې داسې لفظ راوړل شي چې دوه معنا وې ولري اول ترې يوه معنا واخيستل شي او بيا داسې څه ضمير، اشاره او قرينه راوړل شي چې دوهمه معنا هم ترې واخيستل شي لکه:

وايي ډنگريمه څرېږمه نه
وايم پتې ته دې بوزم په ديکو

دلته اول نیم بیتي کې ډنګر د خوار په معنا دی او دوهم کې د طنز په ډول د غه حیوان صفت ته انسان نه په هماغه اشارې او قرینې څناور ډنګر اخیستل شوی دی.

۳- افتنان

«افتنان» دې ته ویل کېږي چې دوه مختلف فنونه سره یوځای راوړې لکه مدحه او هجوه، تعزیت او مبارکي، رټنه او شاباسی او داسې نور لکه:

په قربانیو دې رحمت وایمه
په خیانتونو دې لعنت وایمه

٤- استطراد

«استطراد» دې ته ویل کېږي چې متکلم یو موضوع پېل کړې وي له هغې نه بلې ته ووځي خو د دواړو موضوع ګانو ترمنځ څه مناسبت وي بیا بیرته اولې موضوع ته راوګرځي او خبره پرې پوره کړي. لکه:

مېړني د جنګ میدان ته په خوښۍ ځي
سر کې ځي هغه چې ولري افغان سر
زلفې ډول او سینګار د نجونو بویه
شخ له ننګه زیږ په زغرو وي د ځوان سر

۵- مقابله

« مقابله » دې ته ویل کیږي چې دوه یا ډېر لفظونه یاد شي بیا د هغې په ترتیب د هغې په عکس او خلاف د مقابلو معناوو الفاظ راوړل شي. لکه:

صـداقت او امـانت کـې مـروت وي
په دروغـو او خـیانت کـې رذالت وي

٦- طباق

« طباق » په لغت کې جوختولو او پیوستولو ته ویل کیږي چې « ایهام التضاد » هم بلل کیږي په اصطلاح کې په یوه ځای د دوه مقابلو لفظونو راوړلو ته طباق ویل کیږي. لکه:

کـه ژړا کـه مـو خندا ده
کـه مـو درد کـه مـو دوا ده
تول شریک دي واړه یو یو
کـه خوښي کـه واویلا ده

دلته « ژړا او خندا »، « درد او دوا » او « خوښي او واویلا » یو د بل خلاف

او مقابل دي.

۷- إرصاد

«ارصاد» دې ته ویل کېږي چې د یوې فقرې یا د یوې قافیې نه مخکې داسې لفظ راوړل شي چې وروستنۍ فقره یا قافیه ترې څرګندېږي خو د مخکنیو فقرو یا قافیو تسلسل به معلوم وي لکه:

په درملو به ستون نه شي
چې نیولی اجل څوک وي

په دې شعر کې مخکې را روانې قافیې: ابخل، غل، احول، ارذل او مل دي، که دا بیت څوک داسې ووايي:

په درملو به ستون نه شي
چې نیولی... څوک وي

نو مخکې قافیې چې چاته معلومې وي د دی بیت خالي ځای په «اجل» ډکوي چې د مخکې عبارت نه څرګندېږي.

۸- مراعاة النظير

د «مراعاة النظير» نور نومونه هم شته لکه: تناسب، توفيق، ائتلاف، تلفيق او ايهام التناسب. مراعات النظير دې ته ويل کېږي چې دوه يا ډېر داسې لفظونه سره يو ځای کړې چې تضاد، ونه لري بلکه سره ورته وي او يا څه مناسبت سره ولري. لکه:

اوربدل او ليدل، ويل او کول سره توپير لري.

مرعاة النظير دا هم دی چې د يو کلام پيل او پای سره ورته وي لکه: مسلمانان سره ورونه دي بايد چې يو تر بله اتفاق اتحاد، همدردي او تعاون ولري او دا ځکه چې د يوه دين تابع دي. دې ډول ته «تشابه الاطراف» هم ويل کېږي.

۹- عقلي استدلال

کلامي او عقلي استدلال دې ته ويل کېږي چې په خبرو کې سريزه کېښودل شي او هغه د پايلې لپاره داسې غوښ دليل شي چې انکار ترې نه شي کېدای لکه:

د ګردې نړۍ هريو څيز جلا ځانګړتيا وې لري چې د نورو سره يې توپير څرګندوي، نو د دې لپاره چې يو شی ښه وپېژنو او د نورو سره يې توپير وکړو بايد ځانګړتيا وې يې مشخصې او وپېژنو.

۱۰- إدماج

ادماج دې ته ويل کېږي چې خبره د يوې معنا لپاره پيل شوې وي خو په ترڅ کې يې يوه بله معنا هم پرته وي. لکه:

د اسلام پر دين ګروهمن
زه پښتون يمه هوډمن
مال او سر به پرې ښندم
پرې به يون کړمه پتمن

دلته د پخې عقيدې خبره ده او د پښتون څخه د ژبې او غيرت دواړه معنا وې اخيستل کېږي.

۱۱- حسن التعليل

حسن التعليل دې ته ويل کيږي چې اديب د مدعا لپاره د هغې معروف او مشهور لامل را نه وړي بلکه يو بل داسې باريک ادبي لامل راوړي چې د اديب په باريکپوهنې، ذهانت او ذکاوت دلالت کوي. لکه:

په فطرت کې اند په خپله ژبه کيږي
زه به تل د خپلې ژبې ترجمان يم
د قرآن پوهه په خپله ژبه ښه شي
زه پښتو ته ژباړونکی د قرآن يم

دلته په خپله ژبه کې فکر کول او قرآن پوهنه د حسن التعليل څخه دي.

۱۲- مشاکله

د مشاکلې ښکلا دې ته ويل کيږي چې د څه ملګرتيا له امله د يوه لفظ سره داسې معنا ياده شي چې په عامو وختونو کې ورسره نه لګيږي. لکه:

ويل يې اختر دی تو کر راوړه چې جامې وګنډو
ما ويل هغه اختر لا نشته نن غمونه ګنډو

دلته د غمونو ګنډل په عامو خبرو کې نه ويل کېږي خو د جامو ګنډلو له امله د غم په وخت کې ويل شوي دي.

۱۳ - تجريد

د تجريد ښکلا دې ته ويل کېږي چې د يوه موصوف د صفت نه د مبالغې په توګه د هغه په څېر بل موصوف را اوباسي. لکه يو څوک د ښه دوست د دوستۍ په صفت کې ووايي:

هغه داسې خوږ، مخلص او همدرد دوست دی چې د هغه د دوستۍ له امله به نور ډېر کرد دوستان پيدا کړي.

۱٤ - لف او نشر (نغښتل او شيندل)

لف په لغت کې رانغښتلو ته ويل کېږي او نشر خپرولو او شيندلو ته. او په اصطلاح کې دې ته ويل کېږي چې په خبرو کې اول ګڼ لفظونه راوړل شي بيا په هماغه شمېر نور داسې لفظونه راوړل شي چې د مخکنيو هريوه سره د وروستني يوه اړيکي وي او دا په درې ډوله دی:

الف- مرتب لف او نشر.

ب- غير مرتب لف او نشر.

ج- معکوس لف او نشر.

الف- مرتب لف او نشر

مرتب لف او نشر دې ته ويل کېږي چې د لومړۍ فقرې د لفظونو په ترتيب د وروستنۍ فقرې لفظونه راوړل شي چې د وروستنۍ فقرې لومړی لفظ د لومړۍ فقرې د لومړي لفظ سره مناسبت ولري دوهم د دوهم او تر اخره همدا ترتيب مراعات شوی وي. لکه:

شپه او ورځ د دې لپاره دي چې پکې ارام او کار وکړو.

په اولې فقرې کې شپه او ورځ راوړل شول او په دوهمې کې ارام او کار ياد شول نو د دوهمې فقرې اول لفظ چې «ارام» دی د اولې فقرې د اول لفظ: «شپې» سره مناسب دی او دوهم لفظ چې «کار» دی د دوهم لفظ: «ورځ» سره مناسب دی.يا لکه: نيک خوی، سخا، مينه، ايمانداري او رېښتيا هغه لوړ انساني ارزښتونه دي چې بشري ټولنه جوړوي.

او بد خوی، بخل، کينه، بدديانتي او دروغ هغه ناوړه کارونه دي چې بشري ټولنه ړنگوي. په دې کې هم د اولې فقرې او دوهمې فقرې متناسبې کلمې يو د بل په ترتيب راغلي دي.

ب- غیر مرتب لف او نشر

غیر مرتب لف او نشر د مرتب په خلاف دی یعنې د اولې فقرې د لفظونو په شمېر د دوهمې فقرې لفظونه هم وي خو د اولې په ترتیب نه وي بلکه ګډوډ وي. لکه مخکنی دوهمه بېلګه چې داسې ووایو:

نیک خوي، سخا، مینه، ایمانداري او رېښتیا هغه لوړ انساني ارزښتونه دي چې بشري ټولنه جوړوي. او بخل، کینه، درواغ، بد دیانتی او بد خوی هغه ناوړه کارونه دي چې بشري ټولنه ړنګوي. د دې دواړو فقرو لفظونه په شمېر او مناسبت کې یو کچ دي خو ترتیب کې سره ګډوډ دي.

ج- معکوس لف او نشر

معکوس په لغت کې سر چپه ته ویل کېږي او په اصطلاح کې هغه لف او نشر دی چې د اولې فقرې لفظونو سره مناسب لفظونه په دوهمې فقرې کې د اولې د ترتیب سر چپه راوړې لکه مخکنی مثال چې داسې ووایو:

نیک خوي، سخا، مینه، ایمانداري او رېښتیا هغه لوړ انساني ارزښتونه دي چې بشري ټولنه جوړوي او درواغ، بد دیانتي، کینه، بخل او بد خوي هغه

ناوړه کارونه دي چې بشري ټولنه ړنګوي.

په دې کې د دوهمې فقرې اخري لفظ د لومړۍ فقرې د لومړي لفظ سره مناسب دی او نور ټول په همدې ترتيب سر چپه دي.

۱۵ - مزاوجه

مزاوجه دې ته ويل کيږي چې دوه داسې فقرې راوړل شي چې يوه شرط وي او بله جزا وي او په دواړو کې دوه دوه بله معناوې وي چې په شرط کې يوه راشي نو په جزاء کې په هماغه ترتيب هغه بله معنا راځي لکه:

که ستا له ستر ګو اوښکې سپينې څاڅي
زما له زړه نه در ته وينې څاڅي

دلته دوه معناوې دي يو د اوښکو څڅېدل دي او بل د وينې څڅېدل دي اولې د شرط فقرې کې اوښکې وڅڅېدې او دوهمې د جزاء فقرې کې وينه وڅڅېده.

۱۶- جمعه

جمعه په لغت کې يوځای کولو ته ويل کېږي او د بديع په اصطلاح کې هغه ده چې متکلم ګڼ شيان د يو حکم لاندې راوړي لکه:

غلا، زنا، چغلي، درواغ، غيبت، کينه او خيانت ټول شيطاني کارونه دي.

يا: ورورولي، يو والی، همدردي او ښندنه د بريالیتوب ضمانت ورکوي.

۱۷- تفريق

تفريق په لغت کې جلا کولو ته ويل کېږي او د بديع په اصطلاح کې دې ته ويل کېږي چې د دوه يو ډول کارونه يا څيزونه وي خو د دواړو حکم جلا جلا وي. لکه:

هغه دوه سرونه کله برابر دي
چې يو ډک وي له غيرته بل ديوث وي

دواړه سرونه دي خو يو غيرتي دی او بل ديوث دی نو حکمونه يې جلا جلا شول.

۱۸- تقسيم

تقسيم په لغت کې وېش ته ويل کېږي او د بديع په اصطلاح کې دې ته ويل کېږي چې ګڼ څيزونه ياد شي بيا په هر يوه باندې خپل مناسب تړاکلي الفاظ وويشل شي لکه:

روس او امريکا دواړو ماتې خوړلې ده. روسانو څرګنده مادي ماتې وخوړه او امريکا د معنوي او اخلاقي ماتې سره مخ ده.

۱۹- تفريق سره جمع

جمع او تفريق دې ته ويل کېږي چې متکلم دوه څيزونو ته يو حکم ورکړي خو لاملونه يې جلا جلا وي. لکه:

ستا مخ کې هم لمبې دي زما زړه کې هم لمبې دي
هلته ده ښکلا بله او دلته مينه جل وهي

۲۰- جمعې سره تقسیم

جمعې سره تقسیم دې ته ویل کېږي چې متکلم دوه یا ډېر څیزونه یو حکم لاندې راوړي بیا هغه جمع تقسیم کړي یا اول تقسیم وکړي بیا جمع. لکه:

زه او ته یو انسانان یو، ختمه وینه مو یوه ده
ته مېشبین گرځه بې غمه، زه احساس نه غمزده یم

۲۱- مغایره

مغایره دې ته ویل کېږي چې یو څل یې مدحه وکړې او بیا یې ذم (بدي) بیان کړې یا د دې سرچپه وکړې. لکه:

ملا ستا له گیرې جار شم، د دین لوړه مناره یې
خو چې دین باندې خوراک کړې، د شیطان ډلې سره یې

۲۲ - مبالغه

مبالغه د وصف په ښه والي يا بدوالي کې داسې تجاوز ته ويل کېږي چې د بر ليرې يا نه کېدونکی ګڼل کېږي. او دا په درې ډوله ده:

الف- تبليغ.

ب- إغراق.

ج- غلو.

الف- تبليغ:

تبليغ هغه مبالغې ته ويل کېږي چې د ښه يا بد صفت کميت (زياتوالی يا کمښت) په عقل يا عادت کې ممکن وي لکه:

زه يم زمري په دي نړۍ له ما اتل نسته
په هندوستان و پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته، له ما اتل نسته
(پټه خزانه امير کروړ)

ب- إغراق:

هغه مبالغې ته ويل کېږي چې د ښه يا بد صفت کميت (زياتوالی يا کمښت) په عقل کې ممکن وي او عادت کې مستحيل (نه کېدونکی وي).

لکه خوشحال ختټک چې وايي:

لا تر اوسه يې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ماسره وهلی سر په ځنګ دی

ج- غلو:

هغه مبالغې ته ويل کېږي چې د ښه يا بد صفت کميت (زياتوالی يا کمښت) په عقل او عادت کې مستحيل (نه کېدونکی) وي.

لکه خوشحال ختټک چې وايي:

د خوشحال سره که کښېني يو څو کاله
دا دغره ختټک به واړه شاعران شي

لمړنی دواړه (تبليغ او اغراق) منلې مبالغې بلل کېږي او وروستی (غلو) مردوده مبالغه بلل کېږي.

۲۳- د غندنې په رنګ کې ستاينه

«تأکيد المدح بما يشبه الذم» دې ته ويل کېږي چې د غندنې په رنګ کې د چا ستاينه او لمانځنه وکړي. لکه:

نوريې ټول خويونه ښه دي
خو په هر چا نيک ګومان دی

بل یې هر وخت او ناوخته
هر څوک ناست په دسترخوان دی

په دې کې د «خو» نه وروسته دوه کارونه ښه و نه ګڼل شول چې یو نیک ګوماني او بل مبلمه دوستي ده حال دا چې دا دواړه لا ښه خویونه دي، نو دا د غندنې په رنګ کې ستاینه او لمانځنه شوه.

۲٤- د ستاینې په رنګ کې غندنه

«تأکید الذم بما یشبه المدح» دې ته ویل کېږي چې د ستاینې په رنګ کې د چا غندنه وکړي. لکه؛

ډېر فاضل او همت ناک دی
دسترخوان د رته څنډې
په کاسو کې چې څه مومي
خپلې خولې کې یې منډي

۲۵ - القول بالموجب

«قول بالموجب» دې ته ویل کېږي چې د چا خبره د هغه د مراد په خلاف حمل کړي یا څوک یو چا ته یا کوم شي ته څه صفت ثابت کړي یا په کوم صفت څه حکم مرتب کړي، اوریدونکی د هغه په هکله هیڅ و نه وایي خو د هغه صفت ثبوت بل چا ته نقل کړي. لکه:

وایي سړی یم د جرګو مرکو
وایم ریښتیا خو د درواغو دوکو

یا لکه:

امریکا وایي: مونږ بشر دوستان یو.

مونږ وایو: بشردوستان هغه څوک دي چې د ټولې بشري ټولنې خېر غواړي او د بشر په خلاف د سیسې او توطئې نه جوړوي.

۲۶ - توجیه یا محتمل الضدین

توجیه دې ته ویل کېږي چې داسې یوه خبره وکړې چې دوه مفهومه ترې اخیستل کېدای شي او دواړه یو د بل ضد وي لکه چوکړ (په یوه سترګه ړوند) ته چې ووایې:

الله دی دواړه سترګې سره برابرې کړه.

دا دوه خواوې لري چې چو کړه سترګه یې روغه شي او دواړه په روغوالي کې سره برابرې شي دایې یوه خوا ده. چې روغه یې هم چوکړه شي او دواړه په ړوند والي کې سره برابرې شي دایې بله خواده.

۲۷- إستتباع

«إستتباع» دې ته ویل کیږي چې د یوه شي داسې وصف وي چې بل پورې یې هم ونښلوې یا یو شی په دوه ډوله یا دول. لکه:

په سترګو مې لیدلي داسې خلک چې بې لار وي
پردی مال داسې خوري لکه دا مال یې چې د پلار وي

۲۸- سلب او ایجاب

«سلب او ایجاب» دې ته ویل کیږي چې یوه شي ته داسې صفت ثابت کړې چې د ټولو خلکو نه یې نفې کړې او د هغه ستاینه یا غندنه پرې وکړې. ستاینه لکه:

ټول فضیلتونه چې په تاکې یو ځای شوي دي
نورو کې هیڅ نشته ما چې تاکې کوم لیدلي دي

غندنه لکه:

چې د بل په مـــال بخـــیل وي
له هغـــه به ابخل څـــوک وي! ؟

۲۹- د حکمت چار

«د حکمت چار» دې ته ویل کېږي چې چا سره خبرې کوې داسې چار ولوبوې چې هغه یې سوچ هم نه کاوه او هغه داسې چې:

۱- پوښتنې ته یې ځواب و نه وایې او داسې ځواب ورکړې چې هغه یې پوښتنه نه وي کړې.

لکه یوه استاذ راته کیسه کوله چې یو ښکلی شاګرد مې وپوښته چې ستا څو ورونه دي؟ هغه وویل: لویه خور نه لرم. زه د هغه کشر شاګرد ذکاوت او ځواب ته ډېر حېران شوم. ځکه چې ما غوښتل که لویه خور یې وي چې زه یې په نکاح واخلم.

۲- د چا خبره داسې لور ته واړوې چې د هغه مراد نه وي او په دې یې پوه کړې چې داسې باید ووايې.

لکه چې ډاکټر نه ناروغ پوښتنه وکړي چې څه خورم؟

هغه ورته په ځواب کې ووایي: بادي ترشي مه خوره!

مطلب دا چې د خوراک څیزونه ډېر دي باید د نه خوراک او پرهېز پوښتنه

دې کړې واى.

۳۰- إبداع

يوې خبرې کې چې د بديع ډېر ډولونه وي «ابداع» بلل کېږي لکه په دې لاندې عبارت کې:

پښتانه يو غيرتي، جنګيالى، توريالى او ننګيالى قوم دى، مېلمه دوستي، ښندنه، دينداري، اسلام دوستي او احسان نه هېرول هغه وصفونه دي چې پښتانه پرې وياړي، غم، ښادي، سوله، جنګ، دوستي او دښمني، مبارکي او تعزيت... په ټولنيزه توګه او ثابتو بنسټونو کوي، پښتانه په خپل کور کې د دوست او دښمن يو ډول احترام کوي، د پښتنو ديوه شخص سره چې چا دوستي وکړه او يايې پناه واخيسته ټول کهول او ټبر يې دوستي کوي او پنا ورکوي، د پښتنو دوستي او دښمني ښکاره او ښکاره او څرګنده وي. او پټې توطئې او دسيسې نه جوړوي، جرګه د پښتنو د قدر وړ عادت او بنسټ دى چې لويې او وړې شخړې او لانجې پرې پاى ته رسوي او حل کوي يې، خو کاش چې خپلمنځي دښمنى او ضد پکښې نه واى.

پښتانه د يوې خبرې او په خپل عهد او ژمنې کلک ولاړ خلک دي. له دښمن نه تېښته، په شا تګ، د ژمنې ماتول، د چا حيا ته سپک کتل، طمعه او د غيرت خلاف کارونه هغه ناوړه اعمال دي چې

پښتانه يې غندي او عيب يې بولي.

په دې جملو کې د بديع لاندې ډولونه دي چې لوستونکي يې بايد د مخکنيو لوستل شويو او راتلونکيو بحثونو په بنسټ را او باسي:

۱- تقسيم.

۲- جمع.

۳- ترصيع.

٤- مرتب لف او نشر.

٥- قول بالموجب.

٦- مزاوجه.

۷- تجريد.

۸- مراعاة النظير.

۹- استتباع.

۱۰- انسجام او سهولت.

۱۱- موازنه.

۱۲- مغايره.

۱۳- عقلي استدلال.

۱٤- طباق.

۱٥- افتنان.

۱٦- مالا يستحيل بالإنعكاس.

۱۷- رجوع.

۳۱- عکس او بدلون

کله چې مخکې وروسته کړې او وروسته مخکې کړې عکس بلل کیږي لکه: د حکیمانو نصیحتونه د نصیحتونو حکیمان دي.

یا لکه: که تا ویل چې زه یم او ما ویل چې زه یم نه به ته یې نه به زه یم
که ما ویل چې ته یې او تا ویل چې ته یې هم به ته یې هم به زه یم

۳۲- رجوع

رجوع په لغت کې واپس کېدلو ته ویل کیږي او د بدیع په اصطلاح کې: یوه خبره کول او بیا د قوي دلیل له امله د هغې نه واپس گرځېدل رجوع بلل کیږي لکه:

چا سره هېڅکله ښېگړه نه کړم
یره کوم یې پرېږده څه به وشي

۳۳- سنجيده ټوکه

سنجيده ټوکه هغه ټوکه ده چې څرگنده ټوکه وي خو په حقيقت کې يې مراد رښتيا وي.

لکه يو گوډ يا ړانده ته ووايې: په جنت کې به گوډان او ړانده نه وي.

دا خو څرگنده ټوکه ده خو حقيقت کې رښتيا دي ځکه چې جنت کې به الله تعالى گوډان او ړانده هم روغ کړي.

۳٤- تفريع

تفريع په لغت کې يو شى د بل فرعې او څانگې جوړولو ته ويل کېږي او د بديع په اصطلاح کې دې ته ويل کېږي چې يوه شي لپاره يو حکم ثابت کړې بيا د څه اړيکو له امله هماغه حکم بل شي ته هم ثابت کړې. لکه:

په زړه کې گرانه ده ستا مينه گرانه
هم راته گرانه ده ستا وينه گرانه

۳۵- تجاهل العارف (ناګاري)

د رتنې، زياتې ستاينې، زياتې غندنې او تعجب له أمله ځان ناګاره کول او داسې پوښتنه کول چې پرې پوه وي، تجاهل العارف بلل کېږي. بېلګه يې دا ده: (۱)

چې وايي ښه او په عمل کې نشته
د واعظ خله کې پاتې څه اثر دی
د خرد واورې د خوراک سره څه
همېشه ګل په لوبو څه خبر دی

يا دا:

په غليم چې غورځنګونه کړي دا څوک دی! ؟
په دښمن چې تاړاکونه کړي دا څوک دی! ؟
دا چې سر يې په خپل لاس کې دی نيولی
شپه او ورځ چې يرغلونه کړي دا څوک دی! ؟
د هدف په لوري يون کړي نه تمبږي
چې په غرو رغو مزلونه کړي دا څوک دی! ؟

۱- ناګاري د معانيو د بحث يو څېرکی هم دی (۱۰٤) م مخ وګورئ.

۳٦- معما یا لُغز (اړ)

لغز او معما دې ته ویل کېږي چې په شعر کې یو پټ مطلب نغښتی وي او هغه حل طلب وي پښتو کې اړ هم بلل کېږي. چې فارسي کښې ورته چیستان وایي. لکه:

یو مرغه داسې موجود دی په جهان کې
چې یې ذکر دی راغلی په قرآن کې

نه وزر لري نه الوزي هوا ته
نه څه خوري نه یې خوله وازه وي و چاته

په اوبو باندې دا پایي هر ساعت
بې اوبو هېڅ شي ته نه لري حاجت

پاکې صافې اوبه نه څښي که یې ګورې
یا به شنې وي یا به سرې وي یا به تورې

د دنیا په هره ژبه ښه پوهېږي
نه ارام کېږي او نه خوب نه ستړی کېږي

مبصر دی په دنیا کړي تبصرې
راته وایه معلومات که ته لرې

په دنیا کښې هر یو کار په دې روان دی
په یو آن د هرې ژبې ترجمان دی

که څه پلورې دا یې پلورې لوی تجار دی
که څه اخلې ده سره دې دوکاندار دی

نوې عصر کښې جهان ورته محتاج دی
فیلسوف دی د پوهانو د سرتاج دی

نه ژوندی دی نه یې روح سره تماس دی
دا د هر چا د فکرونو انعکاس دی

مسلم دوسته دا یو دومره لوی نعمت دی
رب له لورې د پرو ورې پرې عزت دی

ځینې وخت معما او اړ د تورو د حذف، مخکښې کولو او وروسته کولو نه جوړیږي لکه:

د ک خم د اوبو واړوه یو څاڅکی ترینه توی کړه
مدهوش نه چې هوش لرې کړې دا نوم مې د جانان دی

«خم» چې واړوې «مخ» شو او څاڅکی د «خ» تکی دی نو تکی چې ترې لرې کړې «مح» شو او «مدهوش» نه چې «هوش» لرې کړې «مد» پاتې شو نو «مح» سره چې «مد» یوځای کړې «محمد» شو.

ځینې اړونه او معماوې د ابجدو په حساب جوړیږي ددې لپاره د ابجدو د تورو قیمتونه یا شمیر باید وپیژنو.

د ابجدو حساب او د تورو ابجدي ارزښت

ابجدي کلمې	توری	ارزښت	توری	ارزښت	توری	ارزښت	توری	ارزښت
اَبْجَدْ	الف	۱	ب	۲	ج	۳	د	٤
هَوَّزْ	هـ	٥	و	٦	ز	۷		
حُطّیْ	ح	۸	ط	۹	ی	۱۰		
کَلِمَنْ	ک	۲۰	ل	۳۰	م	٤۰	ن	٥۰
سَعْفَصْ	س	٦۰	ع	۷۰	ف	۸۰	ص	۹۰
قَرْشَتْ	ق	۱۰۰	ر	۲۰۰	ش	۳۰۰	ت	٤۰۰
ثَخَّذْ	ث	٥۰۰	خ	٦۰۰	ذ	۷۰۰		
ضَظَّغْ	ض	۸۰۰	ظ	۹۰۰	غ	۱۰۰۰		

د ابجد واړونه

په پښتانو شاعرانو کې دا هم رواج و چې له يوه نوم، تاريخ او يا بل مطلب څخه به يې د ابجدو په حساب معما يا اړ جوړ کړ، لکه علي خان وايي:

معما مې ده د اسم اوه سوه

لا يو کم دی که ډوه واره ورله لام لاړ

د علي خان نوم نه د ابجدو په حساب په دې ترتيب (۷۶۱) جوړېږي:

ع= ۷۰

ل= ۳۰

ی= ۱۰

خ= ۶۰۰

الف= ۱

ن= ۵۰

۷۶۱

نو اوه سوه (۷۰۰) سره چې د لام شمير (۳۰) دوه ځل جمع شي (۷۶۰) کېږي «لا يو کم» نو (۱) چې ورسره جمع شي (۷۶۱) شو.

له دې جملې څخه د ميرزا حنان بارکزي دا شعر هم دی چې معما ته ورته

دی او د ابجدو په حساب دی:

په عــــد دود أبجــــد بـه درتـه وايم
يو څـو شــيــزه برابر دي په حــسـاب
که کشمش دی که نخود په حساب يو دي(١)
هم بنګي او ملحـــد يو دي په دا باب
د دراز او د بې عـــقل عـــدد يو دی(٢)
هم کـاکل او ګـژدم يو مکړه عـتـاب(٣)
د عـدوّ او د سګ يو رنګه عــدد دی(٤)
خـواجـه سـرا او خـرسـيـاه سـره تناب(٥)
هم صـهـبـا او پيـاله مـی په يوه رنګ دي(٦)
قـلـعــه برج هم برابر په دا حـــسـاب
په حـساب کې د غـه لوک او مـايه يو دي(٧)
هم د غـه رنګ برابر سـهـو حــسـاب(٨)

١- کشمش: واړه انګور. نخود: چنې.
٢- دراز: لوړ اوږد.
٣- کاکل: د جنکو د تندي ويښتان. ګژدم: لړم.
٤- عدو: دښمن. سګ: سپی.
٥- خواجه‌سرا: ايجړا (نربنځی). خرسياه: تورخر.
٦- صهبا: د انګور و شراب. پياله‌می: د شرابو پياله.
٧- لوک: رذيل خلک. مايه: ببر اوبن.
٨- د ميرزا حنان بارکزي ديوان: ٢٣٢ - ٢٣٣.

ددې شعر د حل جدول دادی:

کشمش	ک=۲۰	ش=۳۰۰	م=۴۰	ش=۳۰۰	=۶۶۰			
نخود	ن=۵۰	ح=۶۰۰	و=۶	د=۴	=۶۶۰			
بنګې	ب=۲	ن=۵۰	ګ=۲۰	ی=۱۰	=۸۲			
ملحد	م=۴۰	ل=۳۰	ح=۸	د ۴	=۸۲			
دراز	د=۴	ر=۲۰۰	الف=۱	ز=۷		=۲۱۲		
بې عقل	ب=۲	ی=۱۰	ع=۷۰	ق=۱۰۰	ل=۳۰	۲۱۲		
کاکل	ک=۲۰	الف=۱	ک=۲۰	ل=۳۰	=۷۱			
ګږدم	ګ=۲۰	ږ=۷	د=۴	م=۴۰	=۷۱			
عدوّ	ع=۷۰	د=۴	و=۶	=۸۰				
سګ	س=۶۰	ګ=۲۰		=۸۰				
خواجه‌سرا	خ=۶۰۰	و=۶	الف=۱	ج=۳	هـ=۵	س=۶۰	ر=۲۰۰	الف=۱
خرسیاه	خ=۶۰۰	ر=۲۰۰	س=۶۰	ی=۱۰	الف=۱	هـ=۵	=۶۷۶	=۶۷۶
صهبا	ص=۹۰	هـ=۵	ب=۲	الف=۱				=۹۸
پیاله مې	پ=۲	ي=۱۰	الف=۱	ل=۳۰	هـ-۵	م=۴۰	ی=۱۰	=۹۸
قلعه	ق=۱۰۰	ل=۳۰	ع=۷۰	هـ=۵	=۲۰۵			
برج	ب=۲	ر=۲۰۰	ج=۳		=۲۰۵			
لوک	ل=۳۰	و=۶	ک=۲۰		=۵۶			
مایه	م=۴۰	الف=۱	ی=۱۰	هـ=۵	=۵۶			
سهو	س=۶۰	هـ=۵	و=۶		=۷۱			
حساب	ح=۸	س=۶۰	الف=۱	ب=۲	=۷۱			

ځینې نور اړونه او لغزونه داسې وي چې د یوه شي ځینې اوصاف په داسې ډول وایي چې سړی پرې تېر وځي لکه:

مـــا لیـــــدلې د انګـور یوه دانه وه

چې په حجم هندوانې غـونډې درنه وه

د انګور هره دانه د هندوانې په اندازه وي خو هغـه هندوانه چې ګل په سر تازه را ټوکېدلې وي او د انګور د دانې په اندازه وي.

ځینې ولسي لغزونه هم شته چې د ونې یې بولي. ببلګه یې دا ده:

د ورځې ګرځي ګرځي د شپې راشي یوه پولۍ ازغي په ځان را واړوي.

ځواب یې «سترګې او بانه» دی.

یا دا:

د ورځې ګرځي ګرځي د شپې راشي د یوې روپۍ ځای ونیسي.

ځواب یې «امسا» دی.

دې ډول لغزونو یا دونو ته ټکونه هم ویل کېږي.

۳۷- تلميح

کومې کيسې، پېښې، شعر يا متل ته اشارې کولو ته تلميح ويل کېږي لکه:

د مېوند مـاتې په يو شـعـر فـتـحـه و مـونـدله
مـلاله پښـتـله په تاريخ کـې له چا نه هېـرېږي

په دې کې د مېوند په جنګ کې د ملالې مشهورې پېښې ته اشاره ده.

۳۸- تخلص

«تخلص» دې ته ويل کېږي چې د پېل شوې موضوع نه بلې خواته ووځې خو د واړه موضوع ګـانې داسـې سره سلېخ او وېښې چې لوسـتـونکی يا اورېدونکی په وتلو پوه نه شي.

بېلګه يې وروستـه را روان «حمد» دی چې د «حمد» نه د اسلام ستـاينې ته وتلی دی خو د مخکې سره څرګند پېښل او تړاو لري.

۳۹- براعة الإستهلال (په زړه پورې پیل)

د یوه کتاب، مضمون او شعر په سریزې او مطلع کې داسې باریکې اشارې کول چې د راتلونکي کتاب، مضمون او د شعر محتوا ترې څرګنده شي، «براعة الإستهلال» بلل کېږي؛ «براعة المطلع» او «حسن الإبتداء» هم ورته ویل کېږي.

لکه «د زړه انځور» د کتاب دا سریزه:

«انسان د نورو ځناورونه دوه ډوله توپیر لري:

۱- بدني جوړښت.

۲- معنوي ارزښتونه.

په معنوي توپیرونو کې یو ارزښتناک توپیر دا دی چې انسان په خبرو د خپلو غوښتنو څرګند تعبیر کولای شي؛ ژبه د زړه ترجماني او انځور ګري کوي. تعبیرونه، ترجماني او انځور ګري هم سره توپیر لري؛ تر ټولو ښه او اغېزناک تعبیر هغه پېیلې خبرې دي چې د انسان عواطفو، جذباتو او ولولو ته ټکان ورکړي، راویې پاروي او د بدلون او نوښت ښکارندوی شي.»

له دې سریزې نه په ډاګه څرګندېږي چې د کتاب راتلونکې موضوع شعر دی.

٤٠- براعة الطلب (په زړه پورې غوښتنه)

«براعة الطلب» دې ته ويل کېږي چې شاعر يا متکلم خپله غوښتنه او د زړه خبره په داسې ډول وکړي چې د اګيزه نه وي خو د باريکو اشارو نه څرګندېږي. لکه:

که ته يې نه وايې زه ښه پوهېږم
ستر ګو دې زړه نه څه پېغام راوړی

يا لکه يو څوک د چا نه خپل زوی ته د هغه لور غواړي په مرکه ورشي او ورته ووايي:

«دوستي او خپلوي چې څومره زياتېږي هغومره خوند کوي، مونږ ستا سوله ښو خويونو څخه ډېر اغيزمن يو، زما زوی عبدالله زلمی شوی دی، په دولسم ټولګي کې زده کړه کوي شکر دی خپلو مسؤليتونو ته ښه پاملرنه کوي، زه غواړم چې زمونږ او ستاسو دوستي په خپلوی بدله شي او د هغه د راتلونکې ژوند پرېکړه ستاسو ترغاړې کړم.»

د دې نه دا څرګندېږي چې د مخاطب نه د خپل زوی عبدالله لپاره لور غواړي.

٤١ - براعة المقطع (په زړه پورې پای)

«براعة المقطع» چې «حسن الإنتهاء» او «حسن الختام» هم بلل کېږي دې ته ویل کېږي چې د کتاب او مضمون پای یا د شعر مقطع کې داسې الفاظ راوړل شي چې ډير خواږه، په زړه پورې، د ښه معنا او ښکلي سبک درلودونکي او د پای څرګندوونکي وي. لکه «د زړه انځور» د کتاب دا پای:

دا چې مې وکښل، د زړه انځور
د اند په ځغاسته په نيلي سپور

له ربه غواړم لاس په دعا
چې ماته راکړي، توفيق هم نور

چې ورپوره شي، د پښتنو
په مايې پاتې، لا هم دی پور

دامې ارمان دی، دا مې هيله
چې راته پاتې نه شي پېغور

مسلم دوست وايي، ماته هروخت
دا تسلي ده، د زړه تکور

٤۲- حاضر جوابي

حاضر جوابي يوې نابېره مناسبې خبرې يا يو چاته په ډېرې چالاکۍ او ظريفانه انداز کې مناسب ځواب ورکولو ته ويل کېږي او دا هغه څوک کولای شي چې ډېر تېز ذهن ولري بېلګې يې دا دي:

ملا غلام الرحمن «جرار» چې په ملا وزر هم مشهور ؤ او د ننګرهار د للمې اوسېدونکی ؤ چا ورته وويل: دا رېښتيا ده چې په للمه کې په لس روپۍ... (باد اچول) دي؟ هغه ورته وويل: بده بې پېښې مزدوري ده کوې يې نه؟

يا لکه:

الفت صاحب د څو شاعرانو او اديبانو سره روان ؤ يو ځاي کې يې دوه خره وليدل چې يو د بل شڅ ګراوه، چا وويل: په خرو کې هم الفت شته. الفت ورته وويل: هو لکه زه چې په تاسو کې يم.

يا لکه:

ماته چا وويل: ابراهيم عليه السلام چې کله پسه حلال کړ غوښه يې چا وخوړه؟

ما ورته وويل: زه هغه وخت ورسره نه وم.

٤٣- طنز

طنز په تولنه کې په یوه شخص، کار، اړخ، طرز العمل، هیئت او حالت په توکوتوکو کې تنقید کولو ته ویل کېږي طنز په داسې توکو تصویر کشي کوي چې ښکاره د خندا او حقیقت کې د افسوس وړ وي.

بېلګه یې داده:

فضل د مولا دی اوس پېسو ته برابر شومه
شکر چې رهبر شومه
د بریم خوش نصیبه له دنیانه چې خبر شومه
شکر چې رهبر شومه
دا څنګه زندګي وه نه مې مال ؤ نه مې هال ؤ
هرچا ته به مې سوال ؤ
په څه تکلیف نیولی مې کابل کې امامت ؤ
ټول ژوند مې په ذلت ؤ
سرې توکرې د ودې وې وظیفه به مې خوراک ؤ
د مړو مې پوښاک ؤ
چې مړی به مې ولمباوه سخات ته به اوتر شومه
شکر چې رهبر شومه

***

په کوربه چې ګنده شو بيا هغه ما ته ليلام ؤ
همدغه مې انعام ؤ
که سپي به ؤختلی يا به پاتې شو له چانه
قربان به شو له مانه
خواري وه غريبي وه محتاجي وه بد قسمت ؤ
هر څه ته مې حاجت ؤ
چې مړي به رنګي شو بيا به بدونه بد تر شومه
شکر چې رهبر شومه

***

روسانو ته دې خبر وي راته بخت يې کړ بېدار اوس
هجرت مې شو په کار اوس
هغوی چې شهيدان شو رب دې وبخښي چې مړه شول
زمونږ لپاره ښه شول
جهاد ؤ که هجرت ؤ څه عجيبه خزانه وه
بې مثله ترانه وه
روانه ګوزاره شوه په خوندونو باندې سر شومه
شکر چې رهبر شومه

***

دا اوږد شعر دی مونږ د بېلگې په توگه په همدې بسنه کوو نور په «د زړه انځور» کې وگورئ.

٤٤- مزاحيه

مزاح په لغت کې ټوکې ته ویل کېږي او په اصطلاح کې هم د خوښۍ او خندولو لپاره يوې خبرې ته مزاح ویل کېږي مزاحيه صنعت هم د ادب يوه برخه ده خوښه هغه دی چې ريښتيا وي. بېلگه يې دا ده:

زمــا جــانان خــو شــهــزاده دی
چا حرامـيـانو پرې تارکول مږلي دينه

یا دا:

***

زمـــــا لـيـلـی داســـــې ډولي ده
لکه د مـيـښـې نه چې وياسې ښکرونه

یا دا:

ټټۍ ده که ډېران دی او که خوله د نسواري ده
يو رنگه مرداري ده
چې خر کله په شنو شي يا د شنو غويي په داره
يا کوږ که چرگه څاره

٤٥- شعري غلاوې

لکه څرنګه چې د ادب په مېدان کې پياوړي اديبان شته ادبي غله هم شته چې د نورو مضامين، شعر، نثر او نور ادبي اصناف ځان ته منسوبوي.

که يو څوک د چا عبارت، مضمون، شعر يا نثر رانقل کړي او د منقول عنه (له چا نه چې را نقل شوی) نوم وانخلي يا يې اثر ته حواله ورکړي دا کومه بده خبره نه ده بلکه د ادبي سلسلې يوه کړۍ ده. همدارنګه هغه عامې تشبيه، استعارې، کنايې، مجازونه... چې زيات مشهور دي او هر څوک يې پېژني او عام اديبان يې استعمالوي، د هغوی استعمال هم غلا نه ګڼل کېږي همدارنګه د چا په اقتفا، وزن، سجعې او څپونوی شعر ليکل هم غلا نه ده.

ادبي غلاوې په درې ډوله دي:

۱- نسخ يا انتحال.

۲- مسخ يا إغاره.

۳- سلخ يا إلمام.

نسخه

«نسخه» چې «انتحال» هم بلل کېږي په درې ډوله ده:

۱- کټ مټ.

۲- ورته.

۳- سرچپه.

۱- کټ مټ

دا هغه غلا ده چې ادبي غل يې له کوم لفظي او معنوي بدلون او توپير څخه د بل چا أدبي صنف کټ مټ را واخلي او خپل ځان ته يې منسوب کړي، دا ډول غلا سوچه او ډاګيزه ده. بېلګه يې دا ده:

حسن خط د بېدارۍ و مخ ته ورکړ
چې ښکاره شو په غدارو د نګار خط
ستا د شونډو مهره څوک واخلي دلبره
چې ترې پريوت چار پېره لکه ښامار خط

دا شعر محمد امان کټ مټ د عبدالقادر ختک له دېوان څخه اخیستی او خان ته یې منسوب کړی دی. (۱)

۲- ورته

ورته دې ته ویل کېږي چې کټ مټ لفظونه رانه وړي خو د هغه مرادف او ورته لفظونه راوړي لکه د عبدالرحمن بابا دا بیت:

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروا یم
په نرمي لکه اوبه د اور سزا یم

چې عبدالقادر خان ختک دا سې راوړی دی:

له هغوی مې څه اندوه چې په خوی اور وي
په خپل خوی کې سوړ او نرم تر اوبه یم

خو دا هم کېدای شي چې عبدالرحمن بابا له عبدالقادر خان نه نقل کړی وی ځکه چې دواړه همزولي وو.

۳- سرچپه

سرچپه دې ته ویل کېږي چې د شعر کومه معنا وي د هغې خلاف او ضد معنا په هماغه طرز راوړې لکه عبدالحمید چې وایي:

۱- د پښتو اشعارو دولونه (رېښتین).

لکه سر د پسه په اور غاښونه سپين کا
مـــاله نن له ډېره غـــمـــه خندا راغله

علي خان دا شعر داسې سرچپه کړی دی:

لکه و څـــاخي شـــونتـــی د اور له تاوه
هســـې مـــا له نن له غـــمـــه ژړا راغله

د دې شعر طرز د عبدالحميد بابا د شعر دی خو خندايې په ژړا بدله کړې ده او د پسه د سر د غاښو سپينوالی يې د شونتي په څڅېدو بدل کړي دي.

مسخه

مسخه چې اغازه هم بلل کېږي دې ته ويل کېږي چې په شعر کې څه بدلون راوړي او دا په درې ډوله دی:

۱- ممدوح.
۲- مساوي.
۳- مذموم.

۱- ممدوح (ستايل شوی)

ممدوح هغه مسخه بدلون دی چې شاعر د بل چا شعر کې داسې بدلون وکړي

چې نقل له اصل نه ښه برېښي؛ داسې بدلون نه یوائې دا چې بد نه دی بلکه ستایل کېږي او ښه گڼل کېږي ښېلگه یې هغه ده چې مخکې د نسخې یا انتحال په دوهم ډول (ورته) کې تېر شو که عبدالرحمن بابا د عبدالقادر خان ختېک نه نقل کړی وي نو د عبدالرحمن دا نقل د مسخې ممدوح ډول دی ځکه چې د عبدالقادر خان له شعر نه ډېر ښه دی.

۲- مساوي

دا هغه مسخه بدلون دی چې نقل د اصل نه ښه هم نه وي او ناوړه هم نه وي بلکه دواړه برابر وي دا ډول بدلون نه د ستایلو وړ وي او نه د غندلو خو فضیلت او ښه والی اصل ته حاصل وي.

لکه د قلندر افریدي دا شعر:

چې پرې غم غلطاوه شي هغه درې دي
یو قلم دویم بیاض دریم اشعار

چې د عبدالقادر ختېک د دې شعر ځخه یې نقل کړی دی:

چې پرې غم غلطوم درې مې محرم دي
یو قلم دویم کتاب دریم اشعار خپل

۳- مذموم

«مذموم» هغه مسخه بدلون ته ويل كيږي چې نقل له اصل څخه ناوړه او بې كاره وي دا بد ګڼل كيږي او غندل كيږي. لكه د رضواني دا شعر:

ستا په سپين تندي اى جانه دا شين خال دى
كه اذان ته د سحر ولاړ بلال دى

چې د عبدالحميد بابا له دې شعر څخه نقل شوى دى:

دا په وچولي تورخال زما د يار دى
كه اذان لره ختلى دى بلال

دلته نقل له اصل نه بې كاره دى.

سلخه

«سلخه» چې «إلمام» هم بلل كيږي دې ته ويل كيږي چې شاعر د بل چا د شعر يوائې معنا را واخلي. دا هم په درې ډوله ده:

۱- ممدوح.

۲- مساوي.

۳- مذموم.

۱- ممدوح

دا هغـــه إلمام بدلون دی چې نقل له اصل نه زيات بليغ وي. دا ډول نقل ستايل کېږي او ښه ګڼل کېږي. لکه د عبدالعظيم دا شعر:

اوس زمـــونږ د زمـــانې نه برکت لاړ
د هر چا د زړه نه مـــهـر و مـــحـــبت لاړ

چې دا خون ګدا له دې شعر نه يې اخيستی دی:

له جـهـانه مـهـر و مـينه مـحـبت لاړ
له هر چا نه اخلاص صدق محبت لاړ

دلته نقل له اصل ښه دی.

۲- مساوي

دا هغه إلمام بدلون دی چې نقل له اصل ښه نه وي او نه بد بلکه دواړه سره برابر وي. لکه د ميرزا حنان بارکزي دا شعر:

عمر درومي په شتاب
دم قدم دی په حساب

چې د عبدالرحمن بابا د دی شعر نه یې نقل کړی دی:

دلته دم او قدم دواړه په حساب دي
پل غلط لـه لارې مه ږده بې حسابه

دا دواړه سره برابر ښکاریږي، اګر چې که تول اړخونه یې وڅیړو د عبدالرحمن بابا شعر پرې ډېر ښه دی خو د روانۍ او د یوې معنا د اشتراک له مخې یې سره مساوي بولو.

۳ - مذموم

دا هغه اِلمام بدلون دی چې نقل له اصل څخه بې کاره، بې خونده او ناوړه وي؛ دا ډول بدلون غندل کیږي او بدګڼل کیږي.

لکه د میرزا حنان دا شعر:

پر مخ دې راغی، کرار کرار خط
رخسار دې لاندې، کړ وار په وار خط

دښمن هسې چارې، پر دښمن نه که
لکه چې وکړې، ستا په رخسار خط

داسې بریښي چې میرزا حنان د عبدالحمید بابا دې شعر نه نقل کړی

دی چې:

خط په مخ د صنم راغی
که سپوږمۍ شوه په هاله کې

داېې غاښ په خوله کې زیب کا
که ژاله شوه په لاله کې

او دا ځکه چې میرزا حنان خپله وایي:

د حمید د خوش نظمۍ په زراعت کې
دا حنان یې دی د شعر خوشه چین

خو دلته یې خوشه چیني لږه بې خونده ده.

٤٦ - توارد

« توارد » دې ته ویل کېږي چې د شاعر تخیل، ذهن او اند په تصادفي توگه هغې خواته لاړ شي چې د بل شاعر خیال هم هماغه خواته تللی وي او د دواړو شعر یو مطلب څرگند کړي؛ دا هغه وخت کېږي چې یو د بل شعر نه وي لیدلی خو افکار یې سره ورته وي او یا دغه یوه شعر کې سره ورته وي.

دا ډول شعر غلا کې نه راځي او نه غندل کېږي بلکه د ستاینې او تقدیر وړ دی.

٤٧- اقتباس

«اقتباس» دې ته ویل کېږي چې په شعر یا نثر کې د قرآن کریم یا حدیث الفاظ داسې وپېیل شي چې څرګند نه برېښي دا هم روا او د ستاینې وړ دی لکه:

مسلمان په مسلمان لري حرمت
که یې وینه ده که مال دی که یې پت

دا شعر د دې حدیث مضمون دی چې:

«کل المسلم علی المسلم حرام، دمه و ماله و عرضه»

«ټول مسلمان په بل مسلمان حرمت لري، که د هغه وینه ده که یې مال دی او که عزت»

٤٨- عقد

«عقد» نثر په نظم او شعر بدلولو ته ویل کېږي لکه د چا کتاب یا مضمون د ځینو الفاظو په زیاتولو او کمولو سره په شعر واړوي. دا هم ښه کار او د ستاینې وړ دی.

٤٩- حل

«حل» نظم او شعر په نثر بدلولو ته ويل کيږي لکه د چا شعر راواخلې، په نثر يې واړوې او يو مضمون يا کتاب ترې جوړ کړې دا کار هم ښه دی او د ستاينې او تقدير وړ دی.

٥٠- تضمين

«تضمين» دې ته ويل کيږي چې شاعر د خپل شعر په ترڅ کې د بل چا پوره يا نيمګړی شعر راوړي خو که مشهور نه وي نوم اخيستل يا ورته اشاره کول ضروري ګڼل کيږي او که د شاعرانو او اديبانو ترمنځ مشهور وي نو بيا که نوم وانه خيستل شي يا ورته اشاره و نه شي نو باک نه کوي لکه د مطيع الله دا شعر:

د مکې په طواف خر نه حاجي کيږي
دا وينا د اوليا ده سودا نه ده

چې د عبدالرحمن بابا دا شعر يې تضمين کړی دی:

د مکې په بزرګۍ کې هېڅ شک نشته
ولې خر به حاجي نه شي په طواف

د پښتو شعر ډولونه

په لومړي ویش پښتو هم د نورو ژبو په څېر دوه ډوله شعرونه لري:

۱- عروضي او دېواني.

۲- ملي او ولسي.

او هر شعر دوه ډوله وي:

۱- د محتوا او موضوع له مخې.

۲- د جوړښت او هیئت له مخې.

لومړی: عروضي او دېواني شعر

«عروضي» یا «دېواني» هغه شعر دی چې د ځانګړیو منل شوو شعري قوانینو په بنسټونو جوړ شوی وي.

اګر چې دا ډول اصطلاحات د عربي ژبې نه اخیستل شوي دي خو ځینې بنسټونه داسې وي چې د ټولو ژبو سره شریک وي او بې له دې چې د بلې ژبې سره پرتله شي د ژبو د فطري طبیعت د یو والي له امله سره یو ډول وي او بې تکلفه په یوه قالب کې سره راتلای شي؛ هغه بنسټونه ترې مستثنا دي چې د یوې ژبې ځانګړتیا بلل کېږي او هغه په تکلف د نورو ژبو سره برابرول ښه نه برېښي.

د پښتو ژبې د عروضي او دېواني شعر ډولونه په لاندې ډول دي:

۱ - د موضوع او محتوا له مخې

حمد

«حمد» په لغت کې ستايلو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې د الله تعالی د لوی والي، قدرت او صفاتو پرله پسې ستايلو ته حمد ويل کېږي. د جوړښت له مخې حمد کوم ځانګړی هيئت نه لري په هر جوړښت کې چې ښه څرګند، بليغ او ښکلی بريښي هغه ورسره مناسب دی. بېلګه يې دا ده:

د هغه ښتن په نوم مې دا کلام دی
چې د شعر راته کړی يې الهام دی

محمد يې استولی پېغمبر دی
د قرآن په نوم ورکړی يې پېغام دی

کائنات يې پيدا کړي دي پنا ته
پنا نه لري هغه علی الدوام دی

نېکمرغي او هدايت همه رانغاړي
غوره دين يې رالېږلی د اسلام دی

هر زمان او هر مکان کې وهر چا ته
د ژوندون طرز العمل ته يو نظام دی

په انسان یې دي بې شمېره احسانونه
چې د عقل یې ورکړی لوی انعام دی

د خپل دوست او هم د ښمن روزي رسان دی
د کرم سیوری یې هر چا باندی عام دی

پاک رسول یې ؤ کتاب عملي کړی
دا لامل دی چې هغه ته احترام دی

چې د رب حکم چا نه دی پلی کړی
لعنتي دی رسوا شوی او بدنام دی

چې الله رانه راضي شي په دارینو
مسلم دوست وایي همدا زما مرام دی

مناجات

مناجات په لغت کې پټې جرګې او د راز خبرو ته ویل کېږي او په اصطلاح کې الله تعالی ته د بنده عاجزي، خواري او احتیاج وړاندې کول او له هغه جل جلاله څخه د خپلو اړتیاوو د پوره کولو غوښتنه، بلنه، دعاء، سپارښتنه او زاري کول مناجات بلل کېږي په جوړښت کې کوم خاص هیئت نه لري په کوم کې چې شه برېښي هماغه یې جوړښت او قالب دی. لکه:

زمـــونږه ربه ای زمـــونږ د امـــېـدونو ربه
د کـــائناتو د پیـــــدا او درازونو ربه
د مـــخلوقـــاتو د بقـــا او د پنا څـــښتـــنه
ای د نړۍ د هر زوال او ارتقـــا څـــښتـــنه
د لویې مـځکې اسـمـانونو او خـلا څـښتـنه
په هر یو کار د خپلی خوښې او رضا څښتنه
ای د أجـــرامـــو او ذرومـــالیکولونو ربه
د کـــائنـاتـو د پـېـــدا او د رازونـو ربه

***

د اضطراب او تزلزل او د بدلون خالقه
د اطمینان او د قرار او د سکون خالقه
ای د جنګونو د ورانیو او شبخون خالقه
د روغې جوړې او د سولې او سمون خالقه
د انبیاوو فرښتو او کتابونو ربه
د کائناتو د پېدا او د رازونو ربه
ای په اندونو اندیښنو زمونږ په کړو خبره
په دې غمیزو او زخمونو اوز ګېرو خبره
زمونږ په ستونزو کړاوونو او دردو خبره
د زمانې په ناروا کړو وړو خبره
په حال مو رحم وکړه ای د رحمتونو ربه
د کائناتو د پېدا او د رازونو ربه

***

مونږ ګناهګار یو ته رحمان یې هم رحیم مالکه
مونږ خطاکار یو ته غفور یې هم کریم مالکه
که مونږه سر غړوو ته هم یې حلیم مالکه
مونږ بنده ګان یو ته الله یې ای عظیم مالکه
ای مهربانه شه راتېر له ګناهونو ربه
د کائناتو د پېدا او درازونو ربه

***

نېکي مو نشته خو تا يو ګنهو توحېد دي منو
قرآن منو، قيامت منو، وعدا او وعيد دي منو
ستا ټول صفات منو يو تا منو حميد دي منو
حاکميت يوائې ستا منو مجيد دي منو
څارې مو سمې کړه د ژوند او د مرګونو ربه
د کائناتو د پېدا او د رازونو ربه

نعت

«نعت» په لغت کې صفت ته ویل کېږي چې ستایل وي او که غندل وي. او په اصطلاح کې د محمد رسول الله صلی الله علیه و سلم د شخصیت، اخلاقو او کړو وړو ستایلو ته نعت ویل کېږي. کوم ځانګړی جوړښت نه لري کوم هیئت چې ورسره مناسب ؤ هماغه یې جوړښت دی. بېلګه یې دا ده:

مـولود چې په مکه کـې هویدا شـو مـحـمـد
تیـارو د جـهـالت لره سـبـا شـو مـحـمـد
حِـرانه را څرګنده شـوه سـپـوږمـۍ د رحـمـتـونو
تـروږمـۍ د فـسـادونو ته رڼا شـو مـحـمـد
مظلوم کړه خوښي شوه د یتیم اوښکې شوې وچې
سـمـون لره، بدلون لره پیـدا شـو مـحـمـد
د ظلم غلبـې وې د سـتـم توري پردې وې
تورتم د ګـمـراهۍ ته رهنمـا شـو مـحـمـد
رحـمـت شـو بې تـوپیـره برابر ګـردې نړۍ تـه
انسـان لپـاره زیری په ریښـتیـا شـو مـحـمـد

سودونه وو ظلمونه وو نړۍ ټوله بیماره
دې گرد و کړاوونو ته دوا شو محمد

وروري او همدردي او عدالت وو نړېدلي
دې لوړو ارزښتونو ته ځلا شو محمد

لمسون ؤ بې باکي وه بې لاري حق تلفي وه
دې ټولو بدرنگیو ته ښکلا شو محمد

الفت شو محبت شو لیاقت شو صداقت شو
بیمارو پرګنو ته مسیحا شو محمد

له ټولو خطرونو بې پروا عالي جرأت ؤ
په بدر او اُحُد کې بر ملا شو محمد

لا رښود ؤ پیغمبر ؤ همیشه د حق په خوا ؤ
له ټولو بر بادیو نه جلا شو محمد

هلاک به مسلم دوسته مخالف د محمد وي
هر چا لره قدوه او مقتدا شو محمد

صلی الله علیه و سلم

مرثیه (ویرنه)

مرثیه د مړه انسان یاد، ستاینې، او د غم ښکاره کولو ته ویل کېږي. جوړښت کې کوم ځانګړی هیئت نه لري کوم چې مناسب وګڼل شو په هماغه هیئت کې جوړېږي. بېلګه یې دا ده:

د حاجي امیرخان لور «بي بي زینب» د خپل ورور: «شاه محمود» په مړینه دا ویرنه ویلې ده: (۱)

ږغ سو چې ورور تېر له دنیا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا
زړه مې په ویر کې مبتلا سونا
چې شاه محمود له ما جلا سونا

***

داروڼ جهان را ته تور تم دئ نا
زړه د ببلتون په تیغ کړم دئ نا
هو تک غمجن په دې ماتم دئ نا
د پاچاهۍ تاج مو برهم دئ نا

۱- پټه خزانه: ۱۸۸.

چې شاه محمود تېر له دنیا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا

***

ځوان ؤ مېړه د توري جنګ ؤنا
ولاړ د کام په نام و ننګ ؤنا
دښمن له ده په وینو رنګ ؤنا
پر میدان شېر و یا پلنګ ؤنا
افسوس چې مرګ د ده په خوا سونا
قندهار واړه په ژړا سونا

مدحه (ستاینه)

«مدحه» ستایلو او د ښو خویونو او کړو وړو یادولو ته ویل کېږي. بیلګه یې دا ده:

ښکارندوی(۱) د محمد سام شنسباني (۲) په مدحه کې وایي:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیایې ولونل په غرونو کې لالونه(۳)

د دې مطلع نه وروسته د پسرلي په هکله ګڼ بیتونه وایي او بیا وایي:

نه به چونې په ستا یه د جنډیو موړسي (٤)
نه به موړسم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله ختلی لمردی(٥)
د پسرلي په دود ودان له ده رغونه

۱- «ښکارندوی» د احمد زوی دی او د غور پلازمېنې: «فیروز کوه» کې د غوري حکمرانانو یو لوړ رتبه مامور ؤ. یو عالم، ادیب او شاعر ؤ.
۲- محمد سام شنسباني د غوري حاکمانو څخه یو مشهور حاکم ؤ چې په سلطان محمد سام یادېده؛ شنسباني د هغه نیکه: «شنسب» ته نسبت دی.
۳- لونل: شیندل.
٤- چونې: بلبلې. جنډی: ګل.
٥- شنسب بن خدنک د غوري بادشاهانو نیکه ؤ چې د علی رضی الله عنه په خلافت کې یې د هغه په لاس ایمان راوړی ؤ او د هغه له پلوه سر لښکر هم ګمارل شوی ؤ. کهاله: د کهول څخه دی چې کورنۍ ته ویل کېږي.

له ښندو اوروي درست ایواد زرغون کړ (۱)
له قصداره تر دیبله یې یو نونه(۲)

په زابل چې د بري پرنیلي سپورسي (۳)
په لاهور یې د مېړاني ګوزارونه

نه یې څوک مخ ته دري د میرڅمنو (٤)
نه یې توري ته ټینګېږي کلک ډالونه

د اسلام د دین شهاب د نړۍ لمر دی (٥)
تورستهان یې کړ رڼا په جهادونه (٦)

هره پلا چې دی پر هندو سند یرغل کا
رڼوي توره نړۍ په شهابونه (۷)

نورهم شته خو مونږ په همدې د بېلګې په توګه بسنه کوو.

۱- ایواد: هېواد، وطن.
۲- قصدار یا قسدار یا قزدار: د هند او سیستان ترمنځ د بلوچستان په څنډو کې د یوه ځای نوم دی.
دیبل: د هندوستان د بحر په غاړه د سند بندرګاه وه. یون: په غور ځنګ تللو ته ویل کېږي.
۳- نیلی: اس
٤- میرڅمن: دښمن.
٥- شهاب: لمبه، رڼا.
٦- ستهان، ستان: ظرف، مملکت، ځای، تاتوبی.
۷- پټه خزانه: ٥٤.

هجو (غندنه)

«هجو» د یو قوم، کورنۍ، کور یا شخص غندنې او د هغوي د ناوړه کړو یادونې ته ویل کېږي.

بېلگه یې دا ده:

میرخمن سره مې کړې وه دوستي
نه وفا وه نه حیا وه نه راستي
ینگرانو سره مه کوئ یاري
ما لیدلې ده په دوی کې غداري
رود تېښتې به داگوري هر ساعت
بې غیرت دی پکې نشته لیاقت
صبر مه کوه په کړو د میرخمن
له ارذالو سره نه گرځي پتمن
ما لیدلې د هغه سره نېکي
سر تر پایه ده بدي او بې باکي
د رذیل نه توقع د شرافت
که چا کړې ثمره یې ندامت

ویاړنه

په خپل دین، قوم، ژبه، نیکونو، تورې، مړانې، زړورتیا او نورو اوچتو صفتونو ویاړ کولو ته ویاړنه ویل کېږي.

بېلګه یې دا ده:

امیر کروړ (۱) وایي:

زه یم زمـری پردې نړۍ له مـا اتل نسـتـه(۲)
په هندوسـتـان او پر تخـار او پر کـابل نسـتـه
بـل پـه زابـل نـسـتـه
لـه مـا اتـل نـسـتـه
غشی د من مې ځي برېښنا په میر ښمنو باندې(۳)
په ژوبله یو نم یرغـالم پر تښتـېـدونو باندې(٤)
پـه مـاتـېـدونو بـانـدې
لـه مـا اتـل نـسـتـه

۱- امیر کروړ د امیر پولاد سوري غوري زوی ؤ په (۱۳۹) هـ.ق کې د غور په مندېش کې امیر شو؛ امیر کروړ ډېر غښتلی اتل ؤ أبوالعباس سفاح چې کله د بني أمیه سره جګړې کولې او ابو مسلم یې ملګری ؤ امیر کروړ جهان پهلوان هم د هغوی په مرسته کې ډېرې فتحې کړې وې او مړانه یې ښودلې وه چې د خپلو فتوحاتو او تورې په هکله یې همدا پورتنی ویاړنه ویلې وه.

۲- اتل: پهلوان.

۳- من: دسنسکریتي ژبې اریایي کلمه ده چې زړه ته ویل کېږي او په پخوانۍ پښتو کې د ارادې په معنا استعمال شوې ده چې دلته یې هم معنا «اراده» ده.

٤- یرغالم: د یرغل مفرد متکلم کلمه ده یعنې حمله او هجوم کوم.

زما د بريو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ او په وياړ(۱)
د آس له سوو مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ(۲)
کرم ايوادونه اوجاړ(۳)
له ما اتل نشته

زما د توري تر شپول لاندې دي هرات و جروم(٤)
غرج و باميان و تخار بولي نوم زما په اودوم(٥)
زه پېژندويم په روم(٦)
له ما اتل نشته

پر مروزما غشی لوني ډاري دښن راځخه(۷)
د هريوا لرود پرځنډو ځمه تښتي پلن راځخه(۸)
رپي زړن راځخه(۹)
له ما اتل نشته

١- بريو: د «بري» جمع ده، فتح او کامراني. هسک: اسمان. نمنځ: نمانځنه يا لمانځنه. وياړ: افتخار.
٢- سوو: سومانو. لتاړ: دړې وړې شيندلي، ګډوډ.
٣- اوجاړ: ويجاړ، ړنګ.
٤- جروم: د ګرم نه دی د افغانستان جنوبي برخه.
٥- اودوم: زهر، چاره.
٦- پېژندو: مشهور.
٧- لوني: شيندي. ډاري: وېرېږي. دښن: دښمن.
٨- پلن: پلی يا غښتلی.
٩- زړن: زړور.

حماسي شعر

حماست په لغت کې سختوالي، شدت او زړورتیا ته ویل کېږي او په شعري اصطلاح کې حماسي هغو شعرونو ته ویل کېږي چې موضوع یې جنګ، مړانه، ښندنه، زړورتیا، ننګ، غېرت، توره او ویاړونه وي. ویاړنه د حماسي شعر یوه برخه ده او توپیر یې دا دی چې «ویاړنې» کې یوازې افتخاري اړخونه وي او په حماسي کې مخکني ټول ډولونه او اړخونه وي؛ سربېره پر دې په جنګ تېزول او ولولې راپارول هم په حماسي شعرونو کې ګڼل کېږي؛ د «ویاړنې» او «حماسي» شعر منځ کې تناسب د عموم خصوص مطلق دی هره ویاړنه حماسه ده او هر حماسي شعر ویاړنه نه ده.

بېلګه یې د خوشحال ختک دا شعر دی:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختک یم

یا لکه دا شعر:

چې خوشحال یې وه په ننګ تړلې توره
زه هماغه ننګیالی پښتون افغان یم

تول جهان مې غېږ د توري او رېدلی
و هر چاته زه د لمرغوندې عيان يم

معما، طنز او مزاح هم د موضوع له مخې ډولونو کې راځي چې مخکې د بديع ډولونو کې تېر شو.

۲ - د جوړښت له مخې

د عروضي او دېواني شعر دوهم وېش د جوړښت له مخې دی چې لاندې ډولونه لري:

۱ - غزل، نسيب او تشبيب

«غزل» مصدر دی د غزل يغزل نه؛ په لغت کې د ځوانو هلکانو او جنکو خبرو، د محبوب د غږو ستاينې او د دوه وو مينو (محب او محبوب) تر منځ کړو وړو، خبرو او ښځو سره لوبو ته ويل کېږي. تغازُل يو تر بله د مينې خبرو ته ويل کېږي او تَغزّل په تکلف سره غزل ويلو ته ويل کېږي، «غزل»، «نسيب» او «تشبيب» سره نږدې دي، نسيب د مينې حال او تشبيب په ډاگيزه توگه د محبوب او د هغه د صفاتو يادونې ته ويل کېږي او کله کله درې واړه يو د بل په ځای استعمالېږي.

او په اصطلاح کې غزل د شعر هغه ډول دی چې سر تر پایه یو وزن او یوه قافیه ولري که ردیف ولري نو هم د ټولو یو ردیف وي او که نه نو قافیه او وزن خو به ارو مرو یو وي په یو بیت کې دوه مسرې وي او د ټولو بیتونو د دوهمې مسرې قافیې یو شان وي د غزل اول بیت ته مطلع ویل کیږي چې په لغت کې د ختلو او ښکاره کېدو ځای ته ویل کیږي شاعر هم له همدې لارې نه راخېژي او راښکاره کیږي د مطلع د دواړو مسرو قافیه به یوه وي او د نورو ټولو دوهمه مسره د مطلع په قافیې او وزن ویل کیږي.

آخري مسرې ته مقطع ویل کیږي چې په لغت کې د غوڅېدو ځای ته ویل کیږي شاعر هم خپل شعر په همدې مسرې غوڅوي په مقطع کې اکثر شاعر خپل نوم یا تخلص یادوي خو اوسني شاعران یې ضروري نه گڼي.

غزل لږ تر لږه پنځه بیتونه او زیات یې پنځلس بیتونه وي او که له دې لږ څه زیات شي هم بد نه برېښي.

په غزل کې د یوې موضوع تسلسل ضرور نه وي او اکثر هر بیت یوه ځانگړې موضوع وي خو کله کله یو لنډ مطلب هم په څو بیتونو کې راوړل کیږي او د قصیدې سره یې توپیر همدا دی چې په قصیده کې اوږده موضوع پر له پسې څرگندیږي او په غزل کې داسې نه وي.

د غزل لپاره ځانگړې موضوع نشته، شاعر کولای شي چې هر مطلب پکې را ونغاړي او یا ډېر مطالب پکې ځای کړي. بېلگه یې دا ده:

د هغه احساس له غره نه هم اوچت دی
چې دردمند په غم فغان د خپل ملت دی

ژوند یې ژوند دی مرګ یې ژوند دی هغه نه مري
مخکې مخکې چې په کار کې د غیرت دی

د هغه نوم تاریخونو کې ځلیږي
چا چې کړی د ټولنې ښه خدمت دی

د یو خبتې ځرول یې چې هدف وي
حیواني خوی کې روان په ښه شدت دی

چې د بل په غلامۍ کې ژوندی خوښ وي
مرګ یې ښه دی چې تر ټولو دون همت دی

چې د ننګ په کار کې وروسته پاتې کیږي
بې ایمان دی او بزدل دی او بې پت دی

د بند ترجیع

بند په یوه شعر کې څو همقافیه بیتونو ته ویل کېږي چې وروسته تري قافیه بدلیږي او ترجیع را اګرځېدلو ته ویل کېږي د بند ترجیع د غزل په ډول یو بند په یوه قافیه ویل کېږي چې لږ تر لږه پنځه او زیات یې لس بیتونه وي او کله له دې هم زیاتیږي؛ لومړي بند نه وروسته یو بیت ورزیاتیږي چې وزن او څپې یې د همدې بند غوندې وي خو قافیه یې بدله وي، بیا د هر بند نه وروسته همدغه بیت بیا بیا را وړل کیږي چې همدې بیت ته د بیا بیا ورګرځېدلو له امله ورته د بند ترجیع ویل کیږي د هر بند بېله او جلا قافیه وي خو د شعر وزن او څپې سر ترپایه یو ډول وي. بېلګه یې دا ده:

ته مؤمن ژوندی په دین یې زما یاره
ته ژړا فریاد کوه په څو کوکاره
استغفار توبه کوه د ځان د پاره
ته هم ځان ساته پنا غواړه له ناره
بېداري کړه په سهار کې زما دلداره
زه و تا ته یو ویی کړم زما وروره

په سهار بېداري کړه اخر وګوره
يا به ته سې په جنان کې يا په اوره
چې ستا حال به په څه رنګه سي له ګوره
بېداري کړه په سهار کې زما دلداره(۱)

د بند ترکيب

بند مومخکې وپېژانده او ترکيب سپرولو او يو ځای کولو ته ويل کېږي د بند ترکيب، د بند ترجيع په څېر وي خو دومره توپير لري چې د بند ترکيب کې د هر بند نه وروسته د جلا قافيې يو بيت ورزياتېږي او بيا نه غبرګېږي بلکه د هر دوه بندونو منځ کې يو داسې بيت راوړل کېږي چې وزن او څپې يې د نور شعر سره يو شان وي خو قافيه يې جلا وي او ترکيب يې هم له همدې کبله بولي چې شاعر د هر بند نه وروسته د بدلې قافيې يو بيت پرې سپر وي او ورسره يو ځای کوي يې. بېلګه يې دا ده:

نن د چمن له خوانه شور اورم
په بوراګانو ظلم زور اورم
سمسور چمن کې تور کارغان ګورم
په سرو ګلونو کې زاغان ګورم

۱- پته خزانه: ۱٦٤.

لـه ژړا ډک شـــین گلســـتـــان گـــورم
ډېر په فـــریاد مـــړاوي گـــلان گـــورم

بلبل چـغـــبـږي چې گلونه غــواړم
په خـپلواکــۍ مـین سـرونه غــواړم

چې بهـــار نـه وي زه چمن څـــه کــوم
چې اســـلام نـه وي زه وطن څـــه کــوم

چې گـــلان نه وي زه گلشن څـــه کــوم
چې خـــوښي نه وي زه خـــفتن څـــه کــوم

ظالمه تاسـره جـهـــاد کــوم
زه د مظلوم سـره امـداد کــوم

مثنوي (دوه ییز)

«مثنوي» هغه شعر ته ویل کیږي چې د هر بیت دواړه نیم بیتي سره یوه قافیه وي، د ټولو بیتونو وزن او څپې سره یو ډول وي خو قافیه د هر بیت جلا جلا وي، دا ډول شعر کومه ځانګړې موضوع نه لري او هره موضوع پکې نغښتل کېدای شي؛ اکثره پکې کیسې ویل کیږي. بېلګه یې دا ده:

زده کــــړه ښــــه ده چې رڼا ده
نــا پـــوهـــي لـــویـــه بـــلا ده
عـــلـــم هـــر چـــاتـــه د وادی
کـــه د دین کـــه د دنیـــا دی
خـــو زمـــــونږ چې ترقي ده
لـــوده ګـــي او بـــې بـــاکـــي ده
په نصـــاب کـــې مـــو نقـــصـــان دی
پـــه تـــقـــلیـــد بـــانـــدې روان دی
چې نړۍ کـــې فـــرســـوده شي
هغـــه مـــونږ ســـره تـــازه شي

نه نوښت او نه بدلون شته

نه څه فکر نه سمون شته

مثلث (دریيز)

«مثلث» هغه شعر ته ویل کېږي چې لومړی بند یې درې مصراعې (مسرې) وي او درې واړه په یوه قافیه وي د نورو بندونو دوه مصراعې یې په یوه قافیه وي او دریمه یې د سر بند په قافیه وي او کله هم لومړی بیت یوه قافیه وي او دریمه مصراعه بله وي خو هر بند چې درې مصراعې وي مثلث بلل کېږي. او کله هم هر بند یوه قافیه وي؛ وزن او څپې د ټولو یو ډول وي. بېلګه یې دا ده:

روان په سمه لار

د علم طلبګار

د بدونه بېزار

ریښتونی مسلمان

حاصل دي شه مراد

وروري او اتحاد

دښمن سره جهاد

ځان پوه کړه په قرآن

مربع (څلوریز)

«څلوریز» هغه شعر ته ویل کېږي چې هر بند یې څلور نیم بیتي وي کله یو د مطلع بیت لري او کله د لومړیو څلورو مسرو یوه قافیه وي چې دوه بېتي مطلع بلل کېږي؛ د نورو بندونو درې مسرې یوه قافیه وي او څلورمه د مطلع په قافیه وي؛ سرتر پایه د شعر وزن او څپې یو ډول وي. او کله څلور واړه مسرې یو ډول قافیه لري. بیلگه یې دا ده:

(۱)

مغلوب شو په نړۍ کې د الحاد طرفداران
د ظلم تغر ټول شو چې توحید شو راعیان
هر خوا تیاره خپره وه د انکار او جهالت
ترږمۍ وه د فساد ټول و واخته په علالت
د شرک بازار ؤ گرم خر خېده به ضلالت
رڼا شوه راڅرگنده آیتونه د قرآن
د ظلم تغر ټول شو چې توحید شو راعیان(۱)

یا لکه دا:

۱- د حق گونگسی: ٤٦.

(۲)

بېلتـــانه ناره مـــې وســـوه په کـــور باندې
نه پوهېـــږم چې به څــــه وي پښتې په وړاندې
له خـپلوانو بـه بېلېـږم په سـرو سـتـرګـو
دواړه سـتـرګـې مـې په وينو دې ژړاندې
اسمـاعـيله سـتـا نارو مـې زړګی سری کړ
بېلتـانه خـرښـبـون بيـا له تا پردی کړ
نه هېـرېږي کـه مـې بيـا نه سـتـا يادی کړ
په چړود وير به پرې سي د زړه مـراندې(۱)

يادا:

(۳)

ګـــهـــيځ رڼا د لمر خـــپـــره ســـوه
زمـــا پـر کـــور د وير نـاره ســـوه
د بـېلتـــون ورځ تـوره تيـــاره ســـوه
ورغ ســـونا څـــا په چې بېلتـــون راغی
زړه مـــــې لـه دې ويرنـې شــــين دی
پــه ژړا ژاړم څـــــــه نـاورين دی(۲)

۱- پټه خزانه: ۲۰.
۲- ناورين: مصيبت، غم، کړاو.

زرغـــون لـه اوښـــو مـــې ســـادين دئ(۱)
پـه نـول نـولـېـــږم چې تـاخـــون راغـی(۲)

مخمس (پنځيز)

«مخمس» د مربع غونډې وي خو توپير يې دا دی چې بندونه يې پنځه مسرې لري څلور يو ډول قافيه لري او پنځمه يې بدلېږي وزن او څپې سر ترپايه يو ډول وي کله يو بيت جلا مطلع لري او کله يې نه لري او کله پنځه واړه مسرې يو ډول قافيه لري. بېلګه يې دا ده:

دې ګـــډوډيو نـه پرېشـــان يمـــه زه
ډېر و حـــزيونو تـه حـــېـــران يمـــه زه
هر يو دعـــوه د مـــسلمـــان کـــوي
پـه خـــوله خـــبـــرې د ايمـــان کـــوي
بـل غم يې نشـتـــه غم د ځـــان کـــوي
طرفـــداري تېول د شـــيطان کـــوي
لـه غم و فکر ســـر ګـــردان يمـــه زه
ډېرو حـــزيونو تـه حـــېـــران يمـــه زه

۱- سادين: شو دياره مځکه.
۲- نول: پرېشاني، غم. تاخون: هغه ناروغي چې وينه غورځوي. پته خزانه: ٦٢.

مسدس (شپږيز)

«مسدس» هم د مربع او مخمس غوندې دی خو توپير يې دا دی چې په دې کې هر بند شپږ مسرې لري چې پنځه يې يوه قافيه لري او شپږمه يې بدلېږي وزن او څپې د ټول شعر سر تر پايه يو ډول وي.

کله کله د مطلع يو جلا بيت لري او کله يې نه لري. او کله هم ټول شپږ واړه نيم بيتي يوه قافيه لري؛ د محتوا له مخې کومه ځانګړې موضوع نه لري او هر مطلب پکې بيانېدای شي. بېلګه يې دا ده:

په قربانيو دې رحمت وايمه
په خيانتونو دې لعنت وايمه

صد افرين دې په همت وايمه
ستا کارنامو ته شجاعت وايمه

په تېر جرأت دې برکت وايمه
خو په ظلمونو دې نفرت وايمه

مسبع (اوه پیز)

«مسبع» هم کله کله د مطلع یو جلا بیت لري او کله یې نه لري هر بند اوه نیم بیتي لري چې شپږ یې په یوه قافیه وي او اوم یې د مطلع په قافیه وي چې د هر بند په اخر کې بدلیږي. او کله کله اوه واړه نیم بیتي یوه قافیه وي او هر بند په همدې ترتیب وي.

او که مطلع و نه لري د هر بند په اخر کې یوه مسره جلا راوړل کیږي چې د ټولو قافیه یو ډول وي مسبع هم سر تر پایه یو ډول وزن او څپې لري. د محتوا له مخې کومه ځانګړې موضوع نه لري او هر ډول مطالب رانغاړي.

بېلګه یې دا ده:

صداقت او امانت کې مروت وي
په دروغو او خیانت کې رذالت وي
ورور پالنه تعقل او دیانت وي
ورور وژنه، سر تر پایه جهالت وي
چې ساتلی د انسان یې کرامت وي
په عمل کې یې اخلاص او دیانت وي
د هغه برخه الفت او لیاقت وي

مثمن (اته یيز)

د «مثمن» هر بند اته نیم بیتي لري چې اوه يې په يوه قافيه او اتم يې جلا قافيه لري دا هم کله يو بيت مطلع لري او کله يې نه لري د ټولو بندونو اتم نيم بيتي د مطلع په قافيه وي او که مطلع و نه لري بيا جلا قافيه لري چې د هر بند اخر کې هماغه قافيه راځي؛ او کله داسې هم وي چې اته واړه نيم بيتي يوه قافيه وي؛ سرتر پايه يو وزن او يو ډول څپې لري د محتوا له مخې ځانګړې موضوع نه لري او هر ډول مطالب پکښې رانغښتل کېږي.

بېلګه يې دا ده:

اى وطنه تا ضـــــــرور ابادوم
پټ په زړه کې ستا د مينې تب لرم

ته مې مور يې ته مې ژوند يې تا کې مرم
ټولې ژمنې ستا په ننګ باندې تېرم

ستا يادونه زه په زړه باندې ليکم
ستا دښمن به ستا له پولې نه شړم

ستا بچي به ستا سوکړک باندې پالم
خپې خاورې دې په سروزرو منم

متسع (نهه یېز)

د «متسع» هر بند نهه نیم بیتي لري چې اته یې یوه قافیه او نهم یې جلا قافیه لري کله د مطلع یو جلا بیت لري او کله یې نه لري او کله ټول نهه نیم بیتي یوه قافیه وي د هر بند اخري نیم بیتی د مطلع په قافیه راوړل کېږي او که مطلع و نه لري بیا جلا قافیه لري چې د هر بند اخري نیم بیتي کې په همدې ډول قافیه راځي؛ سر تر پایه ټول بندونه یو ډول وزن او څپې لري؛ د محتوا له مخې کومه ځانګړې موضوع نه لري او هر ډول مطالب رانغاړي.

بېلګه یې دا ده:

که څوک نه شي انسانونو ته قصاب
پرې اسان به شي د خوېدو حساب
ښه څرګند دي ټول کارونه د ثواب
هم ښکاره دي د عتاب او د عذاب
په هغه باندې اسانه وي جواب
چې و نه لري په زړه کې اضطراب
چې له بده کاره وکړي اجتناب
هم و حق ته هڅه کاندي د صواب
دا د عقل دی نچوړ لب او لباب

معشر (لسيز)

« د معشر » هر بند لس نيم بيتي لري، نهه يې په يوه قافيه وي لسم يې جلا قافيه لري چې د هر بند په اخر کې راوړل کېږي کله لس واړه نيم بيتي يوه قافيه وي او نور بندونه هم په همدې ترتيب وي، کله د مطلع يو جلا بيت لري او کله يې نه لري؛ سر تر پايه يو ډول وزن او څپې لري؛ د محتوا له مخې ځانګړې موضوع نه لري او هر ډول مطالب را نغاړي.

بېلګه يې دا ده:

راځئ چې وکړو په اخلاص د اخوت خبرې
د تېربدنې د انصاف او عدالت خبرې
جنګونه تېر شو وروروژنې او ظلمونه شو تېر
ورانۍ مو ډېرې وکړې هم وينې زخمونه شو تېر
د بد مرغۍ ټولې بېلګې او انجامونه شو تېر
تنظيم پرستې قافلې بېل مرامونه شو تېر
د بېګانه وو تملق احترامونو شو تېر
د خپل وطن دورانولو انعامونه شو تېر
د دې مظلوم ولس شلېدلي ګرېوانونه شو تېر

د نورو لمسـي اوامـر او الهـامـونه شـو تېـر
دا د وحـشت تورې تيـارې او مـاښـامـونـه شو تېر
دښـمنۍ هېـرې کـړئ کـوو د مـحـبت خـبـرې
د تېـرېدنې د انصـاف او عـدالت خـبـرې

رباعي (څلوريزه)

رباعي هغه شعر ته ويل کېږي چې دوه بيتونه ولري چې څلور مسرې کېږي په رباعي کې اکثر اوله دوهمه او څلورمه مسره يوه قافيه لري او دريمه مسره ازاده وي او کله کله څلور واړه مسرې يو ډول قافيه لري، د خيال تسلسل يې يو وي او په څلورمې مسرې کې زيات ټينګار وي.

بېلګه يې دا ده:

چې نظر مـې انديښنو کـې را ولاړ شي
له سـوچونو په غـمـونو کـې لتـاړ شي
دې دنيـا سـره زه داسـې نابلديم
لکه ليـرې کليـوال چې ښـار ته لاړ شي

قطعه (پاړکی)

«قطعه» هغه شعر ته ویل کېږي چې د اول بیت د دواړو مسرو قافیه سره یو شان نه وي او د شعر د ټولو بیتونو وزن، څېپې او د دوهمو مسرو قافیې سره یو ډول وي؛ لږ ترلږه دوه بیته وي او زیاته هم راتلای شي. بېلګه یې دا ده:

نشتـــه څــه په کــور د پښـــتنو د تکلف په نوم
بـس یوه ډالی له مـــــینې ډکـــــه ولوله لري
رنګ یې د اخـلاص په هر کلي کـې خـپـره ټنډه ده
وس کـې یو سـو کـړک او د ترخـو چایو پیـالـه لري

یا دا:

نصر د شیخ «حمید» لودي[۱] زوی چې کله د ملتـــان پاچا شـــو نو د اسماعیلي فرقې په ګروهه[۲] شـو او ملحـد شـو د هغـه د تره زوی د شـیخ «حمید» وراره شیخ «رضي» ورته دا پاړکی ولیکه او ور ویې لېږه:

۱- شیخ حمید لودي د «الپتګین» او «سبکتګین» په وخت کې له: «۳۵۱» هجري ق نه تر «۳۹۰» هجري ق پورې د ملتان پاچا ؤ.
۲- ګروهه: عقیده.

د الحـــــاد پـه لـور دې تـر پـلـل(۱)
گـــــروه دې زمـــونږ وكـــوراوه(۲)
مـــــورږ رونـلـی پـه زيـارنـه(۳)
تـــا پـــه تـــورو تـــوراوه
لرغـــون ولې گـــروهـبـدلې
چې دې گـــــوښـی اړاوه ء
هغـــه گـــروه دې اوس آړه کـــړ(٤)
چې پـلـــرو دې رنـــاوه
لودې ســتـا پـه نامـه سپک شـو
کــــه هر څـــو مـــو درناوه
نصـــره نـه مـويې لـه کـهـالـه(٥)
لـودې نـه يې پـه کـــــاوه(٦)
زمـــورږ رغـــاده ســـتـا د گـروهـه(۷)
د ورځـلـوی پـه رغـــــــاوه(۸)

۱- ترپلل: لاړې، توپ دې کړ، وتښتېدې.
۲- گروه: عقېده. وکوراوه: باطل کړ.
۳- رونلی: رون کړی پاک کړی.
٤- آړه کړ: وادېړاوه.
٥- کهاله: کورنۍ.
٦- کاوه: کړنه، کولو.
۷- رغا: بې زاري.
۸- ورځلوی: ورځ لوی، لويه ورځ، قيامت. رغاوه: بې زاری.

کله چې شیخ نصر ته د «رضي» دا پاړکی ورسېد هغه ورته ځوابي پاړکي کښېَ داسې وکښل:

د إلحـــاد په تور تورن ســوم
زه لرغــون خــو ملحــد نه يم
زمــا د ښنه هسـې توراکـړي(۱)
کــه ملحـــد يم د د ښنه يم
له اســلامــه نه ترپلمــه
تورانو څـــخـــه په ترپله يم
گـروه مـې هغـه لرغـونی دی(۲)
اوس هم کـروړ په لرغـونه يم(۳)
د إســلام پر هسک بـه ځلم
وتـورانــو تـه تـيـــاره يم
د لــودي زوی سـنـتــي يـم
د حـمـيـد له لوړ کـهـاله يم
تـورانی د ښــمــن چې وايـي
زه لـه گـــــروهـه پـه آړه يم
دايې تور تاســې دروهوي(٤)
زه مـؤمن ســتـاسـې په تله يم

۱-دښنه: دښمنان. تورا: تور، تهمت، إفتراء.
۲-لرغونی: پخوانی.
۳-کروړ: سخت، محکم.
٤-دروهوي: (له دروهل نه دی) غولول.

د ښنو ويناوې مــغــبره(۱)
زه لودي يمـــه څـــو زه يم(۲)

بولله (قصيده)

«قصيده» چې پښتو کې ورته بولله ويل کېږي هغه پرله پسې شعر دی چې د موضوع تسلسل پکې رعايت شوی وي، لږ ترلږه شپاړس بيتونه لري او زيات يې پوله نه لري خو تر يوسل او پنځوسو پورې ويل شوي دي؛ قصيده مطلع او مقطع لري، د مطلع د دواړو مسرو قافيه يې يو شان وي او د نورو ټولو بيتونو د دوهمې مسرې قافيه د مطلع په څېر وي.

ښېلګه يې دا ده:

غوري ښکارندوی بن احمد د پسرلي په هکله دا قصيده ويلې ده: (۳)

د پسرلي ښکلونکي بيا کړه سينګارونه(٤)
بيـــايې ولونل په غـرونو کـښې لالونه(٥)

۱- مغبره: مه اوره. نغوږل: اورېدل. مه نغوږه: مه اوره.
۲- پټه خزانه: ۷۰- ۷٤.
۳- پټه خزانه: ۵۰.
٤- ښکلونکي: ښکلوونکي، ښايسته کوونکي.
۵- ولونل: وشيندل، خپاره کړل، وکرل.

مځکه شنه لاښونه شنې لمنې شنې سوې(۱)
طیلسان زمردي واغوسته غرونه
د نیسان مشاطي لاس د مچېدو دی(۲)
مرغلرو باندی وښکلل بڼونه(۳)
د غتو لوجنډی خاندي وریدي ته(٤)
زرغونو بڼو کې ناځي زلمي جونه
لکه ناوې چې سور ټیک په تندي وکا
هسې و ګانل غتمولو سره پسولونه(۵)
مرغلرې چې اور ووخونو لیه(٦)
په ځلا یې سوه رانه خپاره دښتونه
زرغونو مځکو کې ځل کا لکه ستوریه
چې پر هسک باندې ځلېږي سپین ګلونه
سپینې واورې ویلېده کاندې بهېږي
لکه اوښې د مین په ګرېوانونه

۱- لاښونه: کمرونه (واړه غرونه) مفرد یې لاښ دی.
۲- نیسان: د پسرلي میاشت ته ویل کېږي. چې د اپریل او حمل سره سمون خوري. مشاطي: له مشط نه دی چې عربي کی ګومنځ ته ویل کېږي لکه ګومنځ چې ویښتان ښکلي او منظم کوی د نیسان میاشت مځکه ښکلې کوي. مچېدو: ښکلولو.
۳- وښکلل: ښکلې کړل.
٤- غتمول اوریدی د ګلونو ډولونه دي. جنډی: ګل.
۵- وګانل: ښکلې کړل، ګانه یې ورواغوسته، و پسولل. پسولونه: ګانې مفرد یې «پسول» دی.
٦- وخونولیه: وخونولې و شیندلې.

هر پلورنې ولې بهـــاندې خــــاندي (۱)
له خــوښيــه ســـر وهي لـه ســينګړونه (۲)
هــر پــلــو د ګــلــو ورږم دی لــونـلــی (۳)
ته وارا غـله له خـــتنه کـــاروانونه (٤)
د مــسـیح په پوبه مړو ژوندون بیا مـوند (٥)
پسـرلی مګر مــسيح ســو په پوکړونه (٦)
له مــړو خـاورو يې آغلی ګل را ويوست (۷)
وچ ښـبـديا او غـــريې کـــړ له جنتـــونه
سړی جاجي چې را مشت کړ را مشتګرو (۸)
ګـهـيـځ چونې چې په بڼ وکــاږغـونه (۹)
په بر بڼ چې ږغ د چونيــو نغـورېده سي (۱۰)
ته واچندي ســره پـېـودي اشلوکـونه (۱۱)

دا اوږده قصيده ده چې مونږ په همدې بسنه کوو.

۱- بهاندي: بهېدونکې.
۲- له خوښيه: له خوښۍ. سينګړونه: د کاږ او ډبرو مځکه.
۳- لونلی: شيندلی، خپور شوی.
٤- ته وا: ته به وايې. ختن: چين کې يو ځای دی چې په ښکلا شهرت لري.
٥- پو: دم. ٦- پوکړونه: پوکولو، دمونو.
۷- آغلی: ښکلی. راويوست: را وويست.
۸- جاجي: (خج په اول جيم) فکر کوي «جاجل» فکر کول. را مشت: ساز او سرود.
۹- ګهيځ: سبا. چونې: بلبلې يا عام مرغان.
۱۰- برېڼ: لوی باغ، بڼ باغ او برېڼ په پخوانی پښتو کې لوی باغ ته ويل کېږي. نغورېده: اورېده.
۱۱- چندي: شاعران. پېو: اوبدل شوي. اشلوکونه: شعرونه.

مستزاد

دا هغه شعر دی چې اول بیت یې اوږد او دوهم یې لنډ وي او د دواړو قافیه یو شان وي؛ د اوږدو بیتونو څپې او وزن سره یو وي او د لنډو بیتونو څپې او وزن سره یو وي کله دوهم، کله دریم او کله هم له دې زیاتو بیتونو نه وروسته د سر قافیه را غبرګېږي، دوهم لنډ نیم بېتی د اول اوږده نیم بیتي خوند او رنګ ور زیاتوي مستزاد کومه ځانګړې موضوع نه لري او هر مطلب پکې نغښتل کېدای شي.

بېلګه یې دا ده:

نه دین او نه غیرت لرې ملګری د دولت یې
اخته په لوی ذلت یې
رښتیا خبره نه کړې په دروا غو چې عادت یې
اخته په لوی ذلت یې
د خیر کارونه نه کوې دښمن د مسلمان یې
ملګری د شیطان یې
روا دې په کار نه دي همېش غواړې نا رواته
اخر به شې رسوا ته
هېر کړی دې قیامت دی بې ضمیره بې همت یې
اخته په لوی ذلت یې

آزاد نظم

آزاد نظم د غربي نړۍ اختراع او ابتکار دی چې شرقي نړۍ ته یې هم سرایت کړی دی او اوس دلته هم رواج شوی دی، پښتنو شاعرانو هم اوس د دې تقلید پیل کړی دی، تر دې چې ځینې شاعران که یواځې نه وي نو اکثره شعرونه یې له همدې ډوله وي. ازاد نظم یې ځکه بولي چې د قافیې، ردیف، د مسرو تر منځ د سېلابونو تناسب او نورو شعري ضوابطو او قیودو څخه ازاد وي او یواځې یو ډول آهنګ لري او څپې یې د شاعر په خوښه وي.

ازاد نظم د شاعر یو اهنګ لرونکی نثر دی چې د خیال او سوچ د طوفاني څپو د جوش نه په نابېره توګه په داسې ازادۍ سره راوځي چې د شعر په مشهورو قالبونو کې د جوړښت هېڅ اند ته پکې اړتیا نه پېښېږي؛ له همدې امله یې ځینی مسرې لنډې او ځینې اوږدې وي.

ازاد نظم یواځې د تخیل او پیغام نوم دی چې شاعر یې د سوچ او اغیزې له څپو څخه د ژبې او قلم څوکې ته لېږي.

بېلګه یې دا ده:

يوه هسکه څپه راغله
وه له وينو څخه جوړه
په سرونو وه پسوللې
په ننګونو
په زګېرويو
په غيرت اؤ په ښندنو
راروانه په غورځنګ وه
امېدونه ورسره وو
يو پيغام ؤ پکې نغښتی
يو انعام ؤ پکې نغښتی
په هوډونو وه پسوللې
په دردونو
تيندکونو
هجرتونو کړاوونو
ډکه پکه وه له ژمنو
ورته ټينګ نه شو
په مخکې
فولادي غوندې بندونه
دغرور لوړې مانۍ

د هوس دنگ منارونه
ټول نسکور شول
رنگ پر مځکه
یوه هسکه څپه راغله
ود له وینو جوړه شوې
په سرونو وه پسوللې
را روانه په غورځنگ وه
د هر څاڅکي د اعلان ؤ
چې په امر د قرآن
او په مینه د ښتن
زمونږ یون دی
پر مخ درومو
نه تمېږو
نه اودرېږو
نه وچېږو
پولې پېژنو لرو یې
او تم ځای مو هم لیدلی
نتیجه مو پېژندلې
له تور تم څخه تېرېږو

هلته لنډه لږه وړاندې مو موخه ده
د سبا روښانه څرک دی
لکه لمر دی
لا روښانه
هلته پولې دي د عدل
مونږ په منځ کې يې
تمېږو
وړاندې نه ځو
او اودرېږو
بيا وچېږو
هلته ښه سمسور يو بڼ دی
چې په مونږه زرغونېږي .

معریٰ (لغړ) نظم

«معریٰ» په لغت کې لغړا و بربنډ ته ویل کېږي او په اصطلاح کې د ازاد نظم په څېر د قافیې او ردیف څخه لغړ وي؛ د ازاد نظم سره دا توپیر لري چې مسرې یې سره هم وزنې او په څپو کې سره برابرې وي. کله کله یې په تصادفي توګه دوه مسرې په قافیه کی سره برابرې راشي. دا هم د ازاد نظم په څېر د غربیانو له پلوه راغلی دی.

بېلګه یې دا ده:

دا د لفظونو شاعر
دا له معنا څخه پاک
دا د هوس ګوډاګی
د تزویرونو مجنون
دا د درواغو مین
په نالیدلي لیلا
په فرضي زلفو پسې
دا جعلي لوغړن

دا د آهونو منځ کې
د فریادونو پنځ کې
او د زخمو د پاسه
او دا په وینو لتاړ(۱)
له تن جدا سرونه
او دا سپېره مخونه
له اوښکو ډکې سترګې
هیڅ ورته نه ښکاریږي!؟

دوهم: ملي شعرونه

هر قوم، ولس او ژبه ځینې ځانګړي مشخصات او جلا ځانګړتیاوې لري؛ پښتو ژبه د شعر په مېدان کې ځینې داسې شعرونه لري چې هغه د دې ژبې مشخصاتو او ځانګړتیاوو کې راځي چې نورې ژبې یې نه لري او دا شریک ولسي او ملي شعرونه دي.

ډولونه یې دا دي:

۱- لنډۍ.

۲- چار بیته یا بدله.

۱- لتاړ: ککړ.

۳- لوبه او بگتۍ.

٤- ناري.

٥- نیمکۍ، سروکۍ او ټیکۍ.

لنډۍ

«لنډۍ» د پښتو هغه ځانگړی (۲۲) څپیز ملي شعر دی چې لومړی نیم بیتی یې (۹) او دوهم یې (۱۳) څپې وي او د غبرراښکلو او اوږدولو لپاره یې په اخر کې «مه» یا «نه» راوړل کېږي لنډۍ کومه ځانگړې موضوع نه لري او هر مطلب پکې بیانېږي. هره لنډۍ ځانگړې موضوع وي.

لنډۍ یې هم له همدې امله بولي چې په یو بیت او لنډو الفاظو کې لوی مطلب نغښتی وي؛ زیاتې د تورې، مړانې، مینې، جانان بېلتون، دیدن او موزیگي په هکله ویل شوې وي.

د لنډیو ویونکی معلوم نه وي او زیاتې د ښځو له خوا ویل شوې دي.

لنډۍ نور نومونه هم لري لکه: ټیکی، ټپه، مسره.

د ټپې د تسمیې د لامل په هکله مختلفې رایې او توجیه گانې وړاندې کېږي خو زما په اند ټپه ځکه ټپه بلل کېږي. چې ټپ په پښتو کې زخم ته ویل کېږي او د ټپې اغیزه دومره زیاته وي چې یا زړه ټپي کوي او یا د ټپي زړه نه را وځي.

ښېلگې يې دا دي:

جانان مې سر پر وطن کښېښود
په تار د زلفو به کفن ورته گنډمه

***

که په ميوند کې شهيد نه شوې
خدايگو لاليه بې ننگۍ ته دې ساتينه

***

موزيگی بيا په خندا راغی
په لمنگۍ کې چا توتان ورکړي دينه

***

د موزيگي شکېدليه کته
چې زه دې لنگه تېنگوم بازو دې ځينه

***

تېوتېې تېوتې په تورو راشې
د بې ننگۍ اواز دې را مه شه مينه

***

تورې وهه برى به مومې
که برى نه وي ځوانان تل په تورو مرينه

***

تور په رنجک سور شي په وينو
سالم په تن بې ننګه را مه شي مينه

***

ټوټې ټوټې په تورو راشي
چې پرهار ونه دې ګندم خوله درکومه

***

جانانه ښه شو چې زخمي شوې
زه به دا خپله غاړه هسکه ګرځومه

***

جانان مې جنګ کې توره وکړه
ځکه همزولې راته کوښې سموينه(۱)

***

بوغ شو پر کټ جانان يې راوړ
زړه مې په پرشو چې په شانه وي زخمونه(۲)

***

موري لنډۍ توره مې راکړه
پردين غزا ده زه خپل ځان شهيدومه

---

۱ - کوښې: پنې، پېزار.
۲ - پر: توپ.

***

کـــه زه مـيـــ وم ځـــان بـه جـــار کـــړم
پښـتـون پښـــور د بې ننګۍ نه قبلوينه

***

د تـوريـالــيــــو خـــونــدې ژاړي
د سپـومـوزيو خـونـدې سترګـې تورو ينه

***

زلـمـی ولاړ تـوره تـر مـــــــــلا دی
غــزاله ځي په خـپل وطن ســر ورکــوينه

***

سـګر د ځـــان په وينو ســـور کــــه
چې شـا وخـوا پر تاغـا تول زرغـونه شـينه

***

هـلـک بـه ولـې تـوره نـه کـــــــړي
تر نيـمـايي سنګره زه ورسـره ځـمـه

***

ســـر مــــې لـه تن ځنې جـــلا کـې
کـــه مـــې پګړۍ د بې ننګۍ ترلې وينه

***

په دنیا مه نازېږئ خلکو

دنیا فاني ده په ارمان به ځنې ځونه

***

د سر دښمن مې هوښیار ښه دی

زه د بې عقله په دوستۍ پښېمانه یمه

توري به نه کړو نو به څه کړو

چې مو شبدې د پښتنې رودلې دینه

***

راشه پر قبر مې اوربل کړه

که مې په مړینې په شا وویني تېرونه

***

په تور ټوپک ویشتلې راشې

د بې ننګۍ اوازدې را مه شه مینه

***

ترپ له میدانه په کار نه دی

په بدنامۍ کې سپي موزیان په تبه مرینه

په پښتو ملي او ولسي شعرونو کې د لنډيو شمېر ډېر زيات دی او د راټولولو کار يې تر اوسه لا نيمګړی پاتې دی.

د پښتو ټولنې له خوا د لنډيو يوه ټولګه په ۱۳۳٤ هـ.ل کې چاپ شوې ده؛ «سلمیٰ شاهين» د «روهي سندرې» په نامه د پښتو لنډيو يوه ټولګه په دوه ټوکو کې راټوله کړې ده چې پښتو اکاډمي چاپ کړې ده او ځينو نورو هم څه ناڅه پښتو لنډۍ را ټولې کړي دي خو تر اوسه هيڅوک په دې نه دي موفق شوي چې د پښتو ټولې او يا اکثره لنډۍ را ټولې کړي؛ دا ځکه چې د پښتنو په دې پلن ټاټوبي کې ګڼې پرګنۍ قبيلې او ولسونه ميشته دي؛ د هر سړي، ښځې، زلمي، پېغلې، بوډا او بوډۍ په حافظې کې داسې لنډۍ شته چې له نورو سره نشته؛ له همدې لامل له مخې پښتانه که ټول نه وي نو اکثر يې شاعران دي.

نو ځکه لنډۍ د ټولو پښتنو شريکه ملي پانګه ګڼل کېږي.

بدله یا چار بیته

«بدله» د پښتو د شعر د هر لرغوني ډول دی چې وروستنیو په «چار بیته» نومولی دی، چاربیته د محتوا له مخې یوه موضوع په پرله پسې توګه څېړي او د جوړښت له مخې یوه مطلع لري چې کله یو بیت کله درې مسرې او کله دوه بیتونه وي او وروسته بندونه راځي د سربند ته کسر او پېرو هم ویل کېږي لږ تر لږه څلور مسرې وي او زیاتې یې هم راتلای شي؛ زیات یې اته مسرې وي چې څلور بیتونه کېږي او چار بیته هم له همدې امله ورته ویل کېږي. د چار بېتې د هر بند په پای کې د سر بیت ته رجوع کېږي او په ډېرې چستۍ او چالاکۍ ورته راګرځي په ځانګړي انداز کې لوستل کېږي چې د اوږدو پورې اړه لري ځینې چار بیتې د مستزاد په شکل یو اوږد او یو لنډ نیم. بیتی لري، بیا د هر بند پسې د سر د کسر په ډول قافیه غبرګېږي او د سر پېرو ورسره ویل کېږي کله د پېرو او بندونو طاق نیم بیتي سره یو قافیه وي او جوخت نیم بیتي سره یوه قافیه وي، کله د پېرو دواړه نیم بېتي خپلو کې یوه قافیه نه وي خو د هر بند نه وروسته یو بیت د کسر په څېر اول نیم بیتي سره اول، او دوهم نیم بیتي سره

دوهم یوه قافیه لري.

کله د پېرو دوه نیم بیتي په یوه قافیه او دوه په بله قافیه وي او نور بندونه دري دري مسرې په یوه قافیه او ځلورمه د پېرو مسره ورسره غبرگیږي.

بېلگې يې دا دي:

(۱)

په سور غر بل راته نن اور دئ
وگړیه جوړ راته پېغور دئ
پر کلي کور باندی مغل راغی
هم په غزني هم په کابل راغی

***

غښتلیو ننگ کړئ د امو وار دئ
مغل راغلی په تلوار دئ
په پښتونخوا کې يې ناتار دئ
پر کلي کور باندي مغل راغی

***

آدم غي غښتلیو راسئ
پر ننگ ولاړ د پښتونخواسئ
توري تېرې غشي تر ملاسئ
پر کلي کور باندې مغل راغی

***

زلمو په غشو کړې وارونه

د تبرو تورو ګوزارونه

ور وړاندې کړې خپل ټټرونه

پر کلي کور باندې مغل راغي(۱)

یادا:

(۲)

اوښکې مې څاڅې پر ګریوان یو وار نظر که پرما

راسه ګذر که پرما

***

د مینې اور دې زما زړګی وریت په انګار کینا

ښې تارو نار کینا(۲)

خود به ویلېږم چې مې زړه پر تا مفتون کینا

ځان مې زبون کینا

اوښکې مې څاڅې پر ګریوان یو وار نظر که پر ما

راسه ګذر که پر ما

***

۱- پټه خزانه: ۱۰.

۳- تارونار: نرۍ وچ.

وکه نظر زما پر حال چې پروت رنځور یمه تل
په ویر ناسوریمه تل
له زړه مې څاڅي وینې سور په وینو خپل یمه تل
په اور جلبل یمه تل
اوښکې مې څاڅي پرګریوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پر ما (۱)

یادا:

(۳)

ببلتون دې زور دئ تر لېمو مې سهار نم څاڅي
لکه شبنم څاڅي
دا سره یاقوت مې په لمن کې ستا په غم څاڅي
په غم الم څاڅي
ګوره لیلی باران د اوښو ستا په چم څاڅي (۲)
څنګه پر چم څاڅي (۳)

***

۱- پټه خزانه: ٦٦.
۲- چم: (په زوره کې) کلی کوڅه.
۳- چم: طرز، چل، ترتیب.

راغله لیلیٰ په شینکي خال نڅا په ګلوکوي
په سـرو منګولو کوي
سهار چې وځي سیل کا، رنګ په بلبلو کوي
ګل په اوربلو کوي
ملالې سترګې یې کاته په ویر ژلو کوي
زېب په کجلو کوي
د ژوبل زړه وینې په هر ګړۍ هر دم څاڅي
لکه شبنم څاڅي

یا دا:

(٤)

کم بخته مکړه پر دنیا ډونګونه
که دې زړه غواړي د جنت ګلونه

***

کم بخته موږ یو میلمانه پر دنیا
وطن مو بل دی اخر ځو په رشتیا
هم په ښه بدسي را معلوم په عقبا
نو له سره اور کې په امان ځانونه

***

کم بخته مه کوه حرام چې بد دي
چې کړي حرام هغه باطن کې د ددي
اعمال يې تول په عقبا کې رد دي
په لويه ورځ به يې وي تور مخونه(۱)

لوبه او بگتۍ

لوبه او بگتۍ د ملي او ولسي شعر يو ډول دی ځينې شاعران د لوبې او بگتۍ تر منځ توپير کوي او ځينې يې نه کوي زما په رايه دواړه يو شی دي او دا هم ويلای شو چې دا دواړه د چار بيتې يو ډول دی.

لوبه د مستزاد په ډول د مطلع يو اوږد او بل لنډ نيم بيتی لري وروسته هر بند دوه يا درې او يا څلور نيم بيتي په يوه قافيه، وزن او بحر وي ورپسې بيا د مطلع په قافيه د مستزاد په ډول يو بيت راځي او مطلع ورسره غبرگيږي.

بېلگه يې دا ده:

د بې شرمۍ کوې کارونه ناروا پښتونه
شې به رسوا پښتونه
گټلی نوم د رنه بدنام شو
ستا چې غليم ته احترام شو

۱- پټه خزانه: ۱۵۸.

ماضي دې هېره فکر خام شو
په کومه خوله یا دوې توره د بابا پښتونه
شې به رسوا پښتونه

د اروپا په لاره لاړې
د انګرېزانو سره ژاړې
د روس او چین په مینه ویاړې
دا ستا د لاسه پښتانه شو د خندا پښتونه
شې به رسوا پښتزنه

وروړ او تربور سره په جنګ یې
په نه خبره په غورځنګ یې
وږی او تږی یې ملنګ یې
ته لاندې کېږې خلکو څېرې کړه فضا پښتونه
شې به رسوا پښتونه

غاړې یا ناره

غاړې یا نارې د پښتو شعر یو ځانګړی ډول دی او دا هغه غږونه او غږانګې دي چې د منثورو کیسو په منځ کې په اوچت اواز ویل کېږي او د ځینو قبیلو ځانګړې غاړې هم وي لکه د کاکړو غاړې، د بنوڅیو غاړې، د تیراوالو غاړې...

بېلګې یې دا دي:

(۱)

که یون دئ یون دئ، مخکې ببلتون(۱)
له کسي غره څخه، ځي خربنبون دئ(۲)
که وروره وروره، خربنبون وروره
ته چې ببلتون کړې، زما ویر ته ګوره

۱- یون: ژباړه یې مخکې تېره شوه.

۲- کسي: د سلیمان غره ته د «کسي» غر ویل کېږي. خربنبون: د کسي غره د پښتنو د پلار عبدالرشید لمسی او د سړبن زوی ؤ.

چې ځې مرغي له، تورې کرغې له(۱)
همزولي پاته، ځې څه برغې له(۲)
د خدای د پاره، خر ښبون ياره
چې هبر مونه کړې، زمونږ کهول واړه
زړه مې رپېږي، يار مې ببلېږي
ببلتون يې اور دی، ځان په سوځېږي(۳)

(۲)

ته د سفر په لوري لاړې
د زړو ګلو باغ دې چاته وسپارنه
ځواب: زه د سفر په لوري لاړم
د زړو ګلو باغ مې خدای ته وسپارنه

۱- مرغه: د کندهار په ختيځ سهيل کې د ارغستان نه د کسي غره پورې ځای دی. کرغه: اوچه بې وښو ځمکه.

۲- برغه: بې ګټې، خوشې، بې کاره.

۳- پټه خزانه: ۱۸.

نیمکۍ، سروکۍ او ټیکۍ

«نیمکۍ» د پښتو د ولسي شعر یو ډول دی چې مطلع یې یو مستزاد بیت لري چې «سروکۍ» یې بولي وروسته د هرو دوه وو بیتو منځ کې یوه لنډۍ ور اچول کېږي چې «ټیکۍ» یې بولي؛ ترتیب یې په دې ډول دی چې د سروکۍ نه وروسته د ټیکۍ یا ټپې اوله نهه څپیزه مسره ویل کېږي وروسته د سروکۍ دوهمه نیمکۍ مسره غبرګېږي؛ بیا د ټیکۍ دوهمه دیارلس څپیزه مسره ویل کېږي بیا د سروکۍ دوهمه نیمکۍ مسره ورسره غبرګېږي بیا سروکۍ پوره ویل کېږي او په همدې ترتیب تر اخره ویل کېږي. بېلګه یې دا ده:

پګړۍ په سر که شمله نېغه زما یاره
د مینې طلبګاره
هلک به ولې توره نه که
د مینې طلبګاره
تر نیمایي سنګره زه ورسره ځمه
د مینې طلبګاره
پګړۍ په سر که شمله نېغه زما یاره
د مینې طلبګاره

کیسه، حکایت او داستان

د تېرې زمانې د تاریخي پېښو او اشخاصو یادونه او د واقعیتونو یا د خیالي او فرضي کردارونو بیانول کیسه، حکایت او داستان بلل کېږي.

چې پښتو کې په شعر کې د بېرې ویل شوې دي لکه:

د مجنون او لیلا، یوسف او زلیخا، آدم خان او درخانۍ او داسې نورې چې عصام، فیاض، ملا نعمت الله، برهان او نورو لیکلي دي.

مونږ دلته د بېلګې په توګه یوه کیسه کاږو چې زرغونې[1] ویلې ده:

اورېدلې مې قصه ده
چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار
بایزید چې ؤ رویدار
له حمامه راوتلئ
په کوڅه کې تېرېدلئ
ایرې خاورې چاله بامه

---

۱ - زرغونه یوه عالمه، لیکواله او شاعره ښځه وه د ملا دین محمد کاکړ لور وه او د سعد الله خان نورزي ښځه وه د سعدي بوستان یې بشپړ پښتو ته ژباړلی ؤ او نور اثار یې هم پرې ایښي دي، ښکلی خط یې درلود. پټه خزانه: ۱۹۲ - ۱۹۴.

را چې په کړلي ناپامه
مخ او سر یې سو ککړ
په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښېنوسو
د خپل مخ په پاکېدو سو
چې زه وړ یم د بل اور
چې په اور کې سم نسکور
له ایرو به څه بد وړمه
یا به لږ شکوه کومه
هو پوهانو ځان ایرې کړ
له لوینې یې ځان پرې کړ
څوک چې ځان ته ګوري تل
خدای ته نسي کړای کتل
لویي تل په ګفتار نه ده
لو خبره په کار نه ده
تواضع به دې سر لوړ کا
تکبر به دې تل ځوړ کا

نامه

«نامه» هغه د نثر یاد شعر کتاب ته ویل کېږي چې کومه ځانګړې موضوع پکښې ځېړل شوې وي شعري نامه کوم ځانګړی جوړښت نه لري خو اکثره د مثنوي په هیئت ویل شوې دي.

نامه د یو کتاب شکل وي چې سر تر پایه یې بنسټیزه او محوري موضوع یوه وي او نور عناوین د همدغه محور تر شاوخوا څرخېږي په نثر او شعر دواړو کې لیکل شوې دي خو زیاته برخه یې په شعر کښې ده تر ټولو زیاته مشهوره د فردوسي شاهنامه ده چې په فارسي کې لیکل شوې ده او شپیته زره بیتونه لري.

په پښتو کې هم زیاتې نامې لیکل شوې دي لکه:

جنګ نامه، نور نامه، سکندرنامه، ظفر نامه، نادر نامه، بادشاه نامه، شمائل نامه، خوابنامه، د حافظ شاهنامه او تر ټولو زیاتې نامې خوشحال ختک لیکلي دي چې په لاندې ډول دي:

طب نامه، سواتنامه، خط نامه، فالنامه، باز نامه، ساعتنامه، فضلنامه، فراقنامه، اخلاقنامه، او دستار نامه.

بېلګې يې دا دي:

حافظ د احمد شاه ابدالي په هکله نامه ليکلې چې نوم يې «شاهنامه احمد شاه ابدالي» دی؛ هغه د حمد، نعت او د خلفا وو د مناقبو نه وروسته په ديباچه کې وايي:

ته زما په شعر کړه ګوش
چې بلند شه په دا هوش

بيا څو بيته وروسته وايي:

احمد شاه مې حال بيان که
دا چې سير يې د جهان که

بهادر دی شير افګن
تېغ يې تېر شو تر دکن

نه يې رستم ليدلی جنګ ؤ
مشهور چې په دا رنګ ؤ

نه خبر اسفنديار ؤ
د بادشاه چې کارزار ؤ

چې دا جنګ ؤ ځای په ځای
د بهادر پولاد خای

ما بيان که په تفصيل

په خپل ځای په قال و قیل

دی سکندر کشور کشای دی
و جهان ته راهنمای دی

شو مولدې خراسان
په مزاج ؤ عالی شان

په طالع د خسروان ؤ
د سر تاج یې په کبوان ؤ

د تخت ځای یې قندهار شو
تمام ملک پرې لاله زار شو

خوشحال خان ختک د طبنامې پېل داسې کوي:

په دارو کې چې بنه نیت وي
دارو نه وي عبادت وي

عبادت په روغ صورت شي
گنې کله عبادت شي

ما د طب په کتابونو
نظر کړی په بابونو

چې هر رنځ لره فایده ده
هلیله ده هلیله ده

که درست عمر یې څوک خورینه
هیڅ علت په نه ورځینه

هلیله شفا د تن ده
هم د مرد ده هم د زن ده

په ترتیب یې خوره هوشیاره
مصالح و رسره یاره

دیوان

«دیوان» معربه (عربي کې مستعمله فارسي) کلمه ده جمعه یې «دواوین» او «دیاوین» ده.

په لغت کې راټولو شوو کاغذي پاڼو، هغه کتاب چې د لښکر نوم‌ونه پکښې لیکلي وي او د یوه هیواد د ټولو اک او پاچا دفتر ته ویل کېږي. د تسمیې وجه یې دا ده چې د ایران یوه پاچا کاتبانو ته وویل چې:

د خلکو حساب ورته په درې ورځو کې ورکړي، یوه ځانګړي ځای کې یې کښېنول او هغوي په خپل کار پیل وکړ څه وخت وروسته پاچا ورښکاره شو کاتبان د ډېرې بیړې له امله داسې زر زر او چالاک خوځېدل لکه لیونیان نو پاچا چې کله هغوي ولیدل ویې ویلې «ای دیوانه» (دا لیوني) نو د هغو کتابونو او هغه ځای نوم «دیوانه» شو عربي کې ترې «دیوان» جوړ شو اوس په عربي، پښتو، فارسي او اردو کې د دیوان کلمه مستعمله ده.

په اصطلاح کې د یو شاعر د شعرونو هغه ټولګې ته ویل کېږي چې له «الف» څخه تر «ي» پورې د ټولو قافیو شعرونه پکښې د هجا تورو په ترتیب را ټول شوي وي لکه د عبدالرحمن بابا دیوان، د عبدالحمید دیوان...

کليات

کل په لغت کې ټول يا د ډېرو اجزاوو او افرادو مجموعې ته ويل کېږي. «ی» د نسبت او «ة» د تأنيث ده.

او په ادبي اصطلاح کې «کليات» د يوه ليکوال، أديب او شاعر د ټولو نثري يا شعري ليکنو مجموعې ته ويل کېږي؛ له همدې امله کليات د يوه ليکوال، اديب او شاعر له مرګ نه وروسته را ټولېږي چې د هغه د ژوند ټول نثري يا شعري ليکنې پکښې ځای شي.

پښتو کې په کلياتو زيات کار نه دی شوی په دې وروستيو کې پرې پيل شوی دی چې لا نيمګړی دی.

لکه د خوشحال کليات، د حمزه کليات، د الفت کليات، د غني کليات او داسې نور.

هایکو

«هایکو» د جاپاني شعر یو ډول دی چې د جاپان په شاعرانو کې مشهور او په زړه پورې دی.

پښتو کې لا رواج نه دی خو ځینو شاعرانو د ازمېښت په توګه پرې پېل کړی دی. د جوړښت له مخې هایکو دری مسرې لري. چې بېلګه یې دا ده:

ښاغلی نایاب وایي:

د شـعـر په فن باندې به نه پوهـېږي
هرې مـسـرې سره به سر خـوځـوي
وایي به لویه فلسـفـه ده پکې

ځینې اوله او دریمه مسره لنډه او پنځه څپې او دویمه اوږده اوه څپې بولي خو ځینې یې داسې نه بولي او د څپو ځانګړی جوړښت ورته نه ټاکي.

د شاعر ډولونه

شاعر د شعر ویلو له مخې په پنځه ډوله دی:

۱- **«مُفلِق» یا «خِندِیذ»**: هغه شاعر ته ویل کېږي چې په شعر کې ډېر داسې بدیع صنایع، ابتکارات او عجائب منځ ته راوړي چې ډېر په زړه پورې وي، انسان ورته تعجب کوي او حیرانېږي.

۲- **«شاعر»**: هغه شاعر ته ویل کېږي چې د شعري قواعدو او ضوابطو موافق ښه شعرونه وایي او د مفلق درجې ته لا نه وي رسېدلی.

۳- **«شویعر»**: هغه شاعر ګوتي ته ویل کېږي چې په شعر کې یې څه محاسن نه وي خو شاعر بلل کېږي او څه ناڅه شعري استعداد لري.

٤- **«شعرور»**: هغه بې کاره شاعر و تي ته ویل کېږي چې ډېر بې خونده شعرونه وایي او په اورېدلو یې انسان تنګېږي.

۵- **«متشاعر»**: هغه کم عقل شاعر نماوي چې په تکلف سره څه را جوړوي او د شعر بوي پکې نه وي خو ګمان کوي چې شاعر یم.

پای

د الله تعالی شکر دی چې د دې کتاب د کښلووس يې راکړ او د هغه جل جلاله نه غواړم چې د پښتو ادب سره اړيکو لرونکو ښاغلو ته مې څه گټه رسولې وي او د دې ميدان په څغاسته کې نه يوازې دا چې پاتې نه يم راغلی بلکه تر ډېرو د مخه شوی هم يم.

د کتاب مأخذونه په خپلو خپلو ځايونو کې ليکل شوي دي او د عربي اصطلاحاتو مأخذونه: «جواهر البلاغة»، «مطول» او «مختصر المعاني» دي هېله لرو چې لوستونکو په غور لوستی وي، ځان يې پرې پوه کړی وي او بيا يې په دې هکله څه ويلي وي، ځکه:

«څوک چې په څه نه پوهېږي د ښمني ورسره کوي»

عبدالرحيم مسلم دوست

پېښور

۱۴۲۱/۹/۱۲ هـ. سپوږميز

۱۳۷۹/۹/۱۹ هـ. لمريز

د لیکوال لنډه پیژندنه

نوم یې عبدالرحیم مسلم دوست او د پلار نوم یې حاجي عبدالمنان (مرحوم) دی. د حاجي عبدالحنان لمسی او د غازي صوفي محمد عالم- چې په صوفي صاحب عالم گل مشهور ؤ- لمسی دی.

په ۱۳۳۸ هـ. لمریز کال د ننگرهار د کوټ صاحبانو کلي کې زیږېدلی دی؛ په ختیه ستانکزی دی.

لومړنۍ زده کړه یې د کوټ لاغرجوی په لومړني ښوونځي کې کړې ده، ثانوي او عالي زده کړې یې د مزار أسدیې، د ننگرهار نجم المدارس، پېښور حدیقة العلوم، إسلامي مرکز او الجامعة الأثریه کې کړې دي.

په ۱۳۵۷ هـ. لمریز کال یې هجرت کړی دی، د «إحیاء الدعوة الاسلامیه» په نامه د یوې ادارې بنسټ یې ایښی دی، د افغانستان د «لجنة الدعوة و التعلیم» د شورا غړی دی او دلاندینیو مجلو مؤسس او خپروونکی دی:

۱- «زېری» پښتو او فارسي ژبو کې.

۲- «الإحسان» عربی ژبه کې.

۳- «دعوت» اردو ژبه کې.

PROPERTY OF ACKU 12119

د ليکوال چاپ او ناچاپ آثار

ليکني:

۱- ضياء التوحيد. په پښتو ليکل شوی، فارسي او اردو ته ژباړل شوی دی (چاپ).

۲- اتباع الرسول. په پښتو ليکل شوی، فارسي او اردو ته ژباړل شوی دی (چاپ).

۳- دعاء النبی. په پښتو ليکل شوی، فارسي او اردو ته ژباړل شوی دی (چاپ).

٤- فقه الآثار. دريم ټوک چاپ ته تيار دی او په نور کار روان دی.

۵- خوره ژبه (همدا اثر).

٦- شعر او قافيه (ناچاپ).

۷- گردی مېز (د طنزونو ټولګه) (ناچاپ).

۸- کشف الإبهام. (عربي، چاپ).

۹- ايضاح الأدلة. (عربي، چاپ).

۱۰- القلائد الوضيئة (عربي، ناچاپ).

۱۱- ملاک العزة و التمکين. (عربي، ناچاپ).

شعر:

۱۲- د حق گونگسی. (چاپ).

۱۳- د زړه انځور. (ناچاپ).

پښتو ته ژباړې:

۱٤- رفع الملام. (چاپ).

۱۵- د أهل سنت و الجماعت ځانگړي صفتونه. (چاپ).

۱٦- په اسلام کې دوستي او دښمني. (چاپ).

۱۷- د سلفي دعوت علمي بنسټونه. (چاپ).

۱۸- پاکې کلمې. (ناچاپ).

۱۹- سلطاني ډالۍ. (ناچاپ).